د افغانستان اسلامي جمهوریت

د لوړو زده کړو وزارت

د خصوصي پوهنتونونو ریاست

د سلام پوهنتون

د شرعیاتو او قانون پوهنځی

د تفسیر او حدیث د ماسترۍ پروګرام


# مال او د هغه لاسته راوړل د قرآنکریم په رڼا کې

د ماسترۍ رساله


محصل : عزیز الله ( جبارخیل )

لارښود استاد: دکتور فصیح الله ( عبدالباقي)


کال :

۱۳۹۷ هـ ش

د افغانستان اسلامي جمهوریت

د لوړو زده کړو وزارت

د خصوصي پوهنتونونو ریاست

د سلام پوهنتون

دشرعیاتو او قانون پوهنځي

د تفسیر او حدیث د ماسترۍ پروګرام

# مال او د هغه لاسته راوړل د قرانکریم په رڼا کې

## د ماسترۍ رساله

**محصل : عزیز الله ( جبارخیل )**

**لارښود استاد: دکتور فصیح الله ( عبدالباقي).**

**کال :** **۱۳۹۹ هـ ش**


بسم الله الرحمن الرحيم

# سلام پوهنتون

## د شرعیات اوقانون پوهنځی

### د تفسیر او حدیث دیپارتمنت

### د ماسترۍ بورډ

# تـــصـديق نـــامـــه

ښاغلی عزیز الله(جبارخیل) د محمد حکیم زوی د ID: Sh-mst-96-244 نمبر لرونکی، د تفسیر او حدیث د دریمی دوری محصل د ماستری مرحلی رساله چی عنوان یی: مال او دهغی لاسته راوړنه د قرآن کریم په رڼا کی دی، د سه شنبې ورځ په ۲۴/۱۰/۱۳۹۸ هـ ل نیټه یی په بریالیتوب سره دفاع کړه او د حکم پلاوي د ارزونی پر اساس د ۸۸ (نمرو په عدد) اته اتیا نمری (نمرو په حروفو) مستحق وګرځید، له الله تعالی څخه ورته د لازیاتی بریا غوښتونکي يو.

حکم پلاوی:

| ګڼه | داستاذ نوم | عضویت | لاسلیک |
|---|---|---|---|
| ۱ | دکتور محمد اسماعیل احدی | دحکم پلاوي عضو | |
| ۲ | استاذ شکر الله مخلص | د حکم پلاوي عضو | |
| ۳ | دکتور فصیح الله عبد الباقي | لارښود او دحکم پلاوي مشر | |

دماسترۍ د بورډ آمر ________

علمی مرستیال ________

## ډالۍ

دا رساله په لومړي قدم کې خپلې ګرانې مور جانې ته ډالۍ کوم ، کوم چې خبرى يې راته زده کړي دي او په لومړى ځل يې را ته د قلم نيولو هنر زده کړى دى ،بيا مې خپل خوږ پلار جان ته ډالۍ کوم چې تر دې دمه يې د ژوند په ټولو چارو کې له مادي او معنوي ملاتړه برخمن يم .

او زما ټولو محترمو ښونکو ته په خاصه توګه خپل قدرمن لارښود داکتر صاحب فصيح الله عبدالباقي ته د ډالى وي چې د تيزس په ليکلو کې يې راسره پوره مرسته کړې ده.

عزيزالله ( جبارخيل)

# مننلیک

د ماستری دوره مې د الله تعالی په فضل سره پای ته ورسوله ، په دی جریان کې د ډیرو ملاتړ را سره وو او په خپلو دعاګانو کې یې یاد ساتلی یم ، په همدې اساس په ترتیب سره د خپلې کورنی څخه مننه کوم چې تل یې د مینی په غیږ کې د راحت احساس کوم .

بیا له خپل ګران او زړه ته رانږدې لارښود استاد ښاغلې(دکتور فصیح الله عبدالباقي) څخه د زړه له کومې مننه کوم چې د رسالې د لیکلو پر مهال یې له ما سره نه ستړی کیدونکې هلی ځلی وکړی او نوموړي په خپل زیار سره وتوانولم چې خپله رساله تکمیل کړم ، تر څنګ یې له خپلو ټولو درنو او قدرمنواستادانو څخه ډیره مننه کوم چې په ځانګړې مهربانۍ یې راته د ژوند په مختلفو برخو کې ډیر څه را زده کړل ، له خپلو ملګرو او همکارانو څخه هم ډیره مننه کوم چې تل یې په خپلو دعاګانو کې یاد ساتلی یم او ان یې په مادي او معنوي لحاظ زما لاسنیوی کړی ، تر دې چې خپلې لوړی زده کړی مې د ماستری تر کچې ورسولی .

الله تعالی دې ټولو ته ددوی د ښیګڼو او اخلاص پوره بدله ورکړي.

په درنښت

## د څیړنې لنډیز

دا بحث د قران عظیم الشأن په رڼا کې د مال په هکله لیکل شوی ده او د سریزې سربېره په درېوو فصلونو او یوې پایلې مشتمل دی .

په سریزه کې د موضوع اهمیت، د غوره کولو اسباب ، موخو، د بحث د لیکلو پر مهال د راپیښو شویو ستونزو ، د موضوع مخینې ، د بحث د لیکلو د بنې او د بحث د خطې په اړه خبرې شوي دي.

لمړی فصل درې مبحثونه لري چې په لومړي مبحث کې دمال پیژندنه د قرانکریم په رڼا کې، د مال ارزښت، دمال د لاسته راوړلو لپاره روا هڅه او زیار په جلا جلا مطالبو کې څیړل شوې دي.

په دې فصل په اول مبحث کې دا بحث شوی چې هر هغه شی چې د ملکیت قابلیت ولري مال ورته ویل کیږي ،همدارنګه مال هغه څه ته ویل کیږي چې د انسان طبیعت ورته میلان کوي او په اصطلاح کې مو بیا مال داسې تعریف کړی چې څارویو او هر هغه څه چې له دوی او ددوی له اولادې لاس ته راځې مال ورته ویل کیږي ، همدارنګه هر هغه څه چې د ضرورت په وخت کې مشکل پرې حل شي مال ورته ویل کیږې همدارنګه په دی فصل کې د مال د ارزښت په هکله بحث شوی او دا مو په کښې بیان کړي چې د مال لفظ د قران عظیم الشأن په ایتونو کې ( ۸۶) ځله په مفرد ، جمع ، نکرة او معرفه شکل ذکر شوی چې ددې لفظ ذکر کیدل په مکرر ډول د مال په اهمیت او ارزښت دلالت کوي .

همدارنګه په دی فصل کې مو دا هم بیان کړې چې انسان باید دمال د لاسته راوړلو لپاره روا هڅه او زیار وکړي او په خپل زیار او تکلیف سره مال لاسته راوړي ، د همدې فصل په دویم مبحث کې په دی بحث شوی چې د مشروع کسب ډولونه غنیمت، فئ،

نفل او تجارت دي او ددې کسبونو له لارې يو انسان کولای شې مال لاسته راوړي ، په همدې بحث کې مو غنيمت داسې تعريف کړ چې عبارت دی له : هغه مال څخه چې د مسلمانانو له طرفه د کفارو څخه په جنګ کې په زور ونيول شي ، فئ مو داسې تعريف کړ چې له هغه مال څخه عبارت دی چې مسلمانانو له کفارو نيولی وي خو په نيولو کې يې له زور څخه کار نه وي اخيستی ، نفل مو بيا داسې تعريف کړ چې له هغه مال څخه عبارت دی چې امير يې ځينو مجاهدينو ته دهغوی د ښې کارکردګۍ له وجې د غنيمت له برخې زيات ورکړي او تجارت مو بيا داسې تعريف کړ چې د مال اړولو راړولو ته د ګټې په خاطر تجارت ويل کيږي .

د همدې فصل په دريم مبحث کې مو بيا د انبياؤو ( عليهم السلام) کسبونو ته د قران کريم اشاره ذکر کړی او دا مو په کې بيان کړي چې انبياؤو ( عليهم السلام ) پسونه څرولې، ځينو يې اهنګرې کړې ، ځينو يې ختمالې او ځينو يې نجارې کړيده او هريوه ددوې له دی لارې مال لاسته راوړی دی.

دويم فصل د مال د لاسته راوړلو وسايلو ته ځانګړی شوی چې دا فصل بيا په دوه مبحثونو او څوارلسو مطالبو مشتمل دی په لومړې مبحث کې د حلال مال د لاسته راوړلو وسايل ذکر شوی او دا په کې بيان شوی چې د حلال مال د لاسته راوړلو وسايل عبارت دي له وصيت ، ميراث ، زکات، هديه ، ديت او تجارت څخه .

په دويم مبحث کې د حرام مال د لاسته راوړلو وسايلو باندې بحث شوی او دا په کې بيان شوی چې د حرام مال د لاسته راوړلو وسايل عبارت دي له زنا ، سحر، د بتانو جوړول، د شرابو پلورل ، غلا کول ، غصب، رشوت، سود څخه .

دريم فصل په دوه مبحثونو او څلورو مطلبونو مشتمل دی ، په لومړي مبحث کې دا بيان شوی چې د حلال مال د لاسته راوړلو پآيلې څه دي چې دا مبحث بيا په دوه مطلبونو مشتمل دی، په لومړي مطلب کې دا بيان شوی چې د حلال مال د لاسته

راوړلو پايلې په دنيا کې کومې دي او په دويم مطلب کې دا بيان شوی چې د حلال مال د لاسته راوړلو پايلې په اخرت کې کومې دي .

په دويم مبحث کې دا بيان شوی چې د حرام مال د لاسته راوړلو پايلې کومې دي يعنې که چيرته يو څوک د حرامو لارو څخه مال لاسته راوړي نو پايله به يې څه وي چې دا مبحث هم بيا په دوه مطلبونو مشتمل دی ، په لومړي مطلب کې دا بيان شوی چې د حرام مال د لاسته راوړلو پايلې په دنيا کې کومې دي او په دويم مطلب کې مو دا بيان کړي چې د حرام مال د لاسته راوړلو پايلې په اخرت کې کومې دي ، هر يو ددې موضوعاتو څخه په خپل ځای کې په تفصيلي ډول څيړل شوی چې که چيرته څوک غواړي د هرې موضوع په هکله مفصل معلومات لاسته راوړي کولای شي هغه ځای ته مراجعه وکړي چيرته مې چې موضوع څيړلې ده او په اخر کې د تحقيق پايله ، وړانديزونه ، د ايتونو لړليک ، د احاديثو لړليک ، د اعلامو لړليک او مراجع ذکر شوی دي.

## د موضوعاتو نوملړ

پیلیزه ........ 1
دڅیرني ارزښت ........ 1
دڅیرني موخې ........ 1
د څیرني د مسئلی طرحه ........ 2
دڅیرني دغوره کولو لاملونه ........ 3
د څیرني په جریان کې ستونزې ........ 3
د څیرني مخینه ........ 4
د څیرني کړنلاره ........ 4
د څیرني دجوړښت پلان ........ 5
لومړی فصل: دمفاهیمو پیژندنه او مقدماتی مباحث ........ 9
لومړی مبحث : د مال تعریف ........ 11
لومړی مطلب: الف: مال په لغت کې ........ 11
ب: مال په اصطلاح کې ........ 11
دوهم مطلب: دقران په رڼا کې د مال ارزښت ........ 13
دریم مطلب: د مال د لاس ته راوړلو لپاره روا هڅه او زیار ........ 18
دویم مبحث: د مشروع کسب ډولونه ........ 25
لومړی مطلب: غنیمت ........ 25
دویم مطلب : فئ ........ 33
د(فئ) مالونو تقسیم ........ 35
دریم مطلب: نفل ........ 36
څلورم مطلب : تجارت ........ 38
دریم مبحث : د انبیاؤو ( علیه السلام ) کسبونو ته د قرانکریم اشاره ........ 45
لومړی مطلب: څرول ........ 45
دویم مطلب: اهنګري ........ 47
دریم مطلب: نجاري ........ 51
څلورم مطلب: ختمالي ........ 53

دویم فصل : دمال لاسته راوړلو وسایل ........................................ 57
لومړی مبحث : د حلال مال د لاسته راوړلو وسایل ........................................ 60
لومړی مطلب: وصیت : الف: وصیت په لغت کې ........................................ 60
ب: وصیت په اصطلاح کې ........................................ 60
دویم مطلب: میراث ........................................ 65
الف: میراث په لغت کې ........................................ 65
ب: میراث په اصطلاح کې ........................................ 65
ج: د میراث ارکان ........................................ 65
دریم مطلب : زکات ........................................ 67
د زکات مستحقین ........................................ 72
څلورم مطلب : هدیه ........................................ 74
دهدیې او صدقې تر منځ توپیر ........................................ 74
پنځم مطلب: دیت ........................................ 77
شپږم مطلب: تجارت ........................................ 79
دویم مبحث : د حرام مال د لاسته راوړلو وسایل ........................................ 84
لومړی مطلب: زنا : الف : زنا په لغت کې ........................................ 84
ب: زنا په اصطلاح کې ........................................ 84
دویم مطلب : سحر ........................................ 88
د سحر له لارې د مال لاسته راوړل ........................................ 90
دریم مطلب: د بتانو جوړولو له لارې ........................................ 91
څلورم مطلب: د شرابو جوړولو له لارې د مال لاسته راوړل ........................................ 95
پنځم مطلب: دغلا له لارې د مال لاسته راوړل ........................................ 98
شپږم مطلب : د غصب له لارې د مال لاسته راوړل ........................................ 101
اووم مطلب: د رشوت له لارې د مال لاسته راوړل ........................................ 102
اتم مطلب: د سود له لارې د مال لاسته راوړل ........................................ 105
دریم فصل: د حلال او حرام مال د لاسته راوړلو پایلې ........................................ 108
لومړی مبحث: د حلال مال د لاسته راوړلو پایلې ........................................ 109
لومړی مطلب: د حلال مال د لاسته راوړلو پایلې په دنیا کې ........................................ 109
دویم مطلب: د حلال مال لاسته راوړلو پایلې په اخرت کې ........................................ 115

دویم مبحث: دحرام مال لاسته راوړلو پایلی ........................................ 119
لومړی مطلب: دحرام مال د لاسته راوړلو پایلې په دنیا کې ........................................ 120
دویم مطلب : د حرام مال د لاسته راوړلو پایلې په اخرت کې ........................................ 125
پایله ........................................ 128
د ایتونو لړلیک ........................................ 131
د احادیثو لړلیک ........................................ 138
د اشخاصو لړلیک ........................................ 142
د مأخذونو لړلیک ........................................ 143

# پیلیزه

الحمد لله والشکر له وهو الشکور الحمید، منزل الْقُرْآن هدى ورحمة، والصلاة والسلام والبرکات على سیدنا ورسولنا ونبینا وحبیبنا أبي القاسم مُحَمَّد بن عَبْد الله، صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وعلى آله وصحبه وتابعیه اجمعین .

**أما بعد:**

**د مال سره مینه او د هغه لاسته راوړل د انسان د طبیعي عاداتو او خصوصیتونو له جملې څخه شمیرل کیږي او د دنیوي ژوند د ښایست مهمه منبع هم ده په دی هکله الله تعالى فرمایي (الْمَالُ وَالْبَنُونَ زِينَةُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا...)[1].**

**ترجمه : مال ( ددنیا ) او زامن ( چې په کې اخروي مفاد نه وي ) زینت ( رونق ) ښایست ددې ژوندون لره خسیس دي.**

**همدارنګه انسان د مال د لاسته راوړلو لپاره ډیره هڅه کوي چې دا هڅه کله نا کله د انسان څخه د هغه د روا او ناروا لارو تفکیک ورکوي یا خو هم بغیر له دی چې روا او ناروا لارې پې وپیژني هغه لاسته راوړي نو دهمدې موضوع دښه وضاحت په خاطر ما دا لازمه وګڼله چې مال او دهغه د لاسته راوړلو موضوع د قرانکریم په رڼا کې و څیړم تر څو د یو مسلمان لپاره داجوته شي چې د مال لاسته راوړلو لپاره کومې روا لارې دي تر څو له هغو لارو څخه مال لاسته راوړي او کومې لارې ناروا دي تر څو د هغو لارو د مال له لاسته راوړلو څخه ډډه وکړي چې په نتیجه کې به یې د دواړو دارینو سعادت په برخه وي.**

## دڅیړنې ارزښت

مال داسې موضوع ده چې زیات ارزښت لري او د هغه مهمو موضوعاتو له جملې څخه شمیرل کیږي چې قرانکریم او نبوي سنتو ورته پاملرنه کړې ده او دا د قرانکریم له ډیری ایاتونو څخه روښانه کیږي چې د مال موضوع په اړه راغلي دي .

همدارنګه د مال موضوع د مسلمانانو د ژوند له مهمو قضایاوو څخه شمیرل کیږي چې اسلام مسلمانان ورته متوجه کړي دي ، دهغه د لاسته راوړلو اسباب، ډولونه ، مثالونه او له حرام مال څخه د ځان ساتنې لارې چارې یې ورته په ګوته کړې دي ترڅو یو مسلمان په خپل ژوند کې ځان ترې وساتي.

دا هغه څه دي چې په دې بحث کې به وڅیړل شي له الله ( جل شأنه ) څخه د مرستې او استقامت غوښتنه کوم.

## دڅیړنې موخې

۱- دا چې الله تعالى را څخه راضي شي .

[1] - الکهف، ایت ۴۶.

۲- دا چې مسلمانان د مال د لاسته راوړلو درستې او نادرستې لارې وپيژني.

۳- دا چې مسلمانان دحرام مال د لاسته راوړلو د لارو له عقوبت څخه خبر شي.

3- چې خپل هغه مسوليت ادا کړم کوم چې د ماسترئ بورد لخوا هرمحصل ته د ماسترئ د دورې د تکميل پرمهال د يوې ليکنې دنده سپارل کېږي.

## د څېړنې د مسئلی طرحه

مال هغه شی دی چې انسان په دنيا کې وربانديې ازمايل کيږي او دا د ازموينې يوه ستره وسيله ده ، قران عظيم الشأن هم نوموړې موضوع ته توجه کړې ده ، دا چې ولې قران عظيم الشأن نوموړې موضوع ته توجه کړې د لاندې سوالونو په وسيله به ورته ځواب پيدا کړو.

اصلي سوالونه

۱- مال څه شی دی ؟

۲- مال په کومو لارو لاسته راوړل کيږي ؟

۳- د حلال مال د لاسته راوړلو لارې کومې دي ؟

۴- کوم مال ته حرام ويل کيږي ؟

۵- د حلال مال د لاسته راوړلو نتايج په دنيا کې کوم دي؟

۶- د حلال مال د لاسته راوړلو نتايج په اخرت کې کوم دي؟

۷- د حرام مال د لاسته راوړلو نتايج په دنيا کې کوم دي؟

۸- دحرام مال د لاسته راوړلو نتايج په اخرت کې کوم دي؟

فرعي سوالونه

۱- وصيت څه ته ويل کيږي او ايا په وصيت سره هم مال لاسته راوړل کيږي؟

دا او ديته ورته نور سوالونه هغه څه دي چې د څېړنې په جريان کې به ورته ځواب ووايو له الله تعالی څخه د توفيق غوښتونکئ يم .

## دڅېړنې دغوره کولو لاملونه

زما د موضوع (مال او دهغه لاسته راوړل د قرانکريم په رڼا کې ) د غوره کولو اسباب په لاندې ډول دي .

۱- دا چې قرانکريم نوموړې موضوع ته ځانګړې پاملرنه کړې ده چی دا له ډيری اياتونو څخه په واضح ډول معلومېږي ، همدارنګه نبوي سنتو هم نوموړې موضوع ته ځانګړې پاملرنه کړې ده .

۲- د سلفو پاملرنه نوموړې موضوع ته چې په اړه يې څه نا څه ليکنې کړې دي خو هغه مسائل او موضوعات چې زه يې دلته په دې رساله کې بيانوم اکثراً يې په هغه ليکنو کې نه ليدل کېږي .

۳- د ننی زمانې ضرورت د مالي قضاياوو په برخه کې قراني درملنې ته .

۴- د ډيری خلکو غفلت چې دمال د جائزو او ناجائزو لارو لاس ته راوړي او يې ترمنځ تفکيک نه کوي .

۵- په اوسنی زمانه کې د حرام مال د لاسته راوړلو لارو ډيروالی او د حلالو او حرامو لارو نه تفکيم کول .

۶ – په حلال کسب باندې د اسلام د مبارک دين تأکيد او حرام کسب څخه منع .

پورتني ټول لاملونه ما ته د يادې موضوع د اهميت قناعت راکوي چې څېړنې ته ضرورت لري ، نو ځکه ما (مال او د هغه لاسته راوړل د قرانکريم په رڼا کې ) موضوع انتخاب کړه .

## د څېړنې په جريان کې ستونزې

ددی بحث په ليکلو کې له هغو ستونزو سره چې زه مخ شوی يم هغه په لاندی ډول دي :

۱- د مال په هکله د يادونو را ټولول چې يو ستونزمن کار وو او کافي وخت يې واخيست.

۲- د سترو او معلومو کتابتونونو نه شتون

۳- دموضوع پيچلتيا چې ډير دقت ته يې ضرورت درلود.

# د څېړنې مخينه

له سلفو څخه هغه څه چې د مال په اړه راغلي دي په دې برخه کې يو قيمتي ميراث دی ، هغوی دمال موضوع ته چې د انسانانو په ژوند کې د ډير اهميت لري ډيره پاملرنه کړې ده ،ځينو يي د مال او هغه څه چې له مال سره تړاو لري خپلو تاليفاتو يو جزء يا فصل او يا هم باب نوموړې موضوع ته ځانګړې کړی ده چې څو مثالونه يې د مخينې په ډول راوړم.

١- اصول العقود المالية في ضوء القران الكريم ، د ماسترى رساله ، تأليف : يهوذا حسين

٢- حقوق عينې ، تأليف استاد غفور احمد ( غزنوې ) .

د يادونې وړ ده چې ددې تأليفاتو تر څنګ نوموړې موضوع د هغې د اهميت په اساس مستقلې څېړنې ته ضرورت لري.

**د څيړنې کړنلاره** : ددې موضوع په څېړنه کې په موضوعي منهج او ډير کم په تحليلي منهج او تګلاره باندې بسنه شوې ده او د مال لفظ په اړه د قرانکريم هغه اياتونه چې نوموړی لفظ په کې راغلي دی او د اياتونو مدلولات او معانی د معتمدو تفاسيرو څخه چې په نوموړې موضوع کې اساسې مصدر شميرل کيږي، په استفادې څېړل شوي دي او نورو هغو منابعو او مصادرو څخه استفاده شوې ده چې نوموړې موضوع سره تړاو لري همدارنګه د بحث په ليکلو کې مې هغه بنه خپله کړې چې خپل لاربښود استاد راته ښوونه کړې ده او د څېړنې په کړنلاره کې لاندې نکتو کې اشاره کوم

١- په لومړي قدم کې په قرانکريم اعتماد او همدارنګه په ډيرو مباحثو کې په احاديثو اعتماد شوی دی.

٢-لفظاً او معناً د قرانکريم د اياتونو څېړنه او د هغوی تفسير د مفسرينو داقوالو په رڼا کې چې دمال او د هغه د لاسته راوړلو په هکله راغلي دې

٣- په تفاسيرو، احاديثو او د کتابونو په اصلې مصادرو اعتماد .

۴- دڅېړنې په جريان کې دنبوي احاديثو تخريج او دهغوی د درجې بيانول.

۵- په کتابتونو کې د ځینو کتابونو د نه شتون پر مهال مې پلټنه کړې چې له مکتبة الشاملة استفاده وکړم او يا هم په انټرنټ کې د اصلی کتاب پی ډی اف بڼه پیدا کړم او بیا له هغه څخه اقتباس وکړم .

۶- په بحث کې مې هڅه کړې چې اسانه او روانه پښتو ژبه په کې وکاروم ترڅو هر لوستونکی ته يې لوستل اسان او وربانديې ویوهیږی.

۷- د قران کریم او احاديثو نصوصو پښتو ژباړه مې د هر نص په پای کې کړې ده البته د قرانکریم د ایتونو ژباړه مې له کابلي تفسیر له پښتو ترجمې څخه کړیده .

۸- د مراجعو او مصادرو يادونه مې د پاڼې په پای کې نقل کړې دي

۹- دهر عنوان په اړه مې لومړی د لغت د کتابونو، تفسیرونو او نورو مهمو کتابونو چې موضوعاتو پوری يې تړاو درلود استفاده کړې ، چې د هر مطلب په پای کې مې د شمیرې په ذکرکولو او بیا د ورقې په پای کې د کتاب نوم ، جلد او صفحې په ذکرکولو سره ورته اشاره کړې ده .

۱۰- د بحث له اوږدوالي څخه د ځان ژغورنې په خاطر مې ځینې اوږده مطالب لنډ او مختصر کړې دي خو په څنګ کې مې ورته د اړوند کتاب حواله د پاڼې په پای کې ورکړې ده .

۱۱- په بحث کې د یاد شوو علماوو لنډه پیژندنه مې د پاڼې په پای کې له حوالې سره ذکر کړې ده .

۱۲- په څیړنه کې د مشهورو اعلامو ترجمه نه ده ذکر کړې لکه پیغمبران ، صحابه .

## د څیړنې دجوړښت پلان

زما دغه لیکنه په پیلیزه ، درې فصلونو ، پایلې ،وړاندیزونو او لړلیکونو مشتمله ده چې په لاندې ډول بيانيږي: پیلیزه مشتمله ده دموضوع اهمیت ،دموضوع د ټاکنې په لاملونو ،دموضوع په اهدافو ، په دی موضوع کې په مخکنیو لیکنو ، دموضوع په کړنلاره ،د موضوع جوړښت په پلان .

**لومړی فصل : مال**

په لمړي فصل کې درې مبحثونه شامل دي چې لومړي مبحث په درې مطالبو مشتمل دی چې په کې د مال لغوي پیژندنې ، اصطلاحي پیژندنې ،د قران نکریم په رڼا کې د مال ارزښت دمال د لاسته راوړلو لپاره روا هڅه او زیار ، چې هر يو يې په جلا جلا مطالبو کې څیړل شوې دي.

**دا مبحث په درې مطلبونو مشتمل دی**

لومړی مطلب:د مال لغوي او اصطلاحي تعريف

دويم مطلب: دقران په رڼا کی د مال ارزښت

دريم مطلب: د مال لاسته راوړلو لپاره روا هڅه او زيار

په دويم مبحث کې د مشروع او روا کسب په ډولونو باندې بحث شوی او دا په کې بيان شوی چې د مشروع کسب ډولونه کوم دي، چې دا مبحث په څلورو مطلبونو مشتمل دی

دويم مبحث:دمشروع کسب ډولونه

لومړی مطلب: غنيمت

دويم مطلب:فئ

دريم مطلب: نفل

څلورم مطلب: تجارت

په دريم مبحث کې د انبياؤو ( عليهم السلام) په کسبونو باندې رڼا اچول شوی او دا په کې بيان شوې چې انبياؤو ( عليهم السلام) کوم کسبونه کړي دي او دا مبحث په څلورو مطالبو مشتمل دی.

**لومړی مطلب:**څرول

دويم مطلب: اهنګري

دريم مطلب: نجاري

څلورم مطلب: ختمال

**دويم فصل:**

په دويم فصل كې دوه مبحثونه شامل دي ،چې په لومړي مبحث كې د حلال مال د لاسته راوړلو وسايل بيان شوې او په دويم مبحث كې د حرام مال د لاسته راوړلو وسايل بيان شوى دي چې هريو ددې موضوعاتو په جلا جلا مطالبو كې څيړل شوې دي .

**لومړى مبحث** : د حلال مال د لاسته راوړلو وسايل

**دويم مبحث** : د حرام مال دلاسته راوړلو وسايل

**لومړى مطلب:** وصيت

**دويم مطلب:** ميراث

**دريم مطلب** : زكات

**څلورم مطلب:** هديه

**پنځم مطلب:** ديت

**شپږم مطلب:** تجارت

**دويم مبحث:** د حرام مال د لاسته راوړلو وسايل

**لومړى مطلب: د زنا له لارى**

**دويم مطلب: د سحر له لارې**

**دريم مطلب: د بتانو جوړولو له لارې**

**څلورم مطلب: د شرابو پلورلو له لارې**

**پنځم مطلب:** د غلا له لارې

شپږم مطلب: د غصب له لارې

اووم مطلب: د رشوت له لارې

اتم مطلب: د سود له لارې

**دريم فصل :**

په دریم فصل کې دوه مبحثونه شامل دي چې د حلال مال د لاسته راوړلو پایلې او همدارنګه د حرام مال د لاسته راوړلو پایلې دي چې هریو ددې موضوعاتو په جلا جلا مطالبو کې څېړل شوی دي ،

**لومړی مبحث** : د حلال مال د لاسته راوړلو پایلې

**لومړی مطلب**: د حلال مال د لاسته راوړلو پایلې په دنیا کې

**دویم مطلب**: د حلال مال د لاسته راوړلو پایلې په اخرت کې

**دویم مبحث**: د حرام مال د لاسته راوړلو پایلې

**لومړی مطلب** : د حرام مال د لاسته راوړلو پایلې په دنیا کې

**دویم مطلب**: د حرام مال د لاسته راوړلو پایلې په اخرت کې

په اخیر کې د ټولې څېړنې خاتمه او نتیجه ذکر شوی او همدارنګه وړاندیزونه، د قران عظیم الشأن د ایتونو فهرست ، د احادیثو فهرست ، د اعلامو فهرست ، او د کتابونو فهرست ذکرشوی دی.

خدای د وکړي چې د موضوع اړوند اړخونو په څېړلو توانیدلی واوسم او د ماستری دا رساله لوستونکو ته ګټوره تمامه شي

ومن الله التوفیق

## لومړی فصل: دمفاهيمو پيژندنه او مقدماتی مباحث

**لومړی مبحث: د مال تعريف**

لومړی مطلب:دمال لغوی او اصطلاحی تعريف

دويم مطلب: دقران په رڼا کی دمال ارزښت

دريم مطلب: دمال لاسته راوړلو لپاره روا هڅه او زيار

دويم مبحث:دمشروع کسب ډولونه

لومړی مطلب: غنيمت

دويم مطلب:فئ

دريم مطلب: نفل

څلورم مطلب: تجارت

دريم مبحث: انبياءعليه السلام کسبوته دقران کريم اشاره

**لومړی مطلب:**څرول

دويم مطلب: اهنګري

دريم مطلب: نجاري

څلورم مطلب: ختمالي

## لومړی مبحث : دمال تعریف

### لومړی مطلب: دمال لغوی او اصطلاحي تعریف

### دویم مطلب: دقران په رڼا کی دمال ارزښت

### دریم مطلب: دمال لاسته راوړلو لپاره روا هڅه او زیار

## لومړی مبحث : د مال تعريف

**لومړی مطلب: الف: مال په لغت کې** : ابن منظور[1] يې داسې تعريفوي : هر هغه شی چې هغه د ملکيت قابليت ولري مال ورته ويل کيږې او د مال جمع اموال دی [2]

ابن الأثير[3] يې داسې تعريفوي : سرو زرو او سپينو زرو ته مال ويل کيږي ، او دعربو په نزد د مال اطلاق اکثراً په اوښانو کيږې ، ځکه د هغوی اکثره مال اوښان دي ،په پخوانيو زمانو کې صرف سرو زرو او سپينو زرو ته مال ويل کيده اما وروسته هر هغه شي چي د ذخيره کولو او ماليکيت قابليت پيدا کړ ورته مال وويل شو[4].

( المال ما يميل اليه الطبع ) [5] مال هغه څه ته ويل کيږې چې د انسان طبيعت ور ته ميلان کوي ،

او مال ته ځکه مال وايې چې د انسان طبيعت ورته ميلان کوي [6]

ابن فارس[7] وايي : اموال د مال جمع ده او مال يې ځکه مال ونوماوه  چې د زړه له کومې خلک دهغه په طرف باندې ميلان کوي او د لاس ته راوړلو هڅه يې کوي [8].

**ب: مال په اصطلاح کې**: دمال په اصطلاحي تعريف کې علماء اختلاف لري او دا اختلاف له دی وجې ده چې په عرف کې څه ته مال ويل کيږې او څه ته مال نه ويل کيږې ،تعريفونه زه په لاندې ډول را نقلوم :

---

[1] - محمد بن مکرم بن علي ابوالفضل جمال الدين بن منظور الانصاري الأفريقي دی چې د رويفع بن ثابت الأنصاري له اولادې څخه شميرل کيږي ،په په مصر کې په ۶۳۰هـ کې تولد شوی او چا ويلی چې د طرابلس په غربی برخه کې تولد شوی دی او په مصر کې په ۷۱۱ هـ کې وفات شوی ده ، له مشهورو کتابونو څخه يې (لسان العرب) دی . وګوره : زرکلي ،خير الدين بن محمود بن محمد ،ألاعلام ،دټوک ګڼه۷،دپاڼی ګڼه ۱۰۸، ۱۵ چاپ ،چاپ کال ۲۰۰۲م چاپ ځای : دارالعلم الملايين

[2] - ابن منظور ، محمد بن مکرم ، لسان العرب  چاپ ځای : دار الصادر- بيروت، باب اللام ، فصل الميم ، د ټوک ګڼه ۱۱، دپاڼې ګڼه ۶۳۵

[3] - المبارک بن محمد بن محمد بن عبدالکريم الشيباني الجزرې ، ابو السعادات ،په کال ۵۴۴هـ کې د ابن عمر په جزيره کې تولد شوی او بيا له نوموړې ځای څخه موصل ته تللی ده ، او هملته په کال ۶۰۶ هـ کې وفات شوی ده له مشهورو کتابونو څخه يې ( النهاية فی غريب الحديث ولأثر ) او ( جامع الاصول فی احاديث الرسول ) دی . وګوره : الاعلام للزرکلې ، ج ۵، ص ۲۷۲.

[4] - ابن الأثير، المبارک بن محمد ، النهاية فی غريب الحديث والأثر ، تحقيق : طاهر أحمد الزاوی – محمود محمد الطناحي ، چاپ ځای : المکتبة العلمية – بيروت ، د ټوکونو شمير ۵، د ټوک ګڼه ۴، د پاڼي ګڼه ۳۷۳

[5] - ابن نجيم ،زين الدين بن ابراهيم بن محمد ، البحر الرائق شرح کنز الدقائق د وفات نيټه ۹۷۰هـ ، دويم چاپ ، چاپ ځای : دار الکتاب الاسلامي ، د ټوکونو شمير ۸ ، د ټوک ګڼه ۵، د پاڼی ګڼه ۲۷۷

[6] - الموسوعة الفقهية ، وزارة الأوقاف والشؤن الاسلامې،چاپ کال :۱۴۰۴هـ ، د ټوکونوشمير۴۵، د ټوک ګڼه ۳۱، د پاڼی ګڼه ۲۷۹.

[7] - أحمد بن فارس بن زکريا  د (مقايس اللغة) تأليف کوونکی او يو د لغت او ادب له ائمه وو څخه شميرل کيږې ، له مشهورو کتابونو څخه يې ( تمام الصفيح ) او ( جامع التأويل ) دي. وګوره :وفيات الأعيان، د ټوک ګڼه ۱، د پاڼی ګڼه ۱۱۸، تحقيق :احسان عباس ، چاپ ځای :دارصادربيروت.

[8] - رازي ، أحمد بن فارس بن زکريا القزويني ،دوفات نيټه ۳۹۵هـ ، حلية الفقهاء ، تحقيق: د. عبدالله بن عبدالمحسن الترکي ، لومړی چاپ ، چاپ کال ۱۴۰۳هـ ، چاپ ځای الشرکة المتحدة للتوزيع – بيروت ، دټوکونو شمير ۱، ټوک ۱، دپاڼې ګڼه ۱۲۳.

۱- رازي[1] يې داسې تعريفوي : ( المال هوالماشية وما كسب من نسلها و نتاجها )[2] مال څارويو او هر هغه څه چې ددوی او ددوی له اولادې لاس ته راځي مال ورته ويل کيږي مګر دا دمثال په توګه دی

او محدود نه دی .

۲- ابن عاشور[3] يې بيا داسې تعريفوي: مال هغه څه ته ويل کيږي چې د ضرورت په خت کې مشکل پرې حل شي او دخلکو ضرورت ور باندې پوره شي په زحمت لاس ته راشي او د يو چا د زحمت ويستلو په صورت کې دهغه تقدير وربانديې وشي [4]

مګر دا تعريف د مال ټولو ډولونو ته نه شامليږي ځکه دلته داسې مالونه شته چې بغير له زحمت څخه هم لاس ته راځي لکه مهر ، ميراث ، هديه او داسې نور.

۳- شعراوي [5] يې بيا داسې تعريفوي : هر هغه څه چې هغه غوښتونکی ولري او په طرف يې ميلان کيږي مال ورته ويل کيږي[6].

غوره شوی تعريف: زما په اند مخکنيو تعريفونو ته په کتو هغه تعريف چې هغه د مال ټولو ډولونو ته شامليږي او دقيق راته معلوميږي هغه ( هر هغه څه چې هغه لاسته راوړونکی او ارزش ولري او د شريعت له نظره له هغه څخه ګټه پورته کول درست او صحيح وي او دخلکو په مينځ کې په هغه سره راکړه ورکړه وشي او په يو هيواد کې شرعاً او عرفاً د اعتبار وړ وي مال ورته ويل کيږي.

( او په يو هيواد کې مو ځکه قيد کړ چې عرفونه فرق کوي ، په يو هيواد کې يو څه ته مال وايي خو په بل هيواد کې همهغه څه ته ممکن مال ونه ويل شي لکه شراب ، د خنزير غوښه )

[1] - أبو عبدالله محمد بن عمر بن الحسن بن الحسين التيمي الرازی ،اصلاً دطبرستان خو په ( ري) کي په کال ۵۴۴هـ کې تولد شوی او همدی ځای ته يې نسبت کيږي ، خوارزم ، ماورالنهر او خراسان ته يې سفرونه کړي ، او په هرات کې په کال ۶۰۶هـ کي وفات شوی ده ، دمشهورو کتابونو څخه يې ( مفاتيح الغيب ) او ( معالم اصول الدين) دی. الاعلام للزرکلی ، ج۶، ص ۳۱۳.

[2] - رازي ، أبو عبدالله محمد بن عمر بن الحسن، التفسير الكبير(مفاتيح الغيب) ، دوفات نيټه ۶۰۶ هـ ، دريم چاپ، چاپ کال ۱۴۲۰هـ ، چاپ ځای : دار احياء تراث العربي – بيروت ، دټوک ګڼه ۳۲، دپاڼې ګڼه ۳۵۲

[3] - محمد طاهر بن عاشور په کال ۱۲۹۶هـ ش کې په تونس کی تولد شوی، تولد ، وفات او درسونه يې هم په نوموړی ځای سرته رسولي دي همدارنګه په خپل هيواد کې د مالکی فقهاوو رئيس وه او د مشهورو مصنفاتو څخه يې( مقاصد الشريعة الاسلامية) او التحرير والتنوير دي او په ۱۳۹۳هـ ق کی وفات شوی ده . وګوره : الاعلام ، للزرکلي ،ج۶،ص۱۷۴

[4] - ابن عاشور ، الشيخ محمد طاهر بن عاشور ، التحرير والتنوير ، چاپ ځای : دار سحنون للنشر والتوزيع – تونس، د ټوکونو شمير ، ۳۰ ، دټوک ګڼه ۲، دپاڼې ګڼه ۱۸۷.

[5] - محمد متولي الشعراوي فقهې عالم او مفسر د خپل عصر د جيدو علماوو څخه شميرل کيږي د مصر په دقهليه ولايت کې په کال ۱۳۲۹هـ کې تولد شوی ، د انور سادات د پادشاهۍ په وخت کې د مصر د حج او اوقافو وزير وټاکل شو ، په کال ۱۴۱۹ هـ کې وفات او د مشهورو کتابونو څخه يې ( تفسير الشعراوی) دی .

[6] - شعراوي ، محمد متولي ، تفسير الشعراوی ، د وفات نيټه ۱۴۱۹ هـ ، چاپ ځای مطابع أخبار اليوم ، د ټوکونو شمير ۲۰ ، دټوک ګڼه ۲، دپاڼې ګڼه ۷۳۱.

## دوهم مطلب: دقران په رڼا کې د مال ارزښت

دمال لفظ په قران عظیم الشأن کې شپږ اتیا ( ۸۶) ځله په مفرد ، جمع ، نکرة ، معرفة شکل ذکر شوی دی ، بی شکه چې مال او دارایي د انسان په ژوند کې ډیر مهم او اساسي رول لوبوي ، له اسلام څخه مخکې هم د ملتونو او خلکو تر منځ مال د هغوی په ژوند کې یو اساسي امر وو ، ځکه مال او دارایي د انسان د ژوند په ټولو برخو کې ضروري دی ، هیڅ انسان په خپل ژوند کې بې له مال څخه ترقي نه شي کولای او حتی په نړۍ کې هر انکشاف او پرمختګ په مال پورې تړلی دی ، له همدی امله د مال لفظ ذکر کیدل په قران کریم کې د مال په اهمیت او ارزښت باندې دلالت کوي او دا ثابتوې چې اسلام نوموړې موضوع ته خاصه پاملرنه کړې ده ، له همدې امله وایم چې مال ژوند دی ، ژوند په مال باندې ولاړ دی او بی له مال څخه ژوند په درسته او صحیح طریقه پر مخ نه ځي ، او په مال سره انسان د الله دا لویه ځمکه ابادوي ، په کومه کې یې چې انسان د خپل خلیفه په توګه ټاکلی ده ، نو مال ارزښت لري همدا وجه ده چې الله تعالی ( جل شأنه ) یو انسان بی عقلانو ته له مال ورکولو څخه منع کړیده ځکه هغوی مال په غلطو لارو استعمالوې الله تعالی فرمایي(**وَلَا تُؤْتُوا السُّفَهَاءَ أَمْوَالَكُمُ الَّتِي جَعَلَ اللَّهُ لَكُمْ قِيَامًا وَارْزُقُوهُمْ فِيهَا وَاكْسُوهُمْ وَقُولُوا لَهُمْ قَوْلًا مَعْرُوفًا**)[1].

ترجمه : او مه سپاری تاسې! بی عقلانو ته مالونه خپل هغه چې ګرځولي دي الله د پاره د تاسي سبب د ګزران او روزي ورکوي دوی ته په دی مالونو کې او جامې ورکوي دوی ته اوووایې دوی ته خبره معروفه ( نیکه او خوږه ) .

قرطبې[2] ددې ایت ددې برخې(**الَّتِي جَعَلَ اللَّهُ لَكُمْ قِيَامًا**)په تفسیر کې لیکې : د هغوی د ژوند تیرولو او ژوند کولو په اندازه ترې ورکوی او د هغوی ( یتیمانو) ددین د زده کړې لپاره ترې ورکوی او د هغوی له مال څخه یې تاسې مه مصرفوی[3].

بیا الله تعالی فرمایي (**...فَإِنْ آنَسْتُمْ مِنْهُمْ رُشْدًا فَادْفَعُوا إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ وَلَا تَأْكُلُوهَا إِسْرَافًا وَبِدَارًا أَنْ يَكْبَرُوا وَمَنْ كَانَ غَنِيًّا فَلْيَسْتَعْفِفْ وَمَنْ كَانَ فَقِيرًا فَلْيَأْكُلْ بِالْمَعْرُوفِ فَإِذَا دَفَعْتُمْ إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ فَأَشْهِدُوا عَلَيْهِمْ وَكَفَى بِاللَّهِ حَسِيبًا**)[4] .

---

[1] - نساء ، ایت ۵

[2] - محمد بن احمد بن أبی بکر بن فرج الأنصاري الخزرجي أندلسی دی ، په قرطبه کې زیږدلی او د قرطبی له لویو مفسرینو څخه شمیرل کیږې ، په کال ۶۷۱هـ ق کې وفات شوی ده له مشهورو کتابونو څخه یې (الجامع الاحکام القران ) ده . وګوره : الأعلام للزرکلي ،ج۵،ص۳۲۲

[3] - : قرطبي ، أبوعبدالله محمد بن آحمد بن أبي بكر ، الجامع الاحکام القران ،تحقیق : هشام سمیر البخاری، چاپ کال ۱۴۲۳هـ چاپ ځای :دارالعلم الکتب- ریاض،دټوک ګنه ۵، دپاڼې ګنه ۳۱

[4] - نساء ، ایت ۶

ترجمه : که ومونده تاسې له هغوی نه هوښياري ( په معاملاتو او دمال په ساتنه کې ) نو وسپارئ تاسې هغوی ته مالونه دهغوی او مه خورئ تاسې دا ( د يتيمانو ناپوهانو مالونه ) په اسراف سره ( چې له ضرورته زيات وي ) او په تيزی سره ( مخکې له حاجته د ويرې ددې) چې دوی به لوی شي ( نو وا به يې خلي) او هر څوک چې وي مالداره نو ښايي ځان پاک وساتی ( د يتيمانو له مالونو څخه) او هر څوک چې وي فقير نو خوري دی له دې مال څخه څخه په معروف( له دستور سره سم د مزدوری په اندازه)سره نو کله چې ورکړئ ( وسپارئ) تاسې دغو ( يتيمانو) ته مالونه د دوی نو شاهدان ونيسئ تاسې پر دوی باندې او کافي ( بس) دی الله په دې حال کې چې ښه حساب ( کوونکی او جزا ورکونکی دی ).

همدارنګه نبی کريم ( صلی الله عليه وسلم ) د مال له ضايع کيدو څخه منع کړی که هغه په هره لار وي هغه ( صلی الله عليه وسلم ) فرمايي ( **ان الله کره لکم قيل وقال وکثرة السؤال و اضاعة المال** )[1]

ترجمه : بې له شکه بد ګڼلې تاسو ته ډيرې خبرې ، ډيرسوالونه او د مال ضايع کول.

په ربښتيا سره هم کچيرته مال په درست او سم ډول استعمال شي ډير ګټور تماميږي نبي کريم (صلی الله عليه وسلم ) فرمايي ( **ما نفعني مال کمال أبی بکر** )[2].

ترجمه : هيڅ مال د ابوبکر د مال په اندازه ماته ګټه نه ده رسولې.

همدارنګه په بل حديث کې فرمايي (**نعم المال الصالح للرجل الصالح**)[3].

ترجمه : ډير ښه د مال صالح( چې له حلالو وي ) د صالح سړي لپاره دی ( ځکه د خير په کارونو کې يې مصرفوي).

په مال سره دولتونه په پښو دريږي او مؤسسات ، مدارس ، مکاتب ، شرکتونه او پوهنتونونه جوړيږي ، ژوند وربانديې ارامیږي او خوشحالي ورسره پيدا کيږي همدارنګه په مال سره په يو هيواد کې امن راځي.

[1] - مسلم ، مسلم بن الحجاج ابو الحسين القشيری النيسابوری ، صحيح مسلم ، تحقيق : محمد فواد عبدالباقی ، ناشر دار احياء التراث العربی – بيروت ، دټوکونو شمير۵، د ټوک ګڼه ۳، د پاڼې ګڼه ۱۳۴۰، د حديث نمبر ۵۹۳.

[2] - ابن ماجه ، أبو عبدالله محمد بن يزيد القزويني ، سنن ابن ماجه ، د وفات نيټه ۲۷۳هـ ، تحقيق : محمد فؤاد عبدالباقي ، چاپ ځای : دار احياء الكتب العربية، دټوکونو شمير ۲، د ټوک ګڼه ۱، دپاڼی ګڼه ۳۶، دحديث شميره ۹۴، الباني په خپل صحيح کې ورته صحيح ويلی د حديث نمبر ۲۷۱۸.

[3] - العسقلاني ، أحمد بن علی بن حجر،فتح الباري شرح صحيح البخاري، چاپ کال ۱۳۷۹هـ ش، چاپ ځای : دار المعرفة- بيروت، د جزونو شمير ۱۳، د ټوک ګڼه۸، دپاڼې ګڼه۷۵.الباني ورته صحيح ويلې وګوره : تبريزی، محمد بن عبدالله ، مشکاة المصابيح ، تحقيق : محمد ناصر الدين الباني ، دريم چاپ ، چاپ کال ۱۴۰۵هـ ، چاپ ځای المکتب الاسلامي – بيروت، د ټوکونو شمير ۳، د ټوک ګڼه ۲، د پاڼې ګڼه ۳۵۵.

او په مال سره جهاد لپاره تياری نيول کيږي ، جهاد له مال څخه بغير نه کيږي ، له همدې امله د قران عظيم الشأن په اکثرو ايتونو کې مال په نفس په جهاد کې لومړی اومقدم ذکر شوی الله تعالی فرمايي(**...وَجَاهَدُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ أَعْظَمُ دَرَجَةً عِنْدَ اللَّهِ وَأُولَئِكَ هُمُ الْفَائِزُونَ**)[1].

ترجمه : او جهاد يې کړی دی د الله تعالی په لار کې ( ددين د ترقۍ لپاره ) په مالونو خپلو ( چې په جهاد کې يې لګوي) او په ځانونو خپلو سره ( چې په غزا کې يې قربانوي) ډېر لوی دی ( له نورو نه ) ددرجې له جهته په نزد د الله تعالی او هم دغه ( ستايل شوی ) کسان هم دوی دي په مراد رسيدونکې.

اوله همدی وجې د جهاد تياری په مال سره کيږي او د قران کريم په ډېرو ايتونو کې امر په انفاق سره شوی دی .

الله تعالی فرمايي (**وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ وَمِنْ رِبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ وَعَدُوَّكُمْ وَآخَرِينَ مِنْ دُونِهِمْ لَا تَعْلَمُونَهُمُ اللَّهُ يَعْلَمُهُمْ وَمَا تُنْفِقُوا مِنْ شَيْءٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنْتُمْ لَا تُظْلَمُونَ**)[2]

ترجمه: او تياروی ( ای مؤمنانو ) لپاره ( دجنګ) ددغو ( عهد ماتوونکو يا مطلق کفارو) څومره چې توانيږی ( جمع کولی شئ) تاسې له قوت ( اسباب د جنګ) او له روزل شووو ، ساتل شوو اسونو ( لپاره د جهاد) چې ويروی تاسې په دغه ( قوت او تيارۍ) سره دښمنان د الله او دښمنان ستاسې او نور کسان بې له دوی نه چې نه پيژنئ تاسې هغوی، الله عالم دی په ( عداوت د ) هغوی ، او هر هغه څه چې نفقه کوی ( لګوی ) تاسې له يوه شې په لاره د الله کې ( ددين د ترقی لپاره ) پوره ( بدل دهغه ) به درکړل شي تاسې ته حال دا چې پر تاسې به ظلم ونه کړل شي ( د ثواب په لږوالي او د عذاب په ډيروالي).

او هغه ورځ بايد هيره نه شي په کومه چې بعضی صحابه د جنګ د اسبابو او وسايلو د نه درلودلو له امله په غزوه کې د شرکت کولو څخه پاتې کيدونکې وو او رسول الله (صلی الله عليه وسلم ) ته راغلل او له هغه څخه د جنګ د ابزارو غوښتنه وکړه ، نبی کريم (صلی الله عليه وسلم ) ددې توانايي نه درلوده چې دغه اسباب او وسايل ورته اماده کړي په داسې حال کې چې همدغو صحابوو ورته

[1] - توبه ، ايت ۲۰
[2] - الانفال ، ايت ۵۹

ژړل[1] ، الله تعالی فرمايي(**لَيْسَ عَلَى الضُّعَفَاءِ وَلَا عَلَى الْمَرْضَى وَلَا عَلَى الَّذِينَ لَا يَجِدُونَ مَا يُنْفِقُونَ حَرَجٌ إِذَا نَصَحُوا لِلَّهِ وَرَسُولِهِ مَا عَلَى الْمُحْسِنِينَ مِنْ سَبِيلٍ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ (91) وَلَا عَلَى الَّذِينَ إِذَا مَا أَتَوْكَ لِتَحْمِلَهُمْ قُلْتَ لَا أَجِدُ مَا أَحْمِلُكُمْ عَلَيْهِ تَوَلَّوْا وَأَعْيُنُهُمْ تَفِيضُ مِنَ الدَّمْعِ حَزَنًا أَلَّا يَجِدُوا مَا يُنْفِقُونَ**)[2]

ترجمه: نشته په ضعیفانو او نه په رنځورانو او نه په هغو کسانو چې نه مومي دوی هغه ( مال ) چې يې ولګوي دوی ( په غزا کې) هیڅ ګناه ( له غزا څخه په وروسته پاتې کیدو کې) کله چې اخلاص کوی دوی له الله او له رسول الله سره ( او زړونه يې صاف وی) نشته په نیکو کارونو هیڅ لاره ( د الزام او عتاب) او الله ښه ښنونکی ( د ګناهونو ) ډیر رحم ولا دی ( د اجر او ثواب په انعام ).

او نشته ( ګناه په وروسته پاتې کیدلو له غزا نه ) په هغو کسانو کله چې راغلل دوی تاته د پاره د دی چې سورلې ورکړې ته دوی ته نو وویل تا ورته چې نه مومم زه ( هم اوس) هغه شی چې سواره کړم تاسې په هغه نو بیرته وګرځیدل دوی حال دا چې سترګې ددوی بهیدې ( یعنې تویولې) له اوښکو له جهته د غمه له دی امله چې نه مومي دوی هغه څه چې ويې لګوې ( په جهاد کې).

بیا په همدی ورځ عثمان بن عفان (رضی الله عنه) دغو صحابوو ته د جنګ اسباب او وسایل اماده کړل چې نبی کریم (صلی الله علیه وسلم يې په حق کې وفرمایل ( **ما ضر عثمان ما صنع بعد اليوم**)[3].

ترجمه:ضرر به ونه رسوي عثمان ته هغه څه چې له نن څخه وروسته يې کوي.

همدارنګه په مال سره مسجدونه جوړیږي یعنې هغه ځایونه چې هلته په کې پنځه وخته لمونځ په جماعت سره ادا کیږې ، دعلم حلقې جوړیږې ، او مسلمان نسل ته په کې د دین او عقیدې تربیه او پالنه ورکول کیږې، الله (جل جلا له ) فرمايي (**فِي بُيُوتٍ أَذِنَ اللَّهُ أَنْ تُرْفَعَ وَيُذْكَرَ فِيهَا اسْمُهُ يُسَبِّحُ لَهُ فِيهَا بِالْغُدُوِّ وَالْآصَالِ**)[4]

ترجمه: په هغو کورونو ( مساجدو) کې چې اذن حکم کړی دی الله چې پورته د کړل شي ( په بناء سره دغه مساجد یا په تعظیم سره )او یاد شي په هغه کې نوم د دغه ( الله ) ، تسبیح وايي دغه ( لمونځ کوي الله ) ته په دغو کورونو کې په سبا او بیګا .

---

[1] - الخازن ، علاء الدین علی بن محمد بن ابراهیم ، لباب التأویل فی معانی التنزیل ، چاپ کال ۱۳۹۹هـ ق ، چاپ ځای : دار الفکر – بیروت ، د ټوکونو شمیر ۷،دټوک ګڼه ۲، دپاڼی ګڼه ۳۹۶.

[2] - توبه ، ایت (۹۱- ۹۲)

[3] - ترمذي، محمد بن عیسی بن سورة بن موسی ، سنن الترمذي ، د وفات نیټه ۲۷۹هـ ، تحقیق : أحمد محمد شاكر او محمد فؤاد عبدالباقي ، دويم چاپ ، چاپ کال ۱۳۹۵هـ ، چاپ ځای : شركة مكتبة ومطبعة مصطفى البابي الحلبې ، دټوکونو شمیر ۵ ، دټوک ګڼه۵، دپاڼی ګڼه ۶۲۶، دحدیث نمبر۳۷۰۱، الباني ورته حسن ویلی .

[4] - نور , ایت 36

همدارنګه نبي کريم (صلى الله عليه وسلم ) هم خلک د مساجدو جوړولو ته تشويق کړې نبی ( عليه السلام ) فرمايي **(من بنى لله مسجداً بنى الله له بيتاً فى الجنة)**[1]

ترجمه : څوک چې د الله تعالى لپاره مسجد جوړ کړي الله تعالى به نوموړي ته په جنت کې کور جوړ کړي.

او مال چې کله دنصاب اندازې ته ورسيږي زکات په کې فرضيږي چې د زکات په ورکړې سره د ټولنې د افرادو تر منځ اړيکه ټينګيږي ، اخوت او وروروولي برلاسې کيږي ، بډايه خلک د فقيرانو سره خواخوږی کوي او فقيران بډايه خلکو ته دعا کوې او دا هر څه دمال له برکته کيږي او دا هر څه د غني او فقير ترمنځ د بد بينی د لمنځه وړلو بدله ده ، الله تعالى فرمايي**(وَالَّذِينَ فِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ مَعْلُومٌ (24) لِلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ)**[2]

ترجمه : او هغه کسان چې په اموالو د هغوی کې حق برخه معلومه وي ( له زکاة او صدقاتو ) د پاره د غوښتونکو ( فقيرانو ) او محروم ( فقيرانو چې سوال نه کوې).

همدارنګه الله تعالى فرمايي**(قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ (1) الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ (2) وَالَّذِينَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُونَ (3) وَالَّذِينَ هُمْ لِلزَّكَاةِ فَاعِلُونَ)**[3]

ترجمه: په تحقيق بريالي ( بهرمن او کامياب) شوې دې مؤمنان هغه ( مؤمنان) چې دوی په خپلو لمونځونو کې عاجزی کوونکي او ويردونکي دي ( له الله نه ) او هغه ( کسان هم بهرمن شول) چې دوی له نا کارو ( بدو اقوالو ، بدو افعالو) څخه مخ ګرځونکی دي. او هغه ( کسان هم بهرمن شول) چې دوی (تل) د زکاة ادا کوونکې دی ( چې د مالي فعلي او قولي عباداتو جامع دی ).

همدارنګه حج په يو مسلمان باندې تر هغې نه فرضيږي چې مالي او بدني قدرت ونه لرې ، يعنی مسلمان بايد د سلامتيا څښتن وي او د حج د مناسکو په ادا کولو قادر وي ، د سفر کولو توان ولرې، او مال دغه هر څه برابروي ، يعنې په مال سره سړی خپله تداوي کولای شي ، او په مال سره د سفر لپاره اسباب او لوازم برابرولای شي، الله تعالى فرمايي**(وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا وَمَنْ كَفَرَ فَإِنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ عَنِ الْعَالَمِينَ)**[4]

---

[1] - سنن ترمذي ، کتاب الصلوة، باب فضل بناء المساجد ، ج۱، ص۴۲۰ ، دحديث نمبر۳۱۸،الباني ورته صحيح ويلی .
[2] - معارج ، ايت (۲۳- ۲۴)
[3] - مؤمنون ، ايت (۱- ۴)
[4] - ال عمران , ايت 97

ترجمه : او ( واجب دی ) الله لره په خلکو حج ( قصد کول په نیت د حج ) د ( دې) بیت ( الله دا ) دی پر هغه چې قدرت لري طرف دده ته د لاري او هر څوک چې کافر شو ( ویې نه مانه ) نو بیشکه الله بې پروا دی له ټول عالم ( یعنې له هر چا او هر شي ) نه .

همدارنګه نکاح کول او د خپل ځان پاک ساتل مال ته ضرورت لري ، مهر چې میره یې ښځې ته ورکوي الله تعالی فرمایې(وَآتُوا النِّسَاءَ صَدُقَاتِهِنَّ نِحْلَةً)[1]

ترجمه: او ورکوي تاسي ښځو( خپلو) لره مهرونه ددوی په ورکړه د خوشحالی سره ( چې فرض شوی دی له طرفه د الله پر تاسي).

همدارنګه د ښځې او اولاد نفقه په میره باندې واجب ده الله تعالی فرمایې(**...وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ**...)[2]

ترجمه:او ده پر هغه چا چې زیږول شوی دی ورته ( یعنې پلار) روزي ددوی ( یعنې دمیندو) او کالي( جامې) ددوی ( یعنې د میندو) په معروف ( سم له دستوره) سره.

همدارنګه کور چې انسان په کې اوسیږې او د کارکولو ځخه وروسته په کې دمه جوړوي او له ګرمی او یخنی څخه ځان په کې ساتي ، له خپلی میرمنې او اولاد سره په کې راز او نیاز کوي دا ټول هغه څه دی چې مال ته ضرورت لري چې کور پرې واخستل شی او جوړ کړل شي .

## دریم مطلب: د مال د لاس ته راوړلو لپاره روا هڅه او زیار

الله تعالی فرمایې **(وَلَقَدْ مَكَّنَّاكُمْ فِي الْأَرْضِ وَجَعَلْنَا لَكُمْ فِيهَا مَعَايِشَ قَلِيلًا مَا تَشْكُرُونَ)**[3]

ترجمه : او خامخا په تحقیق ځای ( او قدرت او تصرف) در کړیدی مونږ تاسي ته ( ای انسانانو**!**) په ځمکه کښې او پیدا او ( مقرر) کړی دی مونږ تاسې ته په دغې ځمکې ( هر قسم اسباب د) ژوندانه ، لږ شانې شکر وباسې تاسې.

قرطبي ددې ایت په تفسیر کې لیکي ( ومو ګرځوله ورته دا ځمکه د اوسیدو لپاره ارامه او په دې ځمکه کې مو د ژوند کولو وسایل ورته اماده او تیار کړل)[1].

---

[1] - نساء، ایت ۴
[2] - بقرة ، ایت ۲۳۳
[3] - الاعراف, ایت 10

نو الله ( جل شأنه) په ځمکه کې د ټولو انسانانو روزي تعين کړې ، اوس دلته د يو مسلمان لپاره دا ضرور ده چې په ځمکه کې حرکت وکړي ، ترڅو هغه روزي چې د الله تعالی له طرفه ورته تعين شوې ده په لاس راوړي الله تعالی ( جل شأنه ) فرمايي (**هُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ ذَلُولًا فَامْشُوا فِي مَنَاكِبِهَا وَكُلُوا مِنْ رِزْقِهِ وَإِلَيْهِ النُّشُورُ**)[2].

ترجمه : دغه ( الله ) همغه ذات دی چې ګرځولې يې ده تاسې ته ځمکه پسته او تابعداره نو ځئ ګرځئ تاسې په اوږو اطرافو لارو ددې ځمکې او خورئ تاسې له ( حلال) رزق ددغه ( الله) او خاص دغه ( الله ) ته بيا ژوندې را پورته کيدل ستاسو دي(پس له مرګه)

همدارنګه الله تعالی فرمايي(**فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَاةُ فَانْتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ وَابْتَغُوا مِنْ فَضْلِ اللَّهِ وَاذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيرًا لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ**)[3]

ترجمه: نو هر کله چې ادا کړی شي لمونځ ( د جمعې) پس خواره شئ تاسې په ځمکه کې ( خپلو حوايجو ته که يې لرئ) او ولټوئ تاسې له فضله د الله او يادوئ تاسې الله ( په يادولو) ډيرو سره ښايې چې ومومې ښيګڼې (نيکئ).

په دې ايت د قران عظيم الشأن کې د ( فضل الله ) څخه مراد د مال او رزق لاس ته راوړل دي[4]

بايد يادونه وکړم چې دمال او رزق د لاس ته راوړلو لپاره حرکت کول له ( توکل ) سره په ټکر کښې نه دي واقع ، ځکه زړه متوکل ده په رزاق باندې او جوارح ( لاس او پښې ) حرکت او کار کوي او هغه څه چې الله مقدر کړي هغه لاس ته راوړې نبي کريم (صلی الله عليه وسلم) فرمايي(**لو أنكم تتوكلون على الله حق توكله لرزقكم كما يرزق الطير تغدو خماصاً وتروح بطاناً**)[5]

ترجمه : که چيرته په الله ( جل شأنه ) ريښتنی توکل وکړئ نو تاسې ته به رزق درکړي لکه څنګه چې يې مرغانو ته ورکوي چې له خپلو ځالو په خالي خيټه الوزي او په ډکه خيټه بيرته راګرځي.

---

[1] - : قرطبي ، أبوعبدالله محمد بن آحمد بن أبي بكر ، الجامع الاحكام القران ،تحقيق : هشام سمير البخاری، چاپ کال ۱۴۲۳هـ چاپ ځای :دارالعلم الكتب- رياض،دټوک ګڼه۷، دپاڼي ګڼه۱۶۷

[2] - الملك , ايت 15

[3] - جمعه , ايت 10

[4] - ابن عاشور، شيخ محمد طاهر بن عاشور، التحرير والتنوير، چاپ کال ۱۹۹۷م ، چاپ ځای: دارسحنون للنشر والتوزيع – تونس، دټوکونوشمير ۳۰، دټوک ګڼه۲۸، دپاڼي ګڼه ۲۲۷

[5] - ابن ماجه ، أبوعبدالله محمد بن يزيد القزويني ، سنن ابن ماجه ، د وفات نيټه ۲۷۳هـ ، تحقيق: شعيب الارنؤوط – عادل مرشد ، لومړی چاپ ، چاپ کال ۱۴۳۰هـ ، چاپ ځای : دارالرسالة العلمية، دټوکونو شمير ۵، د ټوک ګڼه ۵، د پاڼي ګڼه ۲۶۶، دحديث نمبر۴۱۶۴

او تر ټولو ستر خلک چې په الله ( جل شأنه ) به یې توکل کولو انبیاء (علیه السلام) وو خو د توکل تر څنګ دوی د رزق غوښتنه هم کوله ،په بازارونو کې به ګرځیدل ،شیان به یې اخستل او خرڅول او د کسب خاوندان وو الله تعالی فرمایې(**وَمَا أَرْسَلْنَا قَبْلَكَ مِنَ الْمُرْسَلِينَ إِلَّا إِنَّهُمْ لَيَأْكُلُونَ الطَّعَامَ وَيَمْشُونَ فِي الْأَسْوَاقِ وَجَعَلْنَا بَعْضَكُمْ لِبَعْضٍ فِتْنَةً أَتَصْبِرُونَ وَكَانَ رَبُّكَ بَصِيرًا**)[1]

ترجمه: او نه دي لیږلي مونږ پخوا له تانه ( ای محمده! هیڅوک ) له مرسلانو څخه ( په هیڅ کیفیت ) مګر ( په دغه کیفیت سره چې) بیشکه دوی خامخا خوړل به دوی طعام او ګرځیدل به دوی په بازارونو کې ( لپاره دمطالبو خپلو) او ګرځولي دي مونږ ځیني د تاسې د پاره د ځینو نورو ازمویښت ایا صبر کوئ ( ای اهل ابتلاء کنه ؟ بلکه صبر وکړئ) او دی رب ستا ښه لیدونکی ( عالم په ټولو احوالو).

قرطبي ددې ایت په تفسیر کې وایې : دوی په نړی کې ژوند کړی ، تجارت او کسب یې کړې [2]

او بیا ددې ایت د تفسیر په ادامه کې وایي چې دا ایت د تجارت او سوداګرۍ لپاره اصل ده ، چې له دې لارې سړی مال او روزي لاس ته راوړي او الله تعالی ( جل شأنه ) په خپل کتاب ( قران کریم ) کې د انبیاؤو او رسولانو خبر راکړی چې هغوی به د لاسي کار په وسیله مال لاسته راوړ الله تعالی د داود (علیه السلام) په هکله فرمایې(**وَعَلَّمْنَاهُ صَنْعَةَ لَبُوسٍ لَكُمْ لِتُحْصِنَكُمْ مِنْ بَأْسِكُمْ فَهَلْ أَنْتُمْ شَاكِرُونَ**)[3]

ترجمه: او ښولي وو مونږ دغه ( داود ) ته جوړول د زغرې تاسې د پاره ددې چې وساتی تاسې ( دا زغره ای انسانانو ) له ضرره د جنګ ( د دښمنانو) ستاسې پس ایا یې تاسې شکر کوونکې ( یعنې شکر وکړې).

همدارنګه نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) فرمایي (**جعل رزقي تحت ظل رمحي**)[4].

ترجمه: زما روزي زما د نیزې تر سیوري لاندې ده

همدارنګه الله تعالی فرمایې (**فَكُلُوا مِمَّا غَنِمْتُمْ حَلَالًا طَيِّبًا وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ**)[5]

[1] - فرقان , ایت 20
[2] - وګوره: الجامع الاحکام القران ، ج۱۳، ص ۱۵
[3] - انبیاء، ایت ۸۰
[4] - بخاري، محمد بن اسماعیل أبو عبدالله البخارېِ الجعفي ، صحیح البخاري ، تحقیق: محمد زهیر بن ناصرالناصر، لومړی چاپ ، چاپ کال ۱۴۲۲هـ ، چاپ ځای دار طوق النجاة ، د ټوکونو شمیر۹، دټوک ګڼه ۴، د پاڼې ګڼه ۴۰، د حدیث نمبر ۲۹۱۴.
[5] - انفال , ایت 69

ترجمه: نو خورئ تاسې له هغه ماله چې غنیمت اخیستی دی تاسې حلال طیب(پاکیزه) او ویریږئ له الله بیشکه الله ښه ښونکی د (خطیاتو) ډیر مهربان دی ( د اجر او ثواب په انعام سره).

همدارنګه د نبې کریم (صلی الله علیه وسلم ) اصحابوو به هم تجارت کاوه او په خپلو مالونو به یې کار کاوه ، نو په اسبابو او وسایلو د مال لاس ته راوړل د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سنت دي[1].

او په دی سره د ټول اسلامي امت اجماع ده چې په وسایلو سره د مال لاس ته راوړل درست کار دی او که چیرته په اسبابو او وسایلو دمال لاس ته راوړل درست کار نه وای نو دالله تعالی ددې قول معنی به څه وي (**وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ وَمِنْ رِبَاطِ الْخَيْلِ**)[2] همدارنګه کله یی چې موسی (علیه السلام) ته وویل (**اضْرِبْ بِعَصَاكَ الْبَحْرَ**)[3] په داسې حال کې چې الله ( جل شأنه) د بحر په جداوالي د لکړې د وهلو څخه بغیر قادر وو او همدارنګه مریم (علیها السلام ) (**وَهُزِّي إِلَيْكِ بِجِذْعِ النَّخْلَةِ تُسَاقِطْ عَلَيْكِ رُطَبًا جَنِيًّا**)[4] په داسی حال کې چې الله تعالی قادر وو د پخې خرما په را تویولو بغیرله دې چې مریم (علیه السلام ) یې وښوروي همدارنګه د الله تعالی په دې قول کې(**ذِكْرُ رَحْمَتِ رَبِّكَ عَبْدَهُ زَكَرِيَّا**)[5] ابن کثیر ددې ایت په تفسیر کې لیکي : ذکریا (علیه السلام) د بني اسرائیلو د لویو انبیاوو څخه شمیرل کیږې[6] او په صحیح مسلم کې راغلي دې چې هغه نجار وو[7].

شیخ راجحي ددې خبرې په هکله وایې : زکریا (علیه السلام ) به د خپل لاس له کاره خوړله او له دې خبری دا جوتیږې چې کار او کسب عیب نه دی بلکه کار او کسب د انسان عزت ده ، نو هر هغه انسان چې هغه د خپل لاس له خواری څخه روزې پیدا کوې او هغه خورې دا عیب نه ده بلکه عیب داده چې یو انسان د کار او کسب توان ولرې خو اتکاء یې په نورو باندې وي نبي کریم (صلی الله علیه وسلم ) فرمایي ( **الید العلیا خیر من الید السفلی**)[8] پورته لاس (هغه لاس چې نورو ته یې خیر رسیږې )له ټیټ لاس څخه (هغه لاس چې نورو ته محتاج وې) بهتره دی .

---

1 - لباب التأویل فی معانی التنزیل ، ج۴، ص ۴۷۶.
2 - انفال , ایت 60
3 - شعراء ، ایت ۶۳
4 - مریم , ایت 25
5 - مریم , ایت 2
6 - ابن کثیر ، ج۴، ص ۲۹۸.
7 - مسلم ، مسلم بن الحجاج القشیري النیسابوري ، المسند الصحیح المختصر بنقل العدل عن العدل الی رسول الله(صحیح مسلم) ، د وفات نیټه ۲۶۱هـ ، تحقیق : محمد فؤاد عبدالباقي ، چاپ ځای : دار احیاء تراث العربې – بیروت ، دټوکونو شمیر۵، د ټوک ګڼه ۴، د پاڼي ګڼه ۱۸۴۷، د حدیث نمبر۲۳۷۹.
8 - بخاري محمد بن اسماعیل أبو عبدالله ، الجامع الصحیح المختصر(صحیح البخاري), تحقیق: د. مصطفی دیب البغا، دریم چاپ ، چاپ کال :۱۴۰۷هـ، چاپ ځای : دار ابن کثیر ،الیمامة – بیروت ، دټوکونو شمیر ۶،دټوک ګڼه ۲، د پاڼی ګڼه ۵۳۵، د حدیث نمبر۱۴۰۳.

نو د هر انسان لپاره په کار ده چې پورته لاس ولرې، کار او کسب وکړي تر څو د نورو له احتیاج څخه په امن کې وي.

همدا وجه وه چې ټولو انبیاوو به کار کاوو نبی کریم (صلی الله علیه وسلم ) فرما یې **عن أبي هريرة رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال ما بعث الله نبيا إلا رعى الغنم فقال أصحابه وأنت فقال نعم كنت أرعاها على قراريط لأهل مكة)**[1]
ترجمه : هیڅ یو نبي نه دی تیر شوی مګر هغه پسونه څرولې ، پوښتنه وشوه ایا تا څرولې؟ نبي کریم (صلی الله علیه وسلم ) وفرمایل هو ما د مکې دخلکو پسونه د یوڅو قراریطو په مقابل کې څرولې.

همدارنګه علماوو او محدثینو هم کسبونه درلودل حتی داسې علماء موجود وو چې دهمغه خپل کسب نسبت به ورته کیده لکه (الصباغ) رنګمال ،(الجصاص) ګچ فروش او داسې نور[2].

او هیڅکله یو انسان باید په دی فکر نه وي چې د خپل ځان او کورنۍ لپاره کوشش او کار کول لوی کار نه دی بلکه ګورو چې خدای ( جل شأنه ) جهاد او په ځمکه کې سفر کول دحلال رزق دلاسته راوړلو لپاره سره یو ځای ذکر کړې الله تعالی فرمایي (**عَلِمَ أَنْ سَيَكُونُ مِنْكُمْ مَرْضَى وَآخَرُونَ يَضْرِبُونَ فِي الْأَرْضِ يَبْتَغُونَ مِنْ فَضْلِ اللَّهِ وَآخَرُونَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ**)[3].

ترجمه : پوه دی ( الله ) شان دادی چې ژر به شي بعضي له تاسې ځیني مریضان او ناروغان او وي به نور له تاسې څخه چې سفر مزل به کوي دوی په ځمکه کې لټوي به دوی له فضله رزقه دالله او وي به ور له تاسې څخه چې جنګونه به کوي دوی په لاره د الله تعالی کې .

تفسیر سمر قندي ددې ایت تفسیر داسې بیانوې (**وَآخَرُونَ يَضْرِبُونَ فِي الْأَرْضِ**) دوی سفر کوي په ځمکه کې (**يَبْتَغُونَ مِنْ فَضْلِ اللَّهِ**) د ژوند کولو په فکر له الله تعالی څخه د رزق غوښتنه کوې (**وَآخَرُونَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ**) او نور جهاد کوې د الله تعالی په لار کې او په دې ایت کې دلیل دی په دې باندې چې حلال کسب د جهاد په منزله دی ، له همدې امله الله تعالی د جهاد سره یو ځای ذکر کړی دی [4].

همدارنګه د کعب بن عجرة څخه روایت دی هغه وایې( **مر على النبى (صلى الله عليه وسلم) رجلٌ فرأى أصحاب النبى (صلى الله عليه وسلم ) من جلده ونشاطه فقالوا : يا رسول الله لو كان هذا فى سبيل الله ؟ فقال رسول الله (صلى الله عليه وسلم) : ان كان يسعى على ولده صغاراً فهو فى سبيل الله**

[1] - بخاري , دټوک ګڼه 2, دپاڼی ګڼه 789, د حدیث نمبر ۲۱۴۳.
[2] - شرح تفسير ابن كثير للراجحي، ج٣، ص٦٧
[3] - مزمل ، ایت ۲۰
[4] - سمرقندې، بحرالعلوم ، أبو الليث نصر بن محمد بن أحمد ، د وفات نیټه ۳۷۳هـ ، دټوک ګڼه۳، دپاڼې ګڼه ۵۱۲.

**و ان كان يسعى على أبوين شيخين كبيرين فهو فى سبيل الله و ان كان خرج يسعى على نفسه يعفها فهو فى سبيل الله و ان كان خرج رياء ومفاخرة فهو فى سبيل الشيطان )**[1].

ترجمه : د نبي كريم (صلى الله عليه وسلم) له څنګه يو سړی تير شو بيا د نبي كريم صلى الله عليه وسلم اصحابوو د هغه تکړه توب وليده نو هغوی نبې كريم ( صلى الله عليه وسلم ) ته وويل چې ای د الله تعالى پيغمبره که دغه تکړه توب د هغه د الله تعالى په لار کې وای نو نبې كريم (صلى الله عليه وسلم) وويل چې که چيرته  دا سړی وتلی وي چې د خپلو وړو بچو لپاره  تلاش کوي نو دا هم د الله تعالى په لار کې بلل کيږي او که وتلی وي چې د خپلو بوډا مور او پلار لپاره تلا ش کوي بيا هم د الله تعالى په لار کې دی او که وتلی وي چې دخپل ځان لپاره واده وکړي نو دا هم دالله تعالى په لار کې دی او که د ريا او فخر لپاره راوتلې وي نو بيا دا د شيطان په لار کې دی.

[1] ـ طبراني، سليمان بن أحمد بن أيوب ، المعجم الكبير ، د وفات نيټه ۲۶۰هـ ، تحقيق : حمدي بن عبدالحميد السلفي ، دويم چاپ ، چاپ ځای : مكتبة ابن تيميه – قاهره ، د ټوكونو شمير ۲۵، د ټوک ګڼه ۹ ، د پاڼې ګڼه۱۲۹، د حديث نمير ۲۸۲، او البانى په جامع کې ورته صحيح ويلى د حديث نمبر ۱۴۲۸.

## دویم مبحث:دمشروع مال د لاس ته راوړلو ډولونه

### لمړی مطلب: غنیمت

### دوهم مطلب:فئ

### دریم مطلب: نفل

### څلورم مطلب: تجارت

## دويم مبحث: د مشروع کسب ډولونه

### لومړی مطلب: غنيمت

الف: غنيمت په لغت کې : هر هغه شي ته ويل کيږي چې انسان په تلاش او کوشش ورته ورسيږي[1].

ب: غنيمت په اصطلاح کې: هغه مال ته ويل کيږي چې د مسلمانانو له طرفه د کفارو څخه په جنګ کې په زور ونيول شي ([2]) لکه مسلمانانو چې په بدر، خيبر، حنين او داسې نورو کې لاس ته راوړ.

په بل ځای کې داسې تعريف شوی : ( مال مأخوذ من اهل الحرب على سبيل القهر و الغلبة)[3].

ترجمه: (غنيمت) هغه مال ته ويل کيږي چې د اهل حرب څخه په زور واخيستل شي.

ج : په مخکنيو امتونو باندې غنيمتونه حرام وو مګر يوائينی امت چې غنايم ورته حلال دی هغه د محمد رسول الله (صلى الله عليه وسلم) امت دی له أبو هريرة (رضی الله عنه ) څخه روايت دی هغه وايې چې رسول الله (صلى الله عليه وسلم ) وفرمايل( **أحل الله لنا الغنائم ، رأى ضعفنا وعجزنا فأحلها لنا)**[4].

ترجمه : الله مونږ ته غنيمتونه حلال کړي ، کله چې الله تعالى زمونږ ناتواني وليده نو غنايم يې مونږ ته حلال کړل.

نو دا يوه خاصه ځانګړنه ده ددې امت او رسول الله (صلى الله عليه وسلم ) ته لکه څنګه چې نبی کريم (صلى الله عليه وسلم ) فرمايي(**أعطيت خمسا لم يعطهن أحد قبلي ، كان كل نبي يبعث الى قومه خاصة وبعثت الى كل أحمر و أسود ، وأحلت لي الغنائم ولم تحل لأحد قبلي)**[5].

ترجمه : پنځه شيونه ما ته راکړل شوې دي چې له ما څخه مخکې هيچا ته نه دي ورکړل شوې ، هر پيغمبر به د خپل قوم لپاره ليږل کيده مګر زما رسالت د ټول سور پوستو او تور پوستو لپاره دی ( يعني زه د ټول بشريت لپاره ليږل شوی يم ) او غنيمتونه ما ته حلال دي په داسې حال کې چې مخکې د هيچا لپاره حلال نه وو.

---

[1] - ابن سيده ، أبوالحسن على بن اسماعيل النحوي ، المخصص ، تحقيق: خليل ابراهيم جفال ، لومړی چاپ ، چاپ کال ۱۴۱۷هـ، چاپ ځای : دار احياء التراث العربی – بيروت ، د ټوکونو شمير ۵، د ټوک ګڼه ۳، د پاڼې ګڼه ۴۴۶.

[2] - شنقيطې، محمد الأمين بن محمد بن المختار ، أضواء البيان فی ايضاح القران بالقران تحقيق : مکتب البحوث والدراساة ، چاپ کال ۱۴۱۵هـ ، دار الفکر للطباعة والنشر- بيروت .

[3]- الفقه الميسر ، ج۷، ص۲۵۴.

[4] - بخارې ، کتاب الجهاد، باب قول النبی احلت لي الغنائم ، ج۴، ص ۸۶، د حديث نمبر۳۱۲۴ و اخرجه مسلم ايضاً.

[5] - مسلم ، کتاب الصلاة، باب مواضع الصلاة ، ج۱، ص۳۷۰، د حديث نمبر ۵۲۱ و اخرجه البخاری ايضاً.

په مخکنیو امتونو کې چې کله به یې غنایم لاس ته راوړل نو ټول به یې یو ځای جمع کول له اسمان څخه به اور را ښکته کیده او هغه به یې سوځول، نبی کریم (صلی الله علیه وسلم ) په دې هکله فرمایې ( **لم تحل الغنائم لقومٍ سود الرؤوس من قبلكم ، كانت تجمع فتنزل نارٌ من السماء فتأكلها)**[1].

ترجمه: غنایم د مخکنیو امتونو لپاره نه وو حلال ، کله به چې دوی جمع او را ټول کړل نو له اسمان څخه به یو اور راغی او هغه به یې سوځول.

کله چې د بدر په غزا کې غنائم دمسلمانانو لاس ته ولویدل د تقسیم په برخه کې یې د مسلمانانو تر منځ اختلاف پیدا شو ځکه دا لومړۍ غزوه او لومړی ځل د غنایمو وو چې مسلمانانو ته په لاس ورغلی وو نو الله ( جل شأنه ) دا ایت نازل کړ(**يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْأَنْفَالِ قُلِ الْأَنْفَالُ لِلَّهِ وَالرَّسُولِ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَصْلِحُوا ذَاتَ بَيْنِكُمْ وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ**)[2]

ترجمه: پوښتنه کوې دوی له تانه ( ای محمده**!**) له ( حکمه د) غنائمو څخه ووایه ( دوی ته چې اموال د) غنیمتونو خاص الله لره دي او رسول ( دالله ) لره دی ( چې تقسیم یې کړې سم له شرعي اصولو سره) پس وویرېږې تاسې له الله نه او اصلاح وکړې تاسې له الله نه او اصلاح وکړئ تاسې د هغه حال چې په مینځ ستاسې کې دی ( یعنې په خپلو منځونو کې سره دوستي وکړئ**!** او نزاع پریږدی او حکم ومنئ تاسې د الله او ( حکم ومنئ تاسې ) د رسول د الله که یې تاسې مؤمنان ( په حقه سره ) .

د عبادة بن صامت (رضی الله عنه ) څخه د (انفال ) په باره کې پوښتنه وشوه هغه په جواب کې وویل ( **فينا اصحاب بدرٍ نزلت حينما اختلفنا فى النفل فانتزعه الله من ايدينا فقسمه الرسول الله بين المسلمين عن بواء يقول عن سواء)**[3].

ترجمه : له مونږ سره د بدر غزا کونکي وو ، هغه وخت د انفال سورت نازل شو چې کله د بدر په غزوه کې په نیول شوې نفل ( مال ) اختلاف پیدا شو ، نو الله تعالی ( جل شأنه ) زمونږ له لاسونو واخیست او رسول الله ( صلی الله علیه وسلم ) د ټولو مسلمانانو تر مینځ په مساوي ډول تقسیم کړ.

معنی دا چې ای رسول الله **!** له تا څخه پوښتنه کوې چې ( انفال ) د ځوانانو لپاره دی او که د سپین ږیرو ، د مهاجرینو لپاره دی او که د انصارو ، ورته ووایه چې (انفال ) د الله تعالی دی او الله تعالی

---

[1] - سنن نسائي ، كتاب قسم الفىء، باب بيان مصرف الغنيمة، ج۱۰، ص ۱۱۰ ، دحدیث نمبر۱۱۲۵، الباني ورته صحیح ویلی دی.
[2] - انفال , ایت 1
[3] - الشيباني ، أبو عبدالله أحمد بن محمد بن حنبل ، مسند امام احمدبن حنبل ، د وفات نیټه ۲۴۱هـ ، چاپ ځای : مؤسسه قرطبة – القاهره ، دټوکونو شمیر۶، د ټوک ګڼه ۵، دپاڼی ګڼه ۳۲۲، دحدیث نمبر ۲۲۷۹۹، الباني ورته صحیح ویلی دی .

( جل شأنه ) په کښې خپل حکم کوي او رسول الله (صلی الله عليه وسلم ) به يې د الله دحکم مطابق تقسيموي ، چې بيا نبی کريم (صلی الله عليه وسلم ) هم ددوی تر منځ په مساوي ډول تقسيم کړل [1]

او دلته له ( انفال ) څخه مقصد عمومي غنايم دي ، طبرې په خپل سند سره له ابن عباس څخه روايت کوې چې د نومړې څخه د (انفال) په باره کې پوښتنه وشوه ،هغه په جواب کې ورته وويل (الانفال الغنايم)[2].

همدا ايت لومړئ ايت وو چې د غنايمو په باره کې نازل شو او له دې ايت څخه وروسته بيا دا ايت نازل شو (**وَاعْلَمُوا أَنَّمَا غَنِمْتُمْ مِنْ شَيْءٍ فَأَنَّ لِلَّهِ خُمُسَهُ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ إِنْ كُنْتُمْ آمَنْتُمْ بِاللَّهِ وَمَا أَنْزَلْنَا عَلَى عَبْدِنَا يَوْمَ الْفُرْقَانِ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعَانِ وَاللَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ**)[3]

ترجمه: او پوه شئ( ای مسلمانانو!) بيشکه هر هغه شی چې په غنميت واخست تاسې ( له کفاروپه غلبې) سره له يوه شي نه نو بيشکه الله لره دی ( حکم کول په ) خمس د هغه ( کښې) او ( دغه خمس ثابت دی ) له پاره د رسول ( د الله ) او له پاره د خپلوانو ( د رسول الله ) او ( لپاره د ) يتيمانو او ( لپاره د) مسکينانو ( محتاجانو) او ( لپاره د ) مسافرانو او (پاتې څلور برخې دی له پاره د غازيانو او صبر وکړئ پر دغه تقسيم ای مقاتلانو!) که ايمان لرئ په الله او په هغو ( ايتونو يا ملايکو يا نصرت) چې نازل کړی دی مونږ پر بنده خپل په ورځ د فيصلې کښې ( دحق له باطل څخه چې د ( بدر ورځوه) هغه ورځ چې سره مخامخ شولې دواړه جمعې ( ډلې ) ، او الله پر هر شي باندې ( چې اراده وفرمايې ) ښه قادر دی ( چې د لږو غلبه په ډيرو ده ).

ځينو علماوو ويلي دي چې دا ايت هغه لومړي ايت منسوخوي او ځينو نورو بيا ويلي چې نه يې منسوخوې بلکه دا ايت د هغه لومړې ايت تفصيل دی ، ابن کثير هم دهمدغو علماوو له جملې څخه ده چې وايې هغه لومړی ايت مجمل دی او دا ايت هغه بيانوي [4].

دريم ايت چې د غنيمت په باره کې نازل شوی دی هغه (**فَكُلُوا مِمَّا غَنِمْتُمْ حَلَالًا طَيِّبًا وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ**)[1]

---

[1] - الحسيني ، محمد رشيد بن علي رضا بن محمد ، تفسير المنار ، د نشركال ۱۹۹۰م ، چاپ ځای : الهيئة المصرية العامة للكتاب، د ټوکونوشمير۱۲، د ټوک گڼه ۹ ، د پاڼې گڼه ۴۸۹

[2] - الطبري ، محمد بن جرير بن يزيد بن کثير ، جامع البيان فی تأويل القران ، د وفات نيټه ۳۱۰هـ ، تحقيق : أحمد محمد شاكر، لومړی چاپ ، چاپ کال ۱۴۲۰هـ ، چاپ ځای مؤسسة الرسالة و دټوکونو شمير ۲۴، د ټوک گڼه ۱۳، دپاڼې گڼه ۳۶۲

[3] - انفال ، ايت ۴۰

[4] - بخاري ، أبو الطيب محمد صديق خان بن حسن بن علي ، نيل المرام من تفسير ايات الاحکام ، تحقيق: محمد حسن اسماعيل – أحمد فريد المزيدي ، چاپ ځای :دار الکتب العليمة ، د نشر کال ۲۰۰۲م ، د ټوک گڼه ۱، پاڼی گڼه ۳۱۰.

ترجمه :نو خورى تاسي له هغه ماله چې غنيمت اخيستى دى تاسي حلال طيب (پاکيزه ) او وويرېږئ له الله بيشکه الله ښه ښونکى د ( خطياتو) ډير مهربان دى ( داجر او ثواب په انعام سره ) .

ددى ايت ظاهر په دې دلالت کوي چې غنايم ټول د مجاهدينو لپاره دي  او دوى ټول په مساوې ډول ونډه په کې لرې مګر هغه مخکينى ايت (**وَاعْلَمُوا أَنَّمَا غَنِمْتُمْ مِنْ شَيْءٍ فَأَنَّ لِلَّهِ خُمُسَهُ**) دا بيان کړل چې د غنايمو پنځمه برخه به جدا کيږې او پاتي غنايم به د مجاهدينو تر منځ تقسيميږى[2].

او همدارنګه د غنايمو يادونه د الفتح سورت په دږې نورو ايتونو کې هم شوې ده چې دوه يې د خيبر له غنايمو خبرې کوى او بل يې د الله تعالى له هغې وعدې څخه يادونه کوي چې مؤمنان به د قيامت تر ورځې د ډيرو غنيمتونو ښتنتان شي الله تعالى فرمايي (**سَيَقُولُ الْمُخَلَّفُونَ إِذَا انْطَلَقْتُمْ إِلَى مَغَانِمَ لِتَأْخُذُوهَا ذَرُونَا نَتَّبِعْكُمْ يُرِيدُونَ أَنْ يُبَدِّلُوا كَلَامَ اللَّهِ قُلْ لَنْ تَتَّبِعُونَا كَذَلِكُمْ قَالَ اللَّهُ مِنْ قَبْلُ فَسَيَقُولُونَ بَلْ تَحْسُدُونَنَا بَلْ كَانُوا لَا يَفْقَهُونَ إِلَّا قَلِيلًا**)[3].

ترجمه : ژر به ووايي ( تاته ) وروسته پاتى کيدونکي ( خلک) کله چې روان شى تاسي غنيمتونو ( دخيبرته ) ( د پاره ددى ) چې واخلى تاسي هغه ( غنايم ) ، پريږدئ مونږ چې درځو په تاسي پسي ( د پاره د جنګ او غنيمت ) ، اراده لري دوى چې بدل کړې کلام الله ( حکم د الله ) ووايه ( اى محمده ! دوى ته ) چې له سره به متابعت ونه کړئ تاسي زمونږ هم داسي فرمايلي وو الله پخوا له دې بيا به ژر ووايي چې حسد او کينه کوى تاسي له مونږه سره ( په ګټه ( فايده) زمونږ کې اى مؤمنانو**!**) ( داسي نه ده ) بلکه ؤ دوى چې نه به پوهيدل ( له دين د اسلام نه ) مګر خو لږ څه .

يعنې ډير ژر به هغه د حديبې سرغړونکي تاسو ته ووايي چې کله تاسي دخيبر په طرف حرکت وکړئ ، چې مونږ به هم درسره لاړ شو ، او په دې غزا کې به مونږ هم در سره برخه واخلو ، دوى ددې تصميم لري چې د الله تعالى هغه خبره چې د حديبې له خلکو سره يې وعده کړې وه بدله کړي (هغه وعده دا وه چې د خيبر غنايم به يواځې د حديبې د مجاهدينو وى ، يعنې چاچې د حديبې په غزا کې بر خه اخيستې وه ) [4].

---

[1] - انفال ، ايت ۶۹

[2] - زحيلي ، التفسير المنير فى لعقيدة و الشريعة والمنهج ، د. وهبة بن مصطفى ، دويم چاپ ، چاپ کال ۱۴۱۸هـ ، چاپ ځاى : دار الفکر المعاصر – بيروت ، د ټوکونو شمير ۳۰ ، دټوک ګڼه ۱۰ ، د پاڼى ګڼ ۷۷

[3] - الفتح ، ايت ۱۵

[4] - صوفي ، أبوالعباس أحمد بن محمد بن المهدي ، البحر المديد فى تفسير القران المجيد ، د وفات نيټه ۱۲۲۴هـ ، تحقيق : أحمد عبدالله القرشى، چاپ کال ۱۴۱۹هـ ، چاپ ځاى : دکتور حسن عباس زکي – القاهرة .

الله تعالى په بل ایت شریف کې فرمايي (**وَمَغَانِمَ كَثِيرَةً يَأْخُذُونَهَا وَكَانَ اللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا**)[1]

ترجمه : او ولجې ( غنيمت ) ډيرې چې وا به خلي دوى هغه ( ولجې) او دى الله هميشه قوي غالب ډير حكمت والا.

او د خيبر د غنايمو توزيع هغه د مكي د غنايمو بدله ده كومه چې دوى يې تمه درلوده په داسي حال كې چې هغه د بيعت الرضوان خاوندانو ته ځانګړى شوى وو[2].

همدارنګه د الله تعالى په دې قول كې(**وَعَدَكُمُ اللَّهُ مَغَانِمَ كَثِيرَةً تَأْخُذُونَهَا فَعَجَّلَ لَكُمْ هَذِهِ وَكَفَّ أَيْدِيَ النَّاسِ عَنْكُمْ وَلِتَكُونَ آيَةً لِلْمُؤْمِنِينَ وَيَهْدِيَكُمْ صِرَاطًا مُسْتَقِيمًا**)[3]

ترجمه : وعده كړيده له تاسي سره الله د غنائمو او ولجو ډيرو چې وابه يې خلئ تاسي هغه نو ( الله ) ژر در كړل تاسي ته دا ( غنايم او ولجې) او ( الله ) بند كړل لاسونه د خلقو له تاسي نه ، او چې شي دا كار نښه ( د قدرت د الله ) له پاره د مؤمنانو او الله ښيي تاسي ته لياره برابره ( د توكل په الله باندې په هر كار كې .

دغه ژمنه شوي غنيمتونه وروسته له خيبر څخه دي او دا به د قيامت تر ورځې پورې وي ،ابن عباس او جمهور مفسرين وايي چې د اسلام دايره پراخه شوى او نوره به هم پراخيږي او مسلمانان به ډير فتوحات وكړي او ډير غنيمتونه به په لاس راوړي ، چې دا فتحې او غنايم په په شرقي او غربي هيوادونو كې وي حتى په هند او سودان كې[4].

خو د يو مؤمن لپاره دا جايز نه ده چې د غنيمت د لاسته راوړلو په خاطر حرامه وينه تويې كړي ( الله تعالى فرمايي(**يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا ضَرَبْتُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَتَبَيَّنُوا وَلَا تَقُولُوا لِمَنْ أَلْقَى إِلَيْكُمُ السَّلَامَ لَسْتَ مُؤْمِنًا تَبْتَغُونَ عَرَضَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا فَعِنْدَ اللَّهِ مَغَانِمُ كَثِيرَةٌ كَذَلِكَ كُنْتُمْ مِنْ قَبْلُ فَمَنَّ اللَّهُ عَلَيْكُمْ فَتَبَيَّنُوا إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا**)[5]

ترجمه: اى هغو كسانو چې ايمان مو راوړى دى ( اى مومنانو ) كله چې سفر كوى تاسي په لاره د الله كې ( جهاد ته ) نو ښه تحقيق وكړى او مه وايي تاسي هغه چا ته چې در واچوې تاسي ته سلام چې نه يې ته مؤمن ( او د اسلام كلمه د له ويرې ويلې دى) غواړئ تاسي مال (اسباب) ددى دنيوى ژوند (

[1] - الفتح ، ايت ١٩
[2] - تفسير المنير ، ج٢۶، ص ١۶۵
[3] - الفتح ، ايت ٢٠
[4] - أندلسي ، أبو حيان محمد بن يوسف بن على ، البحر المحيط فى التفسير ، د وفات نيټه ٧۴۵هـ ، تحقيق: صدقى محمد جميل ، چاپ كال ١۴٢٠، چاپ ځاى دار الفكر – بيروت ، د توک ګڼه ٩، د پاڼى ګڼه ۴٩٣.
[5] - نساء ، ايت ٩۴

ژوندون لړ خسیس او که واقعی غنیمت غواړئ) پس دي له الله سره غنیمتونه ډیر، همداسې وئ تاسې ( هم چې یوائې د اسلام په اظهار سره مامور شوې وئ ) پخوا له دي نو فضل وکړ الله پر تاسې نو ښه تحقیق کوئ !( او هیچا ته تش په شبهه ضرر مه رسوئ) بیشکه الله دی په هغه څه چې تاسې (یې) کوی ښه خبردار ( پری جزا درکوي).

ددې ایت د نزول سبب دا وو چې نبي کریم (صلی الله علیه وسلم ) صحابه د یو کلي د فتحي لپاره ولیږل ، کله چې هغوی هغه کلي ته ورسیدل نو یو شخص په ډیرې تیزئ راغی او سلام یې واچاوه ، اسامه ابن زید هغه په توره وواهه او ویې واژه چې بیا وروسته نبي کریم (صلی الله علیه وسلم ) باندې دا ایت نازل شو[1]

په حدیث شریف کې هم ددی ایت سبب نزول بیان شوی دی ( **عن ابن عباس (رضی الله عنه ) أنه مر رجل من بني سلم بنفر من اصحاب الرسول الله (صلی الله علیه وسلم) وهو یسوق غنما له فسلم علیهم فقالوا ما سلم علینا الا لیتعوذ منا فعمدوا الیه فقتلوه و اتوا بغنمه النبی (صلی الله علیه وسلم)** نو بیا دایت نازل شو[2]

او په غنایمو کې د کفارو ټول مال شاملیږې همدارنګه په غنایمو کې د کفارو بندیان هم شاملیږې چې د مجاهدینو ترمنځ به تقسیمیږې الله تعالی فرمایې (**فَكُلُوا مِمَّا غَنِمْتُمْ حَلَالًا طَيِّبًا وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ**)[3]

ترجمه : نو خوری تاسې له هغه ماله چې غنیمت اخیستی دی تاسې حلال طیب ( پاکیزه) او وویریږی له الله بیشکه الله ښه ښنونکی د ( خطیاتو ) ډیر مهربان دی ( د اجر او ثواب په انعام سره ) .

دا ایت د هغه مال په اباحت باندې دلیل ده چې د بندې څخه اخیستل کیږې او د غنیمت له مال سره به یو ځای په مجاهدینو تقسیمیږې[4].

کله چې د بدر په غزا کې مسلمانانو د کفارو (۷۰) تنه ونیول نو نبی کریم ( صلی الله علیه وسلم ) د هغوی په باره کې د خپلو اصحابو سره مشوره وکړه چې په سر کې یې ابوبکر او عمر(رضی الله عنهما) وو له مشورې وروسته یې په هغوی باندې د هغوی د ازادئ په مقابل کې فدیه کیښوده چې دغه فدیه هم دغنیمت په مال کې حسابیږې، له عبدالله ابن عباس (رضی الله عنه ) څخه روایت دی

---

[1] - لباب التأویل فی معانی التنزیل ، ج۱، ص ۴۱۳.
[2] - مسند امام أحمد ، ج۱، ص۲۲۹ ، د حدیث نمبر ۲۰۲۳، الباني په التعلیقات الحسان کې ورته حسن ویلی دحدیث نمبر ۴۷۳۲
[3] - الأنفال ، ایت ۶۹
[4] - ثعالبي ، أبو زید عبدالرحمن بن محمد ، الجواهر الحسان فی تفسیر القران ، د وفات نیټه ۸۷۵هـ ، تحقیق: شیخ محمد علی معوض او عادل احمد عبدالموجود ، لومړی چاپ ، چاپ کال ۱۴۱۸هـ ، چاپ ځای : دار احیاء تراث العربي – بیروت ، دټوک ګڼه ۳، د پاڼی ګڼه ۱۵۶.

هغه وايې نبى كريم (صلى الله عليه وسلم ) أبوبكر او عمر ته وويل ( **ما ترون فى هؤلاء الأسارى ؟ فقال ابوبكر يا نبى الله ، هم بنو العم و العشيرة ، أرى أن تأخذ منهم فدية فتكون لنا قوة على الكفار ، فعسى الله أن يهديهم للاسلام ،فقال رسول الله (صلى الله عليه وسلم) (ما ترى يا ابن الخطاب ؟ قلت : لا والله يا رسول الله ، ما أرى الذى رأى أبوبكر ، ولكني أرى أن تمكنا فنضرب أعناقهم ، فتمكن عليا من عقيل فيضرب عنقه ، و تمكني من فلان نسيبا لعمر ، فأضرب عنقه ، فان هولاء أئمة الكفر وصناديدها ، فهوي رسوالله (صلى الله عليه وسلم) ما قال أبوبكر**[1]

ترجمه: په دغو بنديانو كې مو رايه څه ده ؟ ابوبكر ( رضى الله عنه ) وويل : اى د الله نبي ( صلى الله عليه وسلم) دوى د موږ قوميان او توربوران دي زما رايه داده چې فديه ترينه واخيستل شي او بيا به زموږ د ډلي څخه حساب او دكافرو په مقابل كې به زموږ قوت شي او ښايي الله تعالى ورته د اسلام راوړلو هدايت وكړي نو رسول الله (صلى الله عليه وسلم ) وويل چې ته څه وايې اى ابن الخطابه ؟ ما ورته وويل : اى د الله تعالى رسوله ( صلى الله عليه وسلم) نه زما رايه داسې نه ده زما د په الله تعالى قسم وي چې زه داسې څه نه وينم چې ابوبكر ( رضى الله عنه ) وايي ، مګر زما رايه داده چې موږ ته وخت راكړل شي چې څټونه يې ووهو او على ( رضى الله عنه ) د عقيل څټ ووهي او فلانى سړي به په برخه د عمر شي او دهغه څټ به ووهي ، ځكه چې دا خلک د كفارو مشران او كومک ګر دي پس رسول الله ( صلى الله عليه وسلم) د ابوبكر رايي او نظر ته ميلان او هغه يې تائيد كړ.

د هر اسير فديه د ورځې څلويښت اوقيى سره زر تعين شول ، په عباس باندې سل اوقيى سره زر فديه كيښودل شوه ځكه هغه بډايه وو په عقيل باندې اتيا اوقيى سره زر فديه كيښودل شوه ځكه دى هم د نورو په نسبت ښه وو ، عباس وويل : خپلوى داسې څه را وكړل([2]) بيا الله تعالى دا ايت نازل كړ (**يَاأَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِمَنْ فِي أَيْدِيكُمْ مِنَ الْأَسْرَى إِنْ يَعْلَمِ اللَّهُ فِي قُلُوبِكُمْ خَيْرًا يُؤْتِكُمْ خَيْرًا مِمَّا أُخِذَ مِنْكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ**)[3].

ترجمه : اى نبي**!** ووايه ته هغه چا ته چې په لاسونو ستاسې كې دي له بنديانو ( قيديان) كه معلوم كړى الله په زړونو ستاسو كې كوم خير ( ايمان ) نو در به كړي تاسې ته خير ( بهتر ، غوره ) له هغه (مال ) څخه چې اخستل شوى دى له تاسې نه او مغفرت به وكړې تاسې ته او الله ښه ښونكې د ( خطياتو ) ډير رحم ولا دى ( د اجر او ثواب په انعال سره ).

[1] - مسلم ، كتاب الجهاد ، باب الامداد بالملائكة فى غزوة بدر، ج٣، ص ١٣٨٣، دحديث نمبر ١٧٦٣.
[2] - بحر العلوم ، ج٢، ص ٢٠٧.
[3] - انفال ، ايت ٧٠

چې په همدې اساس بيا اکثره بنديان ددوی کورنيو ته وسپارل شول[1].

دپورتني تفصيلي څيړني څخه لاندی نتيجې ته ورسيدو چې:

۱- غنايم حلال دې او دکفارو دمال لاسته راوړل په جنګ کې جواز لري ، بلکه د يو غوره غنيمت څخه شميرل کيږي ،ځکه د رسول الله (صلی الله عليه وسلم ) رزق له همدې څخه وو نبي کريم (صلی الله عليه وسلم ) فرمايي ( **جعل رزقي تحت ظل رمحي وجعل الذلة والصغار على من خالف أمري**)[2].

ترجمه : خدای ( جل شأنه) زما روزي د تورې تر سيوري لاندې مقرره کړيده او هر هغه څوک چې د ما له امر څخه سرغړونه ، خدای ( جل شأنه) ورته ذلت او خواري مقرره کړيده .

او دا هغه رزق ته ويل کيږي چې په عزت او شرف سره لاس ته راغلی وي [3].

۲- دغنائمو حلال والي په ابتداء کې بغير له ښکاره تقسيم څخه راغلی وو لکه څنګه چې سورت انفال په لومړيو کې ورته اشاره شوی او رسول الله د مجاهدينو تر منځ په مساوي ډول تقسيم کړ چې بيا وروسته دا ايت نازل شو (**وَاعْلَمُوا أَنَّمَا غَنِمْتُمْ مِنْ شَيْءٍ فَأَنَّ لِلَّهِ خُمُسَهُ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ إِنْ كُنْتُمْ آمَنْتُمْ بِاللَّهِ وَمَا أَنْزَلْنَا عَلَى عَبْدِنَا يَوْمَ الْفُرْقَانِ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعَانِ وَاللَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ**)[4]

ترجمه: او پوه شیٔ( ای مسلمانانو!) بيشکه هر هغه شی چې په غنميت واخست تاسې ( له کفاروپه غلبې) سره له يوه شي نه نو بيشکه الله لره دی ( حکم کول په ) خمس د هغه ( کښې) او ( دغه خمس ثابت دی ) له پاره د رسول ( د الله ) او له پاره د خپلوانو ( د رسول الله ) او ( لپاره د ) يتيمانو او ( لپاره د) مسکينانو ( محتاجانو) او ( لپاره د ) مسافرانو او (پاتې څلور برخې دی له پاره د غازيانو او صبر وکړئ پر دغه تقسيم ای مقاتلانو!) که ايمان لرئ په الله او په هغو ( ايتونو يا ملايکو يا نصرت) چې نازل کړی دی مونږ پر بنده خپل په ورځ د فيصلې کښې ( دحق له باطل څخه چې د ( بدر ورځوه) هغه ورځ چې سره مخامخ شولې دواړه جمعې ( ډلې ) ، او الله پر هر شي باندې ( چې اراده وفرمايي ) ښه قادر دی ( چې د لږو غلبه په ډيرو ده ).

[1] - محمد عزت ، دروزة محمد عزت ، التفسير الحديث ، چاپ کال ۱۳۸۳هـ ، چاپ ځای : دار احياء التراث العربې – القاهرة ، دټوک ګڼه ۷، دپاڼې ګڼه ۹۵
[22] - مسند أحمد ، ج۲، ص ۹۲ دحديث نمبر ۵۶۶۷، الباني ورته صحيح ويلی ، ارواء الغليل د حديث نمبر ۱۲۶۹
[3] - زاد المعاد فی هدی خير العباد ، ج۵، ص۷۰۳
[4] - انفال ، ايت ۴۱

چې بیا غنایم په پنځو برخو تقسیمدل او پنځمه برخه د رسول الله او د هغه دخپلوانو، یتیمانو ، مسکینانو، مسافرو لپاره او څلور برخې نور د مجاهدینو تر منځ تقسیمیږي چې سپاره ته درې برخې او پیاده ته یوه برخه ده نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) فرمایي ( **أسهم للرجل وفرسه ثلاثة أسهم ، للرجل سهم ، وللفرس سهمان** )[1].

۳- غنایم د قیامت تر ورځې حلال دي الله تعالی فرمایی(**وَعَدَكُمُ اللَّهُ مَغَانِمَ كَثِيرَةً**)[2] دقیامت تر ورځی.

۴- د غنیمت د لاس ته راوړلو په خاطر په هغه چا باندې تیری کول حرام دي چې وینه تویول یې جایز نه وي .

## دویم مطلب : فئ

الف: فئ په لغت کي : هغه څه چي د دښمن سره په جنګ کي مسلمانانو ته راګرځي فئ ورته ویل کیږي [3].

ب: فئ په اصطلاح د شرع کې: هغه مال ته ویل کیږي چې مسلمانان هغه له کافرانو څخه بغیر له جنګ څخه ونیسي لکه د بني نضیرو مال [4].

او فئ یې ځکه ورته وویل چې له کفارو څخه را ګرځول کیږي او هغوی یې مستحق نه شمیرل کیږي مسلمانانو ته او هغوی یې مستحق شمیرل کیږي[5].

الله تعالی فرمایي(**وَمَا أَفَاءَ اللَّهُ عَلَى رَسُولِهِ مِنْهُمْ فَمَا أَوْجَفْتُمْ عَلَيْهِ مِنْ خَيْلٍ وَلَا رِكَابٍ وَلَكِنَّ اللَّهَ يُسَلِّطُ رُسُلَهُ عَلَى مَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ**)[6].

نرجمه: او هغه مال چې را ګرځولی دی الله په رسول خپل باندې له مالونو ددوی پس نه ؤ ځغلولي تاسي پر دوی هیڅ اس او نه هیڅ اوښ لیکن الله مسلطوې بری ورکوي رسولانو خپلو ته پر هغه چا باندې چې اراده وفرمایي او الله پر هر څیز باندې ښه قادر دی ( چې ځینې یې غلبه د احباوو الله ده پر اعداؤ الله باندې).

[1] - البیهقي ، أحمد بن الحسین بن علي ، سنن البیهقي الكبرى ، تحقیق: محمد عبدالقادر عطا ، چاپ کال : ۱۴۱۴هـ، چاپ ځای : المكتبة دار الباز – مكة المكرمة ، د ټوکونو شمیر ۱۰، د ټوک ګڼه ۶، د پاڼې ګڼه۳۲۵، دحدیث نمبر۱۲۶۴۵.

[2] - الفتح , ایت 20

[3] - المخصص لابن سیده ، باب الفئ ، ج۱، ص۳۲۶.

[4] - تفسیر المنیر ، ج۱۸، ص ۷۵

[5] - سعدي ، تیسیر الكریم الرحمن فی تفسیر كلام المنان ، عبدالرحمن بن ناصر بن عبدالله ، د وفات نیټه ۱۳۷۶هـ ، تحقیق : عبدالرحمن بن معلا اللویحق ، لومړی چاپ ، چاپ کال ۱۴۲۰هـ ، چاپ ځای مؤسسة الرسالة ، دټوکونو شمیر ۱، د ټوک ګڼه ۱، دپاڼې ګڼه ۸۵۰.

[6] - الحشر ، ایت ۶

کله چې الله تعالی (جل شأنه) د بني نضيرو مال بغير د کوم جنګ او جګړې څخه مسلمانانو ته په لاس ورکړ نو مسلمانان د هغه په تقسيم کی د جاهلي سنتو په فکر وو ، همدا وو چې دا ايت نازل شو او دا يې ورته بيان کړل چې د فئ مال خاص د الله تعالی د رسول دی [1].

آلوسي[2] بيا ويلې چې کله بنې نضيرو خپل وطن او مالونه پريښودل نو مجاهدينو فکر وکړ چې دا به هم د غنيمت په څير ددوی وي ، چې بيا الله ورته بيان کړه چې دا ( فئ) ده او د جنګ له لارې لاسته نه دی راغلی بلکه د محاصرې له لارې لاسته راغلی دی [3].

مجاهد ويلې دي : الله( جل شأنه ) په دې پوهيده چې خپل رسول بريالی کوې بغير له جنګ او جګړې څخه[4].

نو له همدې وجې دا مال د غنايمو په څير نه تقسيمېږي او ددې حکم (فئ) دی او مجاهدين په کې د غنايمو په څير حق نلرې.

## د(فئ) مالونو تقسيم :

ابن سعدي[5](رحمه الله ) فرمايي : د(فئ) مال پنځه تقسيمه کيږې ، يوه برخه يې د الله تعالی او دهغه درسول لپاره ده چې د نبي کريم (صلی الله عليه وسلم ) له وفات څخه وروسته به د مسلمانانو په مصالحو کې مصرفيږې ، بله برخه يې د رسول الله (صلی الله عليه وسلم ) د خپلوانو لپاره ده ( بني هاشم او بني عبدالمطلب) چې دا دواړه قبيلې په دې برخه کې مساوي حقوق لري ، بله برخه يې د يتيمانو لپاره ده ، بله برخه يې دمسکينانو لپاره ده او وروستې برخه يعنې پيځمه برخه يې د مسافرو لپاره ده [6].

---

[1] - شوکاني، محمد بن علی بن عبدالله ، فتح القدير ، لومړی چاپ ، چاپ کال ۱۴۱۴هـ ، چاپ ځای : دار ابن کثير – دار الکلم الطيب – دمشق – بيروت ، د ټوک ګڼه ۵، د پاڼی ګڼه ۲۳۵.

[2] - محمود بن عبدالله الحسيني الألوسې ، شهاب الدين په بغداد کې په کال ۱۲۱۷هـ کې تولد شوی او همـلته ( بغداد کې) په کال ۱۲۷۰هـ کې وفات شوی دی ، يو د لويو مفسرينو او محدثينو له جملې څخه شمير کيږي او د مشهورو تأليفاتو څخه يې روح المعانې او غرائب الاغتراب دی .

[3] - الوسې ، شهاب الدين محمود بن عبدالله،روح المعانی فی التفسير القران العظيم والسبع المثانی،تحقيق : علی عبد الباری عطيه،لومړی چاپ ، چاپ کال ۱۴۱۵هـ ، چاپ ځای : دار الکتب العليمه – بيروت،د ټوکونو شمير ۱۶، د ټوک ګڼه ۱۴،دپاڼی ګڼه ۲۳۸،

[4] - دمشقې ، أبوحفص سراج الدين عمر بن علی ، اللباب فی علوم الکتاب ، د وفات نيټه ۷۷۵هـ ، تحقيق: شيخ عادل أحمد عبدالموجود – علی محمد عوض، لومړی چاپ ، چاپ کال ۱۴۱۹هـ ، چاپ ځای : دار الکتب العلمية – بيروت – لبنان ، دټوکو شمير ۲۰، د ټوک ګڼه ۱۸، دپاڼی ګڼه ۵۷۵.

[5] - عبدالرحمن بن ناصر بن عبدالله السعدي التميمي په کال ۱۳۰۷هـ کې تولد شوی دی او په کال ۱۳۷۶هـ کې وفات شوی دی ، نوموړی مفسر او د حنابله علماؤو له جملې څخه شميرل کيږي ، د مشهورو کتابونو څخه يې تيسير الکريم الرحمن فی تفسير کلام المنان او طريق الوصول الی العلم المأمول من الأصول دي.

[6] - تفسير سعدي ، ج۱، ص۸۵۰

الله تعالی فرمايي(**مَا أَفَاءَ اللَّهُ عَلَى رَسُولِهِ مِنْ أَهْلِ الْقُرَى فَلِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ كَيْ لَا يَكُونَ دُولَةً بَيْنَ الْأَغْنِيَاءِ مِنْكُمْ وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ**)[1].

ترجمه: هغه شي چې را ګرځولې دي الله پر رسول خپل باندې له ( مالونو د) اهل د قريو او کليو ( بې له جنګه) نو ( هغه ) دي الله لره او رسول ( د الله ) لره ، او ( دغه اموال دي) خپلوانو د رسول ( الله ) لره ، او ( دغه اموال دي) يتيمانو او مسکينانو لره او مسافرو لره ( مقرر کړې دی الله دا قسمت) لپاره ددې چې ونه ګرځي ( دغه اموال ) دولت په منځ د غنيانو کې له تاسې څخه ( چې له خپله حقه زيات واخلی او فقراوو ته لږ ورکړي) ، او هغه څه چې در کړې تاسې ته رسول ( د الله ) نو وايې خلئ او قبول يې کړئ ! او هغه څه چې منع کوي ( رسول الله) تاسې له هغه څخه نو بيرته شئ ترې ( مه يې غواړئ) او وويرېږئ له ( عذاب د ) الله په ځان ساتلو له معاصيو بيشکه الله سخت دی عذاب ( دده)

له دې ايت څخه په ښکاره معلومېږي چې يتيمان ، مسکينان، او مسافر د ( فئ ) په مال کې حق لري او د (فئ ) له مال څخه بايد ورته حق ورکړل شي ، اما د رسول الله حق د هغه له وفات څخه وروسته د مسلمانانو په مصالحو کې مصرفيږي لکه د مساجدو او مدارسو ابادول .

بغوي[2] ( رحمه الله ) فرمايي : (فئ) هغه مال ته ويل کيږي چې له کفارو څخه مسلمانانو ته بدون د جنګ او جګړې څخه په لاس ورشی ، او کله چې کفار دار الاسلام ته د تجارت لپاره داخل شي نو دهغوی له مال څخه يوه برخه به اخيستل کيږي او همدارنګه کله چې د کفارو څخه يو څوک په دار الاسلام کې وفات کيږي او وارث نه لری نو دده ټول مال (فئ) شميرل کيږي او د (فئ) مال خاص درسول الله (صلی الله عليه وسلم) په ژوندون کې دهغه لپاره ده او د نبي کريم (صلی الله عليه وسلم) د وفات څخه وروسته به د (فئ) مال چاته او يا چيرته مصرفيږي په دی کې اختلاف ده ، بعضو ويلې چې د(فئ) مال د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) له وفات څخه وروسته د ائمه وو(دمسلمانانو د خليفه ګانو) ده او له امام شافعي (رحمه الله ) څخه په دی پاره کې دوه قوله را نقل شوی لومړی داچې د (فئ ) مال به هغو مجاهدينو ته ورکول کيږي چې دهغوی نومونه د جهاد په کتابچه کې ثبت شوې وي ځکه هغوی قايم مقام د نبي کريم (صلی الله عليه وسلم ) دي د دښمن په لمنځه وړلو کې .

---

[1] - الحشر, ايت 7

[2] - الحسين بن مسعود بن محمد ، أبومحمد په کال ۴۳۶هـ کې تولد او په کال ۵۱۰هـ کې وفا شوی دی او يو د لويو مفسرينو ، محديثينو او فقيهو علماؤو له جملې څخه شميرل کيږي له مشهور کتابونو څخه لباب التأويل فی معانی التنزيل او مصابيح السنة دی .وګوره: الاعلام للزرکلی ، ج۲، ص ۲۵۹.

دوهم دا چې د (فئ) مال به د مسلمانانو په مصالحو کې مصرفیږي او اکثره علماء هم په همدې نظر دي چې د (فئ) مال د ټولو مسلمانانو ده او ټول مسلمانان په کې حق لري[1].

## دریم مطلب: نفل

الف نفل په لغت کې: زیادت ته ویل کیږي ، له همدې وجې غنیمت ته نفل ویل کیږي ځکه په جهاد کې مقصد ( اعلاء کلمة الله ) ده نه غنیمت[2].

ب: نفل په اصطلاح کي : هغه مال ته ویل کیږي چې امیر یې ځینې مجاهدینو ته د غنیمت له برخې څخه اضافه ورکړي ، د ځینې مصلحتونو په اساس[3].

أبوعبید[4] ویلي: چې امیر بعضې سر ښندونکو ته د هغوی دفضیلت او برتریت په خاطر دهغوی د برخو څخه څه اضافه هم ورکولی شي چې دغه کار له اسلام څخه د ښې دفاع په خاطر او په دې خاطر چې سر ښندونکې په دښمن باندې پیاوړی وی دی[5].

شنقیطي (رحمه الله ) فرمایي : ځینو سرښندونکو ته د نفل مال ورکول د امیر لخوا جواز لرې د هغوی د زړور توب ، عاجزی او تحمل په خاطر او په دی خبره حدیث د پیغمبر (صلی الله علیه وسلم ) دی ( **خیر فرساننا الیوم أبو قتادة وخیر رجالتنا سلمة قال : ثم اعطاني رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سهمین ،سهم الفارس و سهم الراجل فجمهما لي جمیعا**)[6].

ترجمه: زموږ د اس سوارو غوره انسان نن قتاده وو او د پلو غوره سړی مو سلمة وو سلمة وویل : چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ما ته دوه برخې راکړې هم یې د سواره برخه او هم یې د پیاده.

---

[1] - البغوي،أبو محمد الحسین بن مسعود بن محمد ، معالم التنزیل فی تفسیر القران ( تفسیر البغوي) ، د وفات نیټه ۵۱۰هـ ، تحقیق : عبدالرزاق المهدي ، لومړی چاپ ، چاپ کال ۱۴۲۰هـ ، چاپ ځای : دار احیاء التراث العربې – بیروت ، دټوکونو شمیر ۵، دټوک ګڼه ۲، د پاڼی ګڼه ۲۹۵.

[2] - مناوې ، محمد عبدالرؤوف ، التوقیف علی مهمات التعاریف، تحقیق د. محمد رضوان الدایة، لومړی چاپ ، چاپ کال ۱۴۱۰هـ ، چاپ ځای : دار الفکر المعاصر ـ بیروت – دمشق، د ټوکونو شمیر ۱، دټوک ګڼه ۱،دپاڼی ګڼه ۷۰۷.

[3] - فقه المیسر ، ج۷، ص ۲۵۲

[4] - القاسم بن سلام بن عبدالله ، حافظ او مجتهد قران یې له أبی الحسن ، اسماعیل بن جعفر او شجاع بن أبی نصر څخه لوستی او حفظ کړی ده ، له مشهورو کتابونو څخه یې ( فضایل القران ) او (ناسخ او منسوخ) دی او په کال ۲۲۴هـ کې په مکه کې وفت شوی ده .وګوره : ذهبي ، شمس الدین أبوعبدالله محمد بن أحمد ، سیر أعلام النبلاء ، د وفات نیټه ۷۴۸هـ ، تحقیق : د محقیقینو یوه ډله د شعیب الارناؤوط په لارښونه ،دریم چاپ ، چاپ کال ۱۴۰۵هـ ، چاپ ځای مؤسسة الرسالة ، دټوکونوشمیر ۲۵، دټوک ګڼه ۳، دپاڼی ګڼه ۴۵۶.

[5] - ابن کثیر ، أبوالفداء اسماعیل بن کثیر ، تفسیر القران العظیم ، تحقیق : سامی بن محمد سلامة ، دویم چاپ ، چاپ کال ۱۴۲۰هـ ، چاپ ځای : دار الطیبة للنشر والتوزیع ، د ټوکونو شمیر ۸، د ټوک ګڼه ۴، دپاڼی ګڼه ۹.

[6] - مسلم ، کتاب الجهاد ، باب غزوة ذی قرد ، ج۳، ص ۱۴۳۳، د حدیث نمبر ۱۸۰۷.

همدارنګه شیخ الاسلام ابن تیمیة[1] (رحمه الله ) ویلی : بعضی حالات داسې وی چې هغه سبب ګرځي په ورکړه د نفلي مال کې ، بیا وایي : د امام لپاره دا جائز ده چې ځینو سربښندونکو ته د هغوی د زیاتې زړورتیا دښودلو له امله ددښمن په مقابل کې نفلي مال ورکړې ، یا دا چې سر ښندونکې ښه اس ځغلونکې وي او د ښه اس ځغلوني له امله ددښمن مخه نیسي او د هغوی سره جګړه کوې او له مینځه یې وړې او دا کار نبي کریم (صلی الله علیه وسلم ) او ټولو صحابوو کړیده [2].

نو اساسي خبره دا شوه چې غنیمت په پنځو برخو تقسیمیږې چې څلور برخې یې په مساوي ډول د ټولو سر ښندونکو تر منځ تقسیمیږې چې په دی کې به د پیاده برخه له پیاده سره برابره وي او د سواره برخه په له سواره سره برابره وي مګر کچیرته امیر د ځینو سربښندونکو شجاعت لیدلی وي او یا که غواړي چې د هغوی شجاعت وازمایي نو کولای شي چې نفل مال ورته ورکړې لکن اساسي خبره داده چې د کوم ځای څخه به دا نفل مال اخیستل کیږې ؟ او مجاهد به دغه زیادت له کوم ځای څخه لاس ته راوړی ؟ بغوي (رحمه الله ) فرمایي : دا چې نفل به د کوم ځای څخه ورکول کیږې په دې اختلاف ده د سعید ابن المسیب قول داده چې د غنیمت له هغې پنځمې برخې څخه به ورکول کیږې ځکه هغه خو دنبي کریم (صلی الله علیه وسلم ) برخه ده او اوس خو هغه وفات شوی دی او بعضو نورو ویلې چې نفل به د هغو څلورو نورو برخو څخه ورکول کیږې چې احمد او اسحق هم د همدې خلکو له جملې شمیرل کیږې ، او ځینو نورو بیا ویلې چې نفل به د غنیمت له سر څخه ورکول کیږې مخکې له دې څخه چې تقسیم شي[3].

## څلورم مطلب : تجارت

تجارت  خرید او فروش، دمال د اړولو راړولو ته ویل کیږې دګټې د لاس ته راوړلو په خاطر[4].

أبوحیان وایي : تجارت د تاجر کسب ده او هغه خپل مال اړوي او راړوي د زیاتوالې او نمو د پاره [5].

تجارت هغه کسب ده چې ډیری خلک یې کوي او له ډیری پخوا زمانې را هیسې د خلکو تر منځ مروج ده او له ډیرې پخوا زمانې څخه په خپل مابین کې را کړه ورکړه درلوده او هغه د اړتیا وړ

---

[1] - أحمد بن عبدالحلیم بن عبدالسلام بن عبدالله په کال ۶۶۱هـ ق کې په حران کې تولد شوی دی او په کال ۷۲۸هـ ق کې په دمشق وفات شوی دی له مشهورو کتابونو څخه یې ( الفتاوی ) او الجمع بین العقل والنقل دي. وګوره : الاعلام للزرکلې ، ج۱، ص ۱۴۴.

[2] - الحرانې ، تقی الدین أبو العباس أحمد بن عبد الحلیم ، مجموع الفتاوی ، دوفات نیټه ۷۲۸ ، تحقیق : عبدالرحمن بن محمد بن قاسم ، د نشر کال ۱۴۱۶هـ ، چاپ خای : مجموعة ملک فهد للطباعة المصحف الشریف ، د ټوک ګڼه ۲۸ ، د پاڼې ګڼه ۲۷۱.

[3] - تفسیر البغوې، ج۲، ص ۲۹۴.

[4] - التوقیف علی مهمات التعاریف، فصل الجیم ، ج۱، ص۱۶۳.

[5] - أندلسې ، أبو حیان محمد بن یوسف بن علی ، البحر المحیط فی التفسیر ، د وفات نیټه ۷۴۵هـ ، تحقیق : صدقې محمد جمیل ، چاپ کال ۱۴۲۰هـ ، چاپ ځای : دار الفکر – بیروت ،  دټوک ګڼه ۱، د پاڼی ګڼه ۱۰۴.

شیونه به یې په یو بل خرڅول او اخیستل لکه خوراکي توکي ، مایعات ، کالي او داسې نور او دا ټول هغه څه وو چې خلکو به د تجارت او راکړې او ورکړې له لارې لاس ته راوړل چې په بازارونو کې یې شتون حتمي او لازمي وو یعني خلکو به هغه د اړتیا څخه اضافه توکي بازارونو ته راوړل او په نورو به یې خرڅول او په مقابل کې به یې د خپلې اړتیا وړ توکي اخیستل .

تجارت د مال د لاس ته راوړلو لپاره یوه لویه او مناسبه لار ده چې په مختلفو څیزونو سره کیږي لکه د کالیو تجارت ، دمیوو تجارت ، دسبزیجاتو تجارت ، د پسونو او مالونو تجارت او داسې نور او ددغو ټولو څیزونو لپاره غوره لار هم تجارت ده چې الله ( جل شأنه ) په کې برکت اچوې.

دنبي کریم (صلی الله علیه وسلم ) څخه د غوره او بهتره کسب په باره کې پوښتنه وشوه هغه (صلی الله علیه وسلم ) په ځواب کي وویل (**بیع مبرور وعمل الرجل بیده**)[1].

ترجمه : صحیح او درسته بیع او لاسې کار.

همدارنګه رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي( **ان أطیب ما أکل الرجل من کسبه**)[2].

ترجمه : غوره مال او روزي هغه ده چې یو سړی یې د خپل لاسي کار څخه وخوري.

د تجارت اهمیت او د خلکو ضرورت ته په کتو په قرانکریم کې ډیر ځله دا کلمه ذکر شوې ده په سورة بقره کې الله (جل شأنه ) نوموړي موضوع ته داسې اشاره کوي(**وَلَا تَسْأَمُوا أَنْ تَكْتُبُوهُ صَغِيرًا أَوْ كَبِيرًا إِلَى أَجَلِهِ ذَلِكُمْ أَقْسَطُ عِنْدَ اللَّهِ وَأَقْوَمُ لِلشَّهَادَةِ وَأَدْنَى أَلَّا تَرْتَابُوا إِلَّا أَنْ تَكُونَ تِجَارَةً حَاضِرَةً تُدِيرُونَهَا بَيْنَكُمْ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَلَّا تَكْتُبُوهَا وَأَشْهِدُوا إِذَا تَبَايَعْتُمْ وَلَا يُضَارَّ كَاتِبٌ وَلَا شَهِيدٌ وَإِنْ تَفْعَلُوا فَإِنَّهُ فُسُوقٌ بِكُمْ وَاتَّقُوا اللَّهَ وَيُعَلِّمُكُمُ اللَّهُ وَاللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ**)[3].

ترجمه : او مه خوابدي کیږئ ( معامله دارانو **!**) له دی چې ولیکې دا ( حق که ) لږ وي او که ډیر وي تر نیټې دهغې پورې ، دا ( لیکل) ستاسې پوره عدل دی په نزد د الله او ښه مرسته کوونکې ( ډیر محکم) دی دپاره ( د اداء) د شاهدې او ډیر نژدې دی دې ته چې شکمن نه شئ تاسې ( ددې معاملې په نیټه او مقدار کې) مګر که وي ( دا معامله ) ستاسې تجارت په حضور ( لاس په لاس ) چې چلوې یې تاسې ( په راکړه او ورکړه سره ) په خپلو منځو کې پس نشته پر تاسې باندې هیڅ ګناه چې ونه لیکئ تاسې دا ( معامله ) او شاهدان ونیسئ تاسې**!** کله چې یو له بل سره پلورل (اخیستل ) یا پیرودل

[1] - مسند أحمد ، ج۲۵، ص۱۵۷، په صحیح الجامع کي الباني ورته صحیح ویلی د حدیث نمبر ۱۱۲۶.
[2] - سنن ابن ماجه ، کتاب التجارات ، باب کسب الرجل ، ج۳،ص ۲۷۲،په ارواء الغلیل کي الباني ورته صحیح ویلی د حدیث نمبر ۱۶۲۶.
[3] - بقره ، ایت ۲۸۲.

(خرڅول ) (بيع او شراء) كوئ تاسې او نه دې رسوې نقصان كاتب او نه شاهد (يعنې په كتابت او شهادت كې دې څه زياتوالی او كموالی نه كوي ) او ضرر دی نه رسولی شي كاتب او شاهد ته ( يعنې كه معذور وې زور د پر هيڅوا ونه كړل شي او وكړ تاسې ( دا كار د ضرر) نو بيشكه دا ګناه ده په تاسې پورې او وويريږې تاسې له الله نه او ښوونه ( د احكامو) كوی تاسې ته الله او الله په هر شي باندې ښه عالم دی او ټول شيونه ورته ښه معلوم دي.

همدارنګه په بل ايت شريف كې الله تعالی فرمايي (**يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ إِلَّا أَنْ تَكُونَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِنْكُمْ وَلَا تَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا**)[1].

ترجمه : ای هغو كسانو چې ايمان مو راوړی دی مه خورئ تاسې! مالونه د يو بل په خپلو مينځونو كې په ناروا سره ! ( خوری يې كه وي دا ( مالونه په خورې يې اموال د ) تجارت ( چې صادروې ) په خوښې سره له تاسو نه ، او مه وژنئ تاسې سره ځانونه خپل ( يعنې يو بل يا مه كوئ تاسې هغه كار چې ستاسې د هلاكت سبب وی ) بيشكه چې الله دی پر تاسې باندې ډير مهربان ( د اجر او ثواب به انعام سره ) .

په دې ايت شريف كې د خلكو د مال د لاسته راوړلو بيان شوی چې د تجارت له لارې يې لاسته راوړل جايز دي ، مګر وروسته انسان د هغه تجارت او اخيستلو او خرڅولو څخه منع شوی چې هغه د لمانځه ، دين او اخرت د پاتې كيدو باعث ګرځي الله تعالی فرمايي (**يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُلْهِكُمْ أَمْوَالُكُمْ وَلَا أَوْلَادُكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ وَمَنْ يَفْعَلْ ذَلِكَ فَأُولَئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ**)[2].

ترجمه : ای هغو كسانو چې ايمان مو راوړی دی مشغول او غافل د نه كړي تاسې مالونه ستاسې او نه اولاد ستاسې له ذكره ياده د الله څخه او هغه څوک چې وكړې دا كار نو هم دغه كسان هم دوی دي زيانكاران ( چې بی برخې شول له باقي څخه په غوره كولو د فاني).

بيا وروسته الله ( جل شأنه) دهغو اشخاصو صفت كړی دی چې هغوی له خپل رب سره په سمه لاره ځي او دهغوی تجارت د الله له عبادت څخه د پاتې كيدو باعث نه ګرځي الله تعالی فرمايي(**رِجَالٌ لَا تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ وَلَا بَيْعٌ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ وَإِقَامِ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ يَخَافُونَ يَوْمًا تَتَقَلَّبُ فِيهِ الْقُلُوبُ وَالْأَبْصَارُ**)[3].

---

[1] - نساء ، ايت ۲۹

[2] - المنافقون ، ايت ۹

[3] - نور , ايت 37

ترجمه: (داسې)سړی چې نه غافلوي دوی سوداګري او نه بیع پیرودل له ذکره یاده د الله او له سم قائمولو اداء کولو د لمانځه او له ورکولود زکاة وویریږي (دوی سره له ذکره او طاعته له عذابه ) د هغې ورځې چې آوړې رااوړي مضطرف به وي په هغې ورځې کې زړونه او سترګې ( له ډیرې ویرې).

همدارنګه الله تعالی فرمايي (**وَإِذَا رَأَوْا تِجَارَةً أَوْ لَهْوًا انْفَضُّوا إِلَيْهَا وَتَرَكُوكَ قَائِمًا قُلْ مَا عِنْدَ اللَّهِ خَيْرٌ مِنَ اللَّهْوِ وَمِنَ التِّجَارَةِ وَاللَّهُ خَيْرُ الرَّازِقِينَ**)[1].

ترجمه : او کله چې ويني دوی تجارت سوداګری یا کومه لهو تماشا ننداره نو خوریږي دوی په لوري د هغې او پریږدی دوی تا ولاړ (خطبه ویونکې پر منبر ) ووایه ( ای محمده دوی ته ) هغه څه (ثواب ) چې په نزد د الله دی خیر ډیر بهتر غوره دی له لهوی تماشې ننداري او له تجارت سوداګری څخه او الله خیر ډیر بهتر غوره له ګردو ( ټولو) رزق روزي ورکوونکيو دی .

په دې وروستي ایت کې دهغو خلکو لپاره سرزنش ذکر شوی کوم چې هغوی تجارت ، اخیستل او خرڅول ،بې فایدې خبرې دوی د جمعي له لمانځه او خطبې څخه پاتې کوي.

دا ټول هغه ایتونه وو چې د تجارت څخه یادونه په کښې په واضح ډول شوی ده اوس راځو هغه ایتونه ذکر کوو چې په هغو کې د تجارت څخه یادونه په کنایه شکل شوې ده، کله هم په لفظ د پاک کسب سره لکه څنګه چې الله تعالی فرمايي(**يُهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَنْفِقُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا كَسَبْتُمْ...**)[2].

ترجمه : اي هغو کسانو ! چې ایمان مو را وړی دی ( يعنې ای مؤمنانو ) کګوی ! له حلالو ( پاکو ، غورو) د هغو مالونو چې ( په کسب سره ) تاسې ګټلي .

چې دلته په دی ایت د قران عظیم الشأن کي (**مِنْ طَيِّبَاتِ مَا كَسَبْتُمْ**) څخه هدف تجارت دی[3].

کله هم په لفظ( د خدای فضل ) سره الله تعالی فرمايي(**لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَبْتَغُوا فَضْلًا مِنْ رَبِّكُمْ فَإِذَا أَفَضْتُمْ مِنْ عَرَفَاتٍ فَاذْكُرُوا اللَّهَ عِنْدَ الْمَشْعَرِ الْحَرَامِ وَاذْكُرُوهُ كَمَا هَدَاكُمْ وَإِنْ كُنْتُمْ مِنْ قَبْلِهِ لَمِنَ الضَّالِّينَ**)[4].

[1] - جمعه , ایت 11
[2] - بقره , ایت 267
[3] - الواحدي ، أبو الحسن على بن أحمد بن محمد ، الوجيز فى تفسير الكتاب العزيز ، دوفات نیټه ۴۶۸هـ ، تحقيق: صفوان عدنان داوودي ، لومړی چاپ ، چاپ کال ۱۴۱۵هـ ، چاپ ځای : دار القلم ، الدار الشامية – دمشق – بيروت ، دټوکونو شمير ۱، د ټوک ګڼه ۱، دپاڼی ګڼه ۱۸۹.
[4] - بقره , ایت 198

ترجمه : نشته په تاسې باندې هيڅ ګناه په دی کښې چې غواړۍ روزي له فضل د رب خپل نو هر کله چې راکوز شي ( د بيت الله طرف ته ) له عرفات څخه نو يادوئ الله په نزد د مشعر الحرام ( اخر د مزدلفې کې ) او يادوئ دی ( يعني الله ) لکه چې لاره يې در ښودلې ده تاسې ته او بيشکه چې وی تاسې پخوا له هدايته خامخا له ګمراهانو څنې.

(**لَيسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَبْتَغُوا فَضْلًا مِنْ رَبِّكُمْ**)يعنې په دې کې هيڅ مشکل نشته چې تاسې د حج سره تجارت او کسب وکړئ[1].

او په دې باندې د ټولو علماؤو اجماع ده چې د حج په ضمن کې تجارت کول جواز لري[2].

الله تعالی فرمايي(**فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَاةُ فَانْتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ وَابْتَغُوا مِنْ فَضْلِ اللَّهِ وَاذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيرًا لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ**)[3].

ترجمه : نو هر کله چې ادا کړل شي لمونځ ( د جمعې) پس خواره شي تاسې په ځمکه کې ( خپلو حوائجو ته که يې لرئ) او ولټوی تاسې له فضله د الله او يادوئ تاسې الله ( په يادولو) ډيرو سره ښايي چې ومومئ تاسې ښيګڼې ( نيکی ) خصلاصی مراد.

(**وَابْتَغُوا مِنْ فَضْلِ اللَّهِ**) يعنې په بيع او تجارت سره[4].

او کله هم په لټولو سره د الله تعالی په لار کې الله تعالی فرمايي(**وَآخَرُونَ يَضْرِبُونَ فِي الْأَرْضِ يَبْتَغُونَ مِنْ فَضْلِ اللَّهِ...**)[5].

ترجمه: او وي به نور له تاسې څخه چې سفر به کوی دوی په ځمکه کې لټوې به دوی له فضله د الله.

چې(**يَضْرِبُونَ فِي الْأَرْضِ**) څخه هدف د تجارت لپاره په ځمکه کې سفر کول دي ، نو د ايت معنی دا شوه چې سفر کوی به ځمکه کې تر څو په تجارت کې ګټه تر لاسه کړئ[6].

---

[1] - ابن الخطيب، محمد محمد عبدالطيف بن الخطيب، أوضح التفاسير ، د وفات نيټه ۱۴۰۲هـ ، شپږم چاپ ، چاپ کال ۱۳۸۳هـ ، چاپ ځای : المطبعة المصريه و مکتبتها ، دټوکونو شمير ۱ ، د ټوک ګڼه۱، د پاڼی ګڼه ۳۶.

[2] - أندلسي ، أبو حيان محمد بن يوسف بن على ، البحر المحيط فی التفسير ، د وفات نيټه ۷۴۵هـ ، تحقيق : صدقی محمد جميل ، چاپ کال ۱۴۲۰هـ ، چاپ ځای : دار الفكر – بيروت ، دټوک ګڼه ۲، د پاڼی ګڼه ۲۹۳.

[3] - جمعه , ايت 10

[4] - أضواء البيان ، ج۱، ص ۸۹.

[5] - مزمل ، ايت ۲۰

[6] - أضواء البيان ، ج۱، ص ۸۹.

تجارت يو دهغو مهمو او اساسي کسبونو څخه وو چې د مکه والو تر منځ رايج وو ، قريشو د تجارت لپاره په کال کې دوه سفرونه درلودل چې يو يې په اوړي کې شام ته او بل يې په ژمي کې يمن ته وو الله تعالی په دې هکله فرمايي(**لِإِيلَافِ قُرَيْشٍ (1) إِيلَافِهِمْ رِحْلَةَ الشِّتَاءِ وَالصَّيْفِ**)[1].

ترجمه : له جهته د انس او الفت د قريشو يو له بل سره له جهته د انس او الفت د دوی په سفر د ژمي ( کې يمن ته ) او په ( سفر د) اوړي کې شام ته هر کال .

همدارنګه نبې کريم ( صلی الله عليه وسلم ) هم مخکې له نبوت څخه په تجارت باندې بوخت وو ، ابن هشام په خپل سيرت کې نوموړي موضوع ته اشاره کړې او دا يې بيان کړي چې نبې کريم (صلی الله عليه وسلم ) به دخديجې( رضی الله عنها ) په مال باندي تجارت کاوه ، ابن اسحاق وايي : بي بي خديجه بنت خويلد يوه باعزته تاجره ښځه وه دهغې په مال به سړيو تجارت کاوه ځکه قريش يو تاجر قوم وو کله چې بي بي خديجة الکبری دنبې کريم (صلی الله عليه وسلم) د اخلاقو ، امانداری ، او صداقت څخه خبره شوه نو په هغه پسې يې سړې وليږه او له هغه څخه يې غوښتنه وکړه چې ددې له مال سره شام ته د تجارت لپاره لاړ شي او هغه ( صلی الله عليه وسلم ) ته يې تر نورو څخه د زياتې اجرې ورکولو وړانديز هم وکړ ، نبي کريم (صلی الله عليه وسلم) هم د هغې دا غوښتنه ومنله او د هغې له مال سره چې دميسرة په نوم غلام هم ورسره د شام په طرف ولاړ[2].

تفسير اللباب ليکي: تجارت د مشرانو صحابوو کار وو او خاصتاً دمهاجرينو صحابوو کار وو[3].

دعايشې (رضی الله عنها ) څخه روايت ده( **قالت عائشة كان أبو بكر أتجر قريش)**هغه وايې ابو بکر صديق( رضی الله عنه ) د قريشو تجار وو[4].

همدارنګه عبدالرحمن بن عوف (رضی الله عنه ) يو لوی تاجر وو کله چې سعد بن ربيع ورته خپل نيم مال ورکړ نوموړي ورته د برکت دعا وکړه او ويې ويل بازار راته راوښايې[5].

نو په دې کې هيڅ شک نشته چې تجارت يو شريف کسب ده او د يو سړې لپاره د حلال مال د لاسته راوړلو لپاره بهترينه او غوره لاره ده لکن په شرط چې د لاندی مسائلو څخه پرهيز وکړي .

---

[1] - قريش ، ايت (۱- ۲).
[2] - ابن هشام ، عبدالملک بن هشام بن أيوب ، سيرة ابن هشام ، د وفات نيټه ۲۱۳هـ ، تحقيق : مصطفى اسقا او ابراهيم الأبياری ، دويم چاپ ، چاپ کال ۱۳۷۵هـ ، چاپ ځای شرکة مکتبة ومطبعة البابی الحلبي ، د ټوکونوشمير ۲، د ټوک ګڼه ۱، د پاڼی ګڼه (۱۸۷- ۱۸۸).
[3] - اللباب فی علوم الکتاب، ج۲۰، ص ۲۷۶.
[4] - ابن أبی شيبة ، ابو بکر عبدالله بن محمد، المصنف فی الأحاديث والاثار ، تحقيق : کمال يوسف الحوت ، لومړی چاپ ، چاپ کال ۱۴۰۹هـ ، چاپ ځای : مکتبة الرشد – رياض ، د ټوکونو شمير ۷، د ټوک ګڼه ۴، د پاڼی ګڼه ۴۶۷، د حديث نمبر ۲۲۱۸۲.
[5] - بخاری ، کتاب مناقب الصحابة ، باب کيف اخی النبی کريم (صلی الله عليه وسلم) بين الصحابة ، ج۵، ص ۶۹، د حديث نمبر ۳۹۳۷.

۱- د حرامو شیونو له تجارت څخه ځان وساتي لکه شراب ، مخدره مواد ، نشه راوړنکې شیونه ، د خنزیر غوښه او داسي نور.

۲- په تجارت کې د چل او فریب څخه ځان وساتي ځکه نبې کریم (صلی الله علیه وسلم) فرمایي **( من غشنا فلیس منا)**[1].ترجمه : څوک چې له مونږ سره فریب او چل کوې د مونږ له جملې څخه نه دی.

۳- تجارت د الله د عبادت مانع ونه ګرځي که چیرته د الله د عبادت مانع ګرځي بیا دا تجارت حرام ده باید ډډه ترې وشي

[1] - مسلم ، کتاب البیوع ، باب قول النبی (صلی الله علیه وسلم) من غشنا فلیس منا ، ج۱، ص۶۹، د حدیث نمبر۱۶۴.

## دریم مبحث: انبیاءعلیه السلام کسبوته دقران کریم اشاره

### لومړی مطلب:ځرول

### دویم مطلب: اهنګري

### دریم مطلب: نجاري

### څلورم مطلب: خېمالي

## دريم مبحث : د انبياؤو ( عليه السلام ) كسبونو ته د قرانكريم اشاره

### لومړی مطلب: څرول

(الرعی) په معنی د ساتنې او پیره دارئ سره ده او په اصل کې د پسونو او اوښانو څرول دي[1].

بیشکه چې الله ( جل شأنه) مونږ ته په ځمکه کې ډیر داسي څه پیدا کړي چې چهارپایان د هغه څخه استفاده وکړي او په هغه کې وڅري الله ( جل شأنه ) فرمایې (**وَالَّذِي أَخْرَجَ الْمَرْعَى**)[2].

ترجمه : او هغه ( رب) چې را ایستلې یې ده تازه ګیا له ځمکې څخه .

(مرعی) هغه څه ته ویل کیږې چې ځمکه یې را شنه کوي له نباتاتو ، میوو ، ګیاګانو او داسي نورو څخه چې په حیواناتو پورې تړلي دي[3].

همدارنګه الله تعالی فرمایي (**هُوَ الَّذِي أَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً لَكُمْ مِنْهُ شَرَابٌ وَمِنْهُ شَجَرٌ فِيهِ تُسِيمُونَ**)[4].

ترجمه: الله هغه( ذات) دی چې نازل کړی او را لیږلي یې دي له ( طرفه د ) اسمانه اوبه چې دي تاسو ته له دی اوبو څخه څښل او له دغو اوبو څخه ونه ( واښه ) هم ده چې په دغو وښو کې څروئ تاسې ( حیوانات خپل) .

او د ( فیه تسیمون ) معنی چې تاسې په کې خپل حیوانات څروی او حیواناتو ته یې ( سائمه ) وویل ځکه هغوی په خپلو پښو سره ځمکې په نښه کوي او په ځمکه کې د خپلو پښو چاپ پریږدي یا دا چې څریدونکې د ځمکې ګیاګانې خوري او هغه اثر یې پاتې کیږي[5].

همدارنګه الله تعالی فرمایي(**وَأَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجْنَا بِهِ أَزْوَاجًا مِنْ نَبَاتٍ شَتَّى (53) كُلُوا وَارْعَوْا أَنْعَامَكُمْ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِأُولِي النُّهَى**)[6].

ترجمه : او نازل کړي دي مونږ ( له طرفه ) د اسمانه او به ، پس را باسو مونږ په دی ( اوبو ) سره هر هر قسم له ګیاوو( شنیلیو ) څخه رنګ په رنګ ، وخوری تاسې ترې او وڅروئ (په کښې)

[1] - التحرير والتنوير ، ج۲۹، ص ۱۷۳.
[2] - اللأعلي , ایت 4
[3] - تفسیر اللباب فی علوم الکتاب ، ج۲۰، ص ۲۷۶.
[4] - نحل , ایت 10.
[5] - الخطیب ، عبدالکریم یونس الخطیب، تفسیر القراني للقران ، د وفات نیټه ۱۳۹۰هـ ، چاپ ځای : دار الفکر العربي – قاهره ، د ټوک ګڼه ۷، دپاڼی ګڼه ۲۷۴.
[6] - طه ، ( ۵۳ – ۵۴) .

چارپایان خپل ، بیشکه په دې ( مذکورو شیانو کې ) خامخا ( د قدرت ډیر) دلائل دی دپاره د خاوندانو د عقل .

څرول هغه کسب ده چې ټولو انبیاؤو کړی دی او له دې لارې يې مال لاسته راوړی ده ، نو هيڅ داسې يو نبي نه دی تير شوی مګر دا چې هغه پسونه څرولي **(عن أبي هريرة رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال ما بعث الله نبيا إلا رعى الغنم فقال أصحابه وأنت فقال نعم كنت أرعاها على قراريط لأهل مكة)**[1]
ترجمه : هيڅ يو نبي نه دی تير شوی مګر هغه پسونه څرولي ، پوښتنه وشوه ايا تا څرولي؟ نبي کريم (صلى الله عليه وسلم ) وفرمايل هو ما د مکې دخلکو پسونه د يوڅو قيراطو په مقابل کې څرولي.

يعني هر يو پسه په قيراط باندې او قيراط يوه برخه د دينار يا درهم ده [2].

نو د مال لاسته راوړل د څارويو د څرولو له لارې روا بلکه يو بهتره کسب دی او په دې کې د ځوانانو لپاره درس داده چې د حلال کسب له لارې حلال مال لاس ته راوړي ، اګر که ځيني خلک په سپکه سترګه ورته وګورې خو خلکو ته له لاس اوږدولو او سوال کولو څخه بهتره د يو حلال کسب کول او د حلال مال لاس ته راوړل دي که هغه دپسونو څرول وي ، که د نظافت او پاکې دنده وي او که د لرګيو خرڅول او اخيستل وي او يا هم بل هر کسب او کار .

فايده : په دې کې شک نشته چې د څارويو په څرولو کې حکمتونه پراته دي چې ددې حکمتونو له جملې څخه مهم حکمت يې د صبر تعليم ده چې هر نبي او پيغمبر په خپل دعوت کې ورته زيات ضرورت در لود ، چې په دغه کسب سره يو نبي د هر ډول راحت او ارام ژوند څخه لرې وي او صرف د دښتې او غرونو سخته ګرمي او سخته او کلکه ګرمي په لاس راوړي او دا ټول هغه ظروف دي چې تحمل او صبر ته ضرورت لرې ، همدارنګه د پسونو څرولو کسب د شپون څخه اجتهاد غواړي چې چيرته د ګياه او وبنو څخه ډک وطن دی چې نوموړی خپل پسونه ورته ورولي.

د شپون پوره تسلط د هغه په څارويو باندې په دې دلالت کوې چې هغه خپله ژبه د هغوی د ستنولو او درولو لپاره کاروي او دا په تربيه او دعوت کي يو لوی درس دی ، چې په دی سره مونږ ته د انبياؤو عليه السلام له طرفه ددی کسب د اختيارولو هغه ستر راز را ښکاره کيږې چې بشري تربيي ته په نرمۍ سره تياريدل دي.

[1] - بخاري ، کتاب الأجارة ، باب رعى الغنم على قراريط ، ج۲، ص ۷۸۹، د حديث نمبر ۲۲۶۲.
[2] - عينې ، أبو محمد محمود بن أحمد ، عمدة القارې شرح صحيح البخارې ، د وفات نيټه ۸۵۵هـ ، چاپ ځای : دار احياء التراث العربې – بيروت ، د ټوکونو شمير ۲۵، د ټوک ګڼه ۱۲، دپاڼی ګڼه ۷۹.

د روح البيان تفسير ليکي : د انبياؤو ( عليه السلام) له طرفه د څارويو په څرولو کې حکمت داده چې کله يو سړی پسونه وڅروي چې تر ټولو ضعيفه څهارپايان دي ، په زړه کې يې لطف او نرمي ځای نيسي ، چې بيا کله دا سړی د خلکو تربيې او روزنې ته وليږل شي تر ټولو په ښه حالت کې وي او ددعوت لپاره ښه برابر وي[1].

د زهرة التفاسير مفسر ليکي : انبياء ( عليه السلام) نرمي دپسونو په څرولو کې لاس ته راوړي ، موسی (عليه السلام) مخکې له دې چې د پيغمبر په توګه را وليږل شي د فرعون د قصرونو څخه جدا او دپسونو څرولو ته وليږل شو ترڅو د فقر او بيچارګۍ مزه وڅکي او همدارنګه نرمي د پسونو په څرولو سره لاسته راوړي[2].

## دويم مطلب: اهنګري

دا د داؤد ( عليه السلام) کسب وو چې الله ( جل شأنه ورته عطا کړی وو ، ددې تر څنګ پيغمبري ، پادشاهي او ښايسته غږ هغه نورې ځانګرنې وې چې الله ( جل شأنه) ورته ورکړې وې ، اوسپنه په لکه پخته د ده په لاس کې نرمه بغير له دې چې اور ته يې نږدې کړي او له هغې به زغرې او اسلحې جوړولې الله تعالى فرمايي (**وَلَقَدْ آتَيْنَا دَاوُودَ مِنَّا فَضْلًا يَاجِبَالُ أَوِّبِي مَعَهُ وَالطَّيْرَ وَأَلَنَّا لَهُ الْحَدِيدَ (10) أَنِ اعْمَلْ سَابِغَاتٍ وَقَدِّرْ فِي السَّرْدِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ**)[3]

ترجمه : او په تحقيق ورکړی ؤ مونږ داؤد ته له جانبه خپل فضل ( لويې پر نورو او ومو فرمايل غرونو ته چې ) ای غرونو راو ګرځوی ( ښه ) غږونه خپل له ده سره ( په وخت د تسبيح کې او له ده سهر تسبيح ويل ) مرغانو هم او پسته کړې وه مونږ ده ته اوسپنه چې جوړوه زغرې لويې او اوږدې او اندازه کوه په اوبدلو کې ( چې حلقې يې سره برابرې وې ) او عمل کوئ تاسې دنيکيو بيشکه زه چې يم پر هغو کارونو چې کوی يې تاسې ښه ليدونکی يم .

طبري په خپل تفسير کې په دې هکله ليکي : اوسپنه به د داود ( عليه السلام ) په لاس کې لکه لنده خټه داسې وه چې هرې خواته به يې اړوله اړولای يې شوه[4].

1 - حنفي ، اسماعيل حقی بن مصطفی، روح البيان ، چاپ ځای : دار احياء التراث العربي ، د ټوکونو شمير ۱۰، د توک ګڼه ۵و د پاڼی ګڼه ۳۸۹.
2 - أبو زهرة، امام محمد أبو زهرة، زهرة التفاسير ، چاپ ځای : دار الفکر العربي ، د ټوکونو شمير ۱۰ ، د توک ګڼه ۱، د پاڼی ګڼه ۴۷۱۳.
3 - سبا , ايت (10- 11).
4 - جامع البيان ، ج۲۰، ص ۳۵۹.

الله تبارک وتعالی نوموړي ته ددې خامې اوسپنې څخه د ګټې اخیستنې پوهه ورکړې وه چې څنګه ترې اسلحې او زغرې جوړې کړي الله تعالی فرمایي(**أَنِ اعْمَلْ سَابِغَاتٍ**)یعنې زغرې او لومړی شخص چې زغرې به یې جوړولې داود ( علیه السلام) وو چې مخکې له دی څخه به یې توري تیرې کولې[1].

او د الله تعالی په دې قول (**وَقَدِّرْ فِي السَّرْدِ**) یعني د هغو زغرو کړی او حلقې په ښه نظم او ترتیب سره جوړې او ونښلوه چې د خپل لویوالي ، وړوکوالي ، او نازک والي په اعتبار یو له بل سره متناسبې وي [2].

زه وایم چې په دې ایت د قران عظیم الشأن کې هر انسان ته لارښونه ده چې په خپل کسب کې مخلص وي او خپل کار په درست او صحیح شکل سرته ورسوې او له خیانت او غلطۍ څخه ځان وساتي ، د زغرو جوړولو کسب لویې حوصلې ته ضرورت لرې تر څو هره حلقه یې یو له بل سره مناسبه او برابره وي نبي اکرم ( صلی الله علیه وسلم) فرمایي ( **ان الله یحب اذا عمل أحدکم عملاً أن یتقنة)**[3].

ترجمه:الله تعالی داخوښوي چې کله هم کوم یو دستاسو کوم کار سرته رسوي هغه پوره سرته ورسوې

او په بل ایت شریف کې الله تعالی دداؤد (علیه السلام ) په هکله داسې خبر راکوي (**وَعَلَّمْنَاهُ صَنْعَةَ لَبُوسٍ لَكُمْ لِتُحْصِنَكُمْ مِنْ بَأْسِكُمْ فَهَلْ أَنْتُمْ شَاكِرُونَ**)[4].

ترجمه: او ښوولې وو مونږ دغه ( داود ) ته جوړول د زغرې تاسې ته د پاره ددې چې وساتی تاسې ( دا زغره ای انسانانو ) له ضرره د جنګ ( ددښمنانو) ستاسې ، پس ایا یې تاسې شکر کوونکې ( یعني شکر وکړئ).

( لبوس) په دې ایت کې هغه اسم ده او هر هغه څه ته استعمالیږې چې په جنګ کې د استعمال وړ وي اما دلته ترینه هدف زغرې دي چې د اوسپنې څخه جوړې شوې وي (**لِتُحْصِنَكُمْ مِنْ بَأْسِكُمْ**) یعنې چې ومو ساتي له جنګ څخه[5].

---

[1] - جامع البیان ، ج۲۰ ، ص ۳۵۹

[2] - أضواء البیان ، ج۴، ص۲۳۲.

[3] - بیهقې ، شعب الایمان ، ج۴، ص ۳۳۵، د حدیث نمبر ۵۳۱۴، ألبانې په صحیح الجامع کې ورته صحیح ویلی د حدیث نمبر۱۸۸۰.

[4] - انبیاء، ایت ۸۰.

[5] - المظهري، محمد ثناء الله ، تفسیر المظهري، تحقیق: غلام النبی التونسي، چاپ کال : ۱۴۱۲هـ ، چاپ ځای : مکتبة الرشیدیه – پآکستان، د ټوک ګڼه ۶، د پاڼې ګڼه ۲۱۶.

داود ( عليه السلام ) دا خوښوله چې له دې لار ې څخه رزق او روزي لاس ته راوړي ، سره له دې چې نبي او پاد شاه وو په دې اړه مقدام د نبي کريم (صلى الله عليه وسلم ) څخه روايت کوې چې نبي کريم (صلى الله عليه وسلم ) وفرمايل ( **ما أكل أحد طعاماً قط خيراً من أن ياكل من عمل يده ، و ان نبى الله داود ( عليه السلام) كان يأكل من عمل يده)**[1].

ترجمه : نه دى خوړلى هيچا غوره طعام له دې څخه چې يو سړى وخورئ دخپل لاسي کارڅخه او داود ( عليه السلام) به د خپل لاسي کار څخه خوړه .

همدارنګه دا هغه کسب ده چې په عربو کې هم ډير موجود وو او خباب بن الارت (رضى الله عنه) په مکه مکرمه کې اهنګرې کوله او هغه به د جنګ لپاره تورې جوړولې او له دې لارې به يې مال لاس ته راوړ .

له خباب بن الارت (رضى الله عنه ) څخه روايت ده هغه وايې ( كنت فينا حداداً فى الجاهلية بمكة ، فعملت للعاص بن وائل سيفاً فجئت اتقاضاه فقال : لا اقضيک حتى تكفر بمحمد ، قلت : لن اكفر به حتى تموت ثم تبعث قال : فذرني حتى اموت ، ثم أبعث فسوف أوتى مالاً و ولداً فأقضيک )[2]

ژباړه: د جاهليت په زمانه کې موږ سره په مکه مکرمه کې يو اهنګر ژوند کاوه چې عاص بن وائل ورباندې يوه توره جوړه کړيوه بيا ورغلم چې اجوره يې ترې واخلم هغه راته په ځواب کې وويل تاته تر هغه پورې اجوره نه درکوم ترڅو پورې چې په محمد ( صلى الله عليه وسلم) کافر نشې ما ورته وويل زه پر هغه هيڅکله کافر کيږم نه تر څو چې ته مړ اوبيا بيرته را ژوندى شې بيا هغه وويل : ما پريږده چې زه مړ شم او بيا ژوندى شم بيا به ما ته مال او اولاد راکړل شي او له هغه څخه به يې تا ته ادا کړم.

بيا دا ايتونه نازل شول (**أَفَرَأَيْتَ الَّذِي كَفَرَ بِآيَاتِنَا وَقَالَ لَأُوتَيَنَّ مَالًا وَوَلَدًا (77) أَطَّلَعَ الْغَيْبَ أَمِ اتَّخَذَ عِنْدَ الرَّحْمَنِ عَهْدًا (78) كَلَّا سَنَكْتُبُ مَا يَقُولُ وَنَمُدُّ لَهُ مِنَ الْعَذَابِ مَدًّا (79) وَنَرِثُهُ مَا يَقُولُ وَيَأْتِينَا فَرْدًا)**[3]

ترجمه : ايا پس ليدلي دي تا هغه څوک چې کفر يې اختيار کړ په ايتونو ( دقدرت) زمونږ او وايې خامخا را کول کيږې ( په اخرت کې) ماته مال او ولد ( زوى ، لور) .

[1] - بخاري ، كتاب البيوع ، باب كسب الرجل وعمل بيده ، ج۳، ص ۵۷، دحديث نمبر۲۰۷۲.
[2] - بخارى ، كتاب التفسير القران ، باب قوله ما يقول ويأتينا فردا ، ج۶، ص ۹۴، دحديث نمبر ۴۷۳۵.
[3] - مريم , ايت ( 77- 80).

ایا خبر شوې دی ( دغه کافر) پر غیب یا اخیستې ده په نزد د رحمن وعده ( چې ده ته مال او دولت ورکول کیږي په اخرت کې هم).

نه دی داسې ( چې دوی وایې یعني نه ورکول کیږي دوی ته مال او ولد ) مونږ لیکو هغه چې وایې او وبه غځوو ده ته له عذابه په غځولو ( چې د یوه د پاسه به بل ورته ورکوو).

او په میراث به اخلو ( له ده په مرګ سره ) هغه ( مال او اولاد ) چې ( دی یې د ځان ) وایې او راځی مونږ ته یواځې ( بې له ماله او اولاده) .

په مدینه منوره کې هم دا کسب ډیر رواج وو ، یهودو نوموړي کسب ته ډیره وده ورکړې وه تر دې پورې چې دوی به ویل : دداود ( علیه السلام ) نه دوی ته په میراث پاتې دی او دوی به تورې او لیندې جوړولې[1].

دکتور عماد الدین خلیل د سورت الحدید ددې ایت په هکله وایې **(لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنَاتِ وَأَنْزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتَابَ وَالْمِيزَانَ لِيَقُومَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ وَأَنْزَلْنَا الْحَدِيدَ فِيهِ بَأْسٌ شَدِيدٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَلِيَعْلَمَ اللَّهُ مَنْ يَنْصُرُهُ وَرُسُلَهُ بِالْغَيْبِ إِنَّ اللَّهَ قَوِيٌّ عَزِيزٌ)**[2]

ترجمه : په تحقیق لیږلي ۇ مونږ پیغمبران خپل سره له ښکاره ۇ دلایلو او نازل کړی ۇ مونږ له هغوی سره کتاب او میزان تله ( قواعد د عدل) لپاره ددې چې ودریږي خلک په انصاف باندې او را لیږلی ده مونږ اوسپنه چې په دې سخت جنګ ډیر قوت دی او ( په کښې ډیری) منافع ګټې دی لپاره د خلکو او بل لپاره ددې چې عالم شی الله ( په علم ظاهرې سره ) په هغه چا باندې چې مرسته ( مدد) کوي له ده سره او له رسولانو دده سره په غیبو ( بې له لیدلو) بیشکه الله ډیر قوي دی ( په نصرت د احباوو) ښه غالب دی ( په ذلت د أعداوو) .

دا ایت د قران عظیم الشأن خامه اوسپنه یو لوی نعمت د بندګانو لپاره معرفي کوې چې د ( بأسْ شديدٌ) څخه هدف د اوسپنې نه داسلحو او د جنګ د وسایلو جوړول هدف دې او په ( المنافع ) سره هدف دا چې ددې اوسپنې څخه انسان د ژوند په ټولو برخو کې کار واخلی او هر هغه څه ته چې ضرورت لرې ددې خامې اوسپنې څخه یې جوړ او بیا ترې استفاده وکړي او په اوسنۍ زمانه کې دولتونه

---

[1] - شریف ، أحمد ابراهیم ، مكة ومدينة فى الجاهلية وعهد الرسول (صلی الله علیه وسلم) ، چاپ ځای : دار الفکر العربی ، د ټوکونوشمیر ۱، د ټوک ګڼه ۱، دپاڼی ګڼه ۳۰۸.
[2] - حدید ، ایت ۲۵.

کولای شي چې ددې خامې اوسپنې څخه عصري اسلحې او مهمات جوړ کړي همدارنګه دوی کولای شي چې د خپل صنعت د پیاوړتیا په خاطر د اوسپنې پټلۍ جوړې کړي[1].

## دريم مطلب: نجاري

دا کسب ډیر پخوانی او عزتمند کسب دی ، په پیغمبرانو کې لومړی پیغمبر چې دغه کسب یې کړی نوح ( علیه السلام) دی ، کله چې الله تعالی ( جل شأنه) نوح ( علیه السلام) ته امر وکړ چې کشتۍ جوړه کړي تر څو له طوفان او غرقیدو څخه نجات پیدا کړي ، نو نوح ( علیه السلام) هم د الله تعالی ددغه امر د پرځای کیدو په خاطر د کشتۍ په جوړولو پیل وکړ ، الله تعالی فرمايي (**وَيَصْنَعُ الْفُلْكَ وَكُلَّمَا مَرَّ عَلَيْهِ مَلَأٌ مِنْ قَوْمِهِ سَخِرُوا مِنْهُ قَالَ إِنْ تَسْخَرُوا مِنَّا فَإِنَّا نَسْخَرُ مِنْكُمْ كَمَا تَسْخَرُونَ**)[2].

ترجمه : او جوړوله ( نوح) بیړی حال دا هر کله چې تیردله به پر دغه ( نوح) ډله ( د مشرکانو یا مشرانو) له قومه د نوح نو مسخرې به یې کولې په دغه ( نوح) پورې ، نو وویل ( نوح) که مسخرې کوی تاسې پر مونږ پورې نو بیشکه مونږ به هم مسخرې وکړو په تاسې پورې لکه چې اوس مسخرې کوې تاسې ( پر مونږ پورې) .

یعنې کله چې نوح ( علیه السلام ) د کشتۍ په جوړولو شروع وکړه نو کله به چې هر یو دمشرانو څخه له دوی څخه تیریدل نو په دوی به یې مسخرې کولې او دا به یې ورته ویل چې دلته د څښلو اوبه نه پیدا کیږې او دی کشتۍ جوړوي او مونږ په غرقیدو ډاروي او په خپلو خبروکې به یې دا هم ویل چې د پیغمبرۍ له کار څخه اوس خلاص شوی او نجارۍ ته یې شروع کړیده .

او کله به چې دوی نوح ( علیه السلام ) لیده چې لرګي د یو کور په شکل کې له یو بل سره یو ځای کوي ددې په باره کې به یې پوښتنه کوله ، نوح ( علیه السلام ) به په جواب کې ورته ویل چې کښتۍ جوړوم چې په اوبو کې حرکت کوي ، چون مخکې له دې هلته کښتۍ نه وه ،نو دوی به خندل ، مسخرې به یې کولې او د نوح ( علیه السلام ) کار ته به یې په عجیبه سترګه کتل [3].

---

[1] - الصلابي، على محمد محمد ، تبصير المؤمنين بفقه النصر والتمكين فى القران الكريم ، لومړی چاپ ، چاپ كال ١٤٢٢هـ ، چاپ ځای ک مكتبة الصحابة- الشارقة – الامارات ، دټوک ګڼه ١، دپاڼې ګڼه (١٤٨- ١٤٩).

[2] - هود ، ايت ٣٨

[3] - جامع البيان ، ج١٥، ص ٣١٠.

د کښتۍ کار د لرګیو او میخونو په لګولو سره پای ته ورسید ، نو ح ( علیه السلام او له ده سره نور مؤمنان او یوه یوه جوړه د حیواناتو او پرندګانو په کښتۍ کې سپاره او پورته کړل شول الله تعالی فرمایي(**وَحَمَلْنَاهُ عَلَى ذَاتِ أَلْوَاحٍ وَدُسُرٍ**)[1].

ترجمه : او سور کړی وو مونږ دغه نوح ( پر بیړۍ چې) خاونده د تختو غټو او میخونو پریړو ( غټو) وه .

بعضو مفسرینو د الله تعالی له دې قول (**إِنَّ فِرْعَوْنَ عَلَا فِي الْأَرْضِ وَجَعَلَ أَهْلَهَا شِيَعًا يَسْتَضْعِفُ طَائِفَةً مِنْهُمْ يُذَبِّحُ أَبْنَاءَهُمْ وَيَسْتَحْيِي نِسَاءَهُمْ إِنَّهُ كَانَ مِنَ الْمُفْسِدِينَ**)[2]

ترجمه: بیشکه چې فرعون لویې ( او تکبر ) غوره کړی وو په ځمکه ( دمصر) کې او ګرځولی یې وو اهل ددغه ( مصر) ټولی ټولی چې ضعیفه ( مقهوره) کړې یې وه یوه طائفه له دوی ( چې بنې اسرائیل وو) چې وژل به یې زامن ددوی ( چې نسل یې منقطع شي) او ژوندۍ به یې پریښودې ښځې ددوی ( خپل خدمت ته ) بیشکه ؤ دغه ( فرعون) له مفسدانو ( چې راز راز (قسم قسم) فسادونه به یې کول).

سره ذکر کړي چې فرعون به بعضې اسرائیلیان په شاقه کارونو مکلف کړي وو چې له جملې څخه یې نجاري وه .

دبحرالعلوم صاحب لیکي: فرعون اسرائیلیان په ځینو شاقه کارونو مکلف کړې وو چې ځینو به یې د غره څخه تیږې را ښکته کولې ځینو نورو یې نجارې کوله او ځینو نورو یې ختې کولې او ځینو نورو یې هیڅ کار نه کاوه ولې هره ورځ به یې فرعون ته ددرهم یوه برخه ورکوله[3].

ذکریا ( علیهم السلام) هغه څوک وو چې نجاري به یې کوله پیغمبر ( صلی الله علیه وسلم) یې په هکله فرمایي (**عن أبي هريرة أن رسول الله صلى الله عليه و سلم قال كان زكرياء نجارا**)[4].

ترجمه : ابی هریرة ( رضی الله تعالی فرمایي) چې نبي کریم ( صلی الله علیه وسلم ) وفرمایل زکریا ( علیهم السلام ) نجار وو.

همدارنګه په مدینه منوره کې هم یو تعداد صحابوو د نجارۍ کار کاوه ، هغوی به چوکۍ کړکۍ او دروازې جوړولې[1]

[1] - القمر ، ایت ١٣.
[2] - القصص ، ایت ۴.
[3] - بحر العلوم ، ج٢، ص ۵٩٧.
[4] - مسلم , ج4, ص 1847, دحديث نمبر٢٣٧٩.

يوه ورځ نبي کريم ( صلی الله عليه وسلم ) د منبر د جوړولو لپاره نجار ته اړتيا پيدا کړله ( **فقد كان ( عليه الصلاة وسلام ) يخطب على جذع نخلة فى المسجد ثم لما شق عليه صلوة وسلام طول القيام أرسل الى امراة من الأنصار كان لها غلام نجار يقول لها : انظري غلامک النجار يعمل لي أعواداً أكلم الناس عليها ، فعمل هذه الدرجات الثلاث ثم أمر بها فوضعت فى هذا المكان ، فأصبحت منبره الشريف فى مكانه الدائم** [2]

ترجمه : نبي کريم ( صلی الله عليه وسلم ) به په مسجد کې د خرما د ونې تر څنګه خطبه ويله خو کله چې په نبي کريم ( صلی الله عليه وسلم ) تر ډېر ځنډ دريدل سخت شول ، نو يې يوې انصارې ښځې ته چې يو غلام نجار يې درلوده يو سړی ورولیږه او ورته ويې ويل چې ورته ووايه: غلام د ماته راوليږه تر څو را ته د لرګي د څو ټوټو څخه منبر جوړ کړي چې خلکو ته ورباندې خبرې وکړم ، هغه هم ورته منبر جوړ کړ او بيا د رسول الله ( صلی الله عليه وسلم) په امر په هغه ځای کې کيښودل شو ( کوم چې نبي کريم ( صلی الله عليه وسلم) ټاکلی وو) چې هغه منبر بيا په همغه ځای کې د دائم لپاره کيښودل شو.

نو نجاري هم د مال د لاسته راوړلو او ډوډۍ پيدا کولو لپاره بهترينه کسب ده .

## څلورم مطلب: ختمالي

ختمالي هم يو د غوره او شريفو کسبونو له جملې څخه شميرل کيږي چې ډير کوشش ، خولې تويولو او ستړيا ته اړتيا لري ، خلک هم دې ته اړتيا لري ترڅو کورونه ، جوماتونه او عامه تأسيسات جوړ کړي .

قران عظيم الشأن ابراهيم او اسماعيل ( عليهم السلام ) ته په اشارې سره وايي چې دوی کعبة المشرفة جوړه کړه الله تعالی فرمايي(**وَإِذْ يَرْفَعُ إِبْرَاهِيمُ الْقَوَاعِدَ مِنَ الْبَيْتِ وَإِسْمَاعِيلُ رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ**)[3].

ترجمه: او ( ياد کړه ای محمده**!**) هغه وخت چې پورته کړل ابراهيم تاداونه ( بنيادونه ) د کعبې او اسمعيل ( هم او دواړو به ويل ) ای ربه زمونږ ته قبول کړه ( دا کار) له مونږ څخه ، بيشکه ته چې يې هم دا ته ښه اوريدونکی ښه پوهيدونکی يې.

---

[1] - مكة ومدينه فى الجاهلية وفى عهد الرسول ، ج۱، ص ۳۰۸.
[2] - مسلم ، كتاب الصلاة ، باب جواز الخطوة والخطوتين فى الصلاة ، ج۱، ص۳۸۶، د حديث نمبر۵۴۴.
[3] - بقره ، ايت ۱۲۷.

ابراهيم ( عليه السلام ) به تيږې په ديوال کې اېښودلې او هغه به يې جوړاوه او اسماعيل ( عليه السلام) به ورته تيږې راوړلې لکه څنګه چې په يو لوی حديث کې نوموړې موضوع ته اشاره شوی **(يا إسماعيل إن ربك أمرني أن أبني له بيتا قال أطع ربك قال إنه قد أمرني أن تعينني عليه قال إذن أفعل أو كما قال قال فقاما فجعل إبراهيم يبني وإسماعيل يناوله الحجارة ويقولان {ربنا تقبل منا إنك أنت السميع العليم} قال حتى ارتفع البناء وضعف الشيخ عن نقل الحجارة فقام على حجر المقام فجعل يناوله الحجارة ويقولان {ربنا تقبل منا إنك أنت السميع العليم [1].**

ترجمه :( ابراهيم ( عليه السلام) وفرمايل) : ای اسماعيله الله تعالی ( جل شأنه) امر کړی چې د هغه لپاره يو کور جوړ کړم ، اسماعيل ( عليه السلام ) وفرمايل ، د الله تعالی اطاعت وکړه ، ابراهيم ( عليه السلام ) وفرمايل : الله تعالی دا هم امر کړی چې ددې کور په ودانولو کې ته له ما سره مرسته وکړې ، اسماعيل ( عليه السلام ) وفرمايل د الله تعالی متابعت او پيروي وکړه ، نو دوی دواړه پورته شول چې ابراهيم ( عليه السلام ) به کور جوړاوه او اسماعيل ( عليه السلام) به ورته تيږې راوړې او دواړو به ويل : ای ربه زمونږ ته يې له مونږ څخه قبول وګرځوه بيشکه ته اوريدونکی او پوه ذات يې.

له دوی څخه وروسته ټول مسلمانان په دې مکلف دي چې په دوی پسې اقتداء وکړي.

همدارنګه د نورو انبياوو څخه چې دغه کسب يې کړی حضرت خضر عليه السلام دی ، قران عظيم الشأن د خضر ( عليه السلام) قصه د موسی ( عليه السلام ) سره په تفصيل بيان کړيده چې خضر او موسی دواړه يو کلي ته داخل شول چې دهغه کلي خلکو د دوی له مهمان نوازۍ څخه انکار وکړ په داسې حال چې دوی وږې شوې هم وو ، بيا خضر ( عليه السلام) وليدل چې يو ديوال نړيدونکې دی نو لستونې يې را بډ وهل او هغه ديوال يې له سره جوړ کړ او ددې کار په مقابل کې يې د خلکو څخه د اجرې غوښتنه هم ونه کړه الله تعالی فرمايي**(فَانْطَلَقَا حَتَّى إِذَا أَتَيَا أَهْلَ قَرْيَةٍ اسْتَطْعَمَا أَهْلَهَا فَأَبَوْا أَنْ يُضَيِّفُوهُمَا فَوَجَدَا فِيهَا جِدَارًا يُرِيدُ أَنْ يَنْقَضَّ فَأَقَامَهُ قَالَ لَوْ شِئْتَ لَاتَّخَذْتَ عَلَيْهِ أَجْرًا)**[2]

ترجمه: بيا روان شول دواړه تر هغه پورې کله چې راغلل اهل د يوه کلي ته نو طعام وغوښت دوی له خلکو د هغه ( کلي) څخه پس منع راوړه ( هغو خلکو) له دې نه چې ميلمستيا ورکړي دغه خلک دوی ته بيا وموند دوی ( دواړو ) په هغه کلي کې يو ديوال چې نړيدونکی وو ، پس سم کړ خضر

[1] - بخاري ، کتاب الحج ، باب بناء الکعبة، ج٣، ص١٢٣١، د حديث نمبر ٣١٨٥.
[2] - الکهف، ايت ٧٧.

هغه دیوال ( یعني ترمیم یې کړ) وویل ( موسی خضر ته ) که اراده کړې وې تا ( د اخیستلو د اجرې) نو خامخا به د اخیستې وې ( په جوړولو ددیوال ) مزدوري .

یعنې په دې وخت موسی ( علیه السلام) خضر ملامت کړ او ورته یې وویل چې دوی داسې خلک دي چې د میلمه میلمه پالنه نشي کولای او تا له دوی سره دا نیکې وکړه چې همدا خبره د موسی ( علیه السلام او خضر ( علیه السلام) د جدایي سبب وګرځیده او خضر ( علیه السلام ) ورته دهغه دیوال دسمیدو لامل بیان کړ چې قرانکریم ورته داسې اشاره کوي (**وَأَمَّا الْجِدَارُ فَكَانَ لِغُلَامَيْنِ يَتِيمَيْنِ فِي الْمَدِينَةِ وَكَانَ تَحْتَهُ كَنْزٌ لَهُمَا وَكَانَ أَبُوهُمَا صَالِحًا فَأَرَادَ رَبُّكَ أَنْ يَبْلُغَا أَشُدَّهُمَا وَيَسْتَخْرِجَا كَنْزَهُمَا رَحْمَةً مِنْ رَبِّكَ وَمَا فَعَلْتُهُ عَنْ أَمْرِي ذَلِكَ تَأْوِيلُ مَا لَمْ تَسْطِعْ عَلَيْهِ صَبْرًا**)[1].

ترجمه : او هر څه ( هغه ) دیوال ( نړیدونکی چې جوړ مې کړ) پس هغه د هغو دوو هلکانو یتیمانو په ( هغه ) ښار کښې او وو لاندط د هغه ( دیوال ) خزانه د دغو دواړو او ؤ پلار د دوی صالح نو اراده وکړه رب د تا چې ورسیږي ( دغه دواړه ) قوت ( د ځلمیتوب) خپلو ته او بیا یې راوباسې هغه (خښې کړی شوې ) خزاني خپلې له جهته د مهرباني له جانبه د رب د تا ، او نه دی کړی ما دغه تیر اعمال ( چې تا ولید ) له خپله ځانه ( او په حکم او فکر خپل ) دغه دی ( درې واړه جوابونه د هغو پیښو چې نشو کولې تا پر هغه صبر.

همدارنګه قران کریم مونږ ته دا بیان کړي چې الله ( جل شأنه) سلیمان ( علیه السلام ) پیریان مسخر کړې اوتابع کړی وو اوسلیمان (علیهم السلام) هغوی به یې د ځینو کارونو په سرته رسولو توظیفول چې له ډلې څخه یې ختمالې وه الله تعالی فرمایي(**وَالشَّيَاطِينَ كُلَّ بَنَّاءٍ وَغَوَّاصٍ** )[2].

ترجمه : او مسخر کړل مونږ ده ته پیریان ( شیطانان) هر بنا کوونکی ( دښو لوړو ( اوچتو) عمارتونو) او غوټه وهونکې ( په لویو بحرونو کې د پاره د ایستلو د جواهرو) .

ابن کثیر لیکي چې ځیني پیریان به یې د ختمالی په سخت کار مشغولول او ځیني د وړو او تنګو ځاوو په ویستلو او ځیني به یې د غټو دیګونو په جوړولو چې ددغو کارونو سرته رسول د انسان له وس او توان څخه پوره نه وو او یوې ډلې ددوی به د بحرونو تل ته ځای رساوه او له هغه ځای څخه به یې

[1] - الکهف، ایت ۸۲.
[2] - ص ، ایت ۳۷.

جواهر او نوري قیمتې ډبرې را ویستې ، چې ددې قیمتي ډبرو د پیدا کیدو یواځینی ځای دبحرونو تل وو[1]

همدارنګه الله تعالی ( جل شأنه) مونږ ته د عاد قوم او د هغوی د کورونو جوړولو حال داسې بیانوي **(أَتَبْنُونَ بِكُلِّ رِيعٍ آيَةً تَعْبَثُونَ)**[2].

ترجمه: ایا جوړوئ تاسې پر هسک ( اوچت ) ځای ( لویه لاره) نښه هسکه ( اوچته ) ( چې په کې کینی او ) عبثیات وواېې ( او ملنډې ووهې پر تیریدونکو).

یعنې دوی به په لوړو ځایونو باندې د ناستې ځایونه جوړول او کله به چې څوک تیریدل په هغوی به یې ملنډې وهلې یا دا چې دوی به د اوسیدو لپاره لوړې ودانې جوړولې چې خپل اکثره مال به یې په کې مصرفاوه په دې امید چې ګویا دوی په کې همیشه او تل اوسیږي[3].

په دې ایت د قران عظیم الشأن کې د لوړو ا وجګو ودانیو له جوړولو څخه چې د یو شریف هدف لپاره نه وي منع شوي اما د ودانیو جوړول د یو صحیح او درست هدف لپاره په مختلفو ډولونو او شکلونو کې ښه کار دی چې دغسې ودانی جوړول په کار پوه ختمال ته ضرورت لري او لکه څنګه مو چې مخکې یادونه وکړه ختمالي یو د غوره او بهترینو کسبونو څخه ده چې له دې لارې یو سړی مال ، رزق او روزي لاسته راوړي .

---

[1] - تفسیر القران العظیم ، ج۷، ص ۷۳.
[2] - شعراء، ایت ۱۲۸.
[3] - لباب التأویل فی معانی التنزیل ، د ټوک ګڼه ۵، د پاڼی ګڼه ۱۲۲.

## دویم فصل : دمال لاسته راوړلو وسایل

### لومړی مبحث: دحلال مال لاس ته راوړلو وسایل

لومړی مطلب: وصیت

دویم مطلب: میراث

دریم مطلب: زکات

څلورم مطلب: هدیه

پنځم مطلب: دیت

شپږم مطلب: تجارت

### دویم مبحث : دحرام مال دلاس ته راوړلو وسایل

لومړی مطلب: د زنا له لارې

دویم مطلب:د سحر له لاری

دریم مطلب: دبتانو جوړولوله لاری

څلورم مطلب: دشرابو پلورلو له لاری

پنځم مطلب: دغلا له لاری

شپږم مطلب: دغصب له لارې

اووم مطلب: درشوت له لارې

اتم مطلب: دسود له لارې

## لومړی مبحث: دحلال مال لاس ته راوړلو وسایل

### لومړی مطلب: وصیت

### دویم مطلب: میراث

### دریم مطلب: زکات

### څلورم مطلب: هدیه

### پنځم مطلب: دیت

### شپږم مطلب: تجارت

## لومړی مبحث : د حلال مال د لاسته راوړلو وسايل

**لومړی مطلب: وصيت : الف: وصيت په لغت کې:** د دوه شيونو تر منځه اتصال او پيوستون ته ويل کيږي او موصي هغه څه ته چې دده په ژوند کې موجود وي له خپل مرګ څخه وروسته ورته اتصال او پيوستون ورکوي [1].

**ب: وصيت په اصطلاح کې:** هغه ده چې يو انسان خپل مال يا منفعت بغير له خپل ځان څخه بل چا ته وبښي ، په دی شرط چې هغه شخص چی ورته وصيت شوی د وصيت کوونکې له مرګ څخه وروسته د هغه مال او منفعت مالک او څښتن شي [2].

په تفسير الواضح کې يې بيا داسې تعريفوي : ( الوصية : أن يوصي من أوشک على الموت ببعض ماله لأقاربه)[3].

ترجمه : وصيت : د خپل مال د يوې برخې وصيت کول خپلو خپلوانو ته دهغه چا له طرفه چې په خپل مرګ باندې شکمن وي

په المبدع في شرح المقنع کې يې بيا داسې تعريفوي : ( هى تبرع بالمال بعد الموت )[4] د مرګ څخه وروسته د مال ببنلو ته وصيت ويل کيږې .

**د وصيت مشروعيت** : د وصيت مشروعيت باندې د ټول امت اجماع ده ځکه مشروعيت يې په قران عظيم الشأن او نبوي احاديثو باندې ثابت دی ، الله تعالى ( جل شأنه ) په قران عظيم الشأن کې فرمايي **(كُتِبَ عَلَيْكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ إِنْ تَرَكَ خَيْرًا الْوَصِيَّةُ لِلْوَالِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِينَ بِالْمَعْرُوفِ حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِينَ)**[5]

ترجمه : فرض کړی شوې دي په تاسي باندې کله چې حاضر شي يو له تاسي ته ( اسباب ) د مرګ له پرې ابيني يې وي څه مال ، وصيت کول لپاره د مور او پلار او ( نورو) خپلوانو په ښه انصاف سره دا حکم لازم دی په پرهيز ګارانو باندې.

---

[1] - لسان العرب ، ج۱۵، ص ۳۹۴.

[2] - سيد سابق ، فقه السنة ، د وفات نيټه ۱۴۲۰هـ ، دريم چاپ ، چاپ کال ۱۳۹۷هـ، چاپ ځای : دارالکتب العربي ،بيروت- لبنان، دټوک ګڼه ۳، دپاڼی ګڼه ۵۸۳.

[3] - الحجازي ، محمد محمود ، التفسير الواضح ، لسم چاپ ، چاپ کال ۱۴۱۳هـ ، چاپ ځای : دار الجيل الجديد – بيروت،دټوک ګڼه ۱، دپاڼی ګڼه ۱۰۷.

[4] - أبو اسحاق ، ابراهيم بن محمد بن عبدالله ، المبدع في شرح المقنع ، د وفات نيټه ۸۸۴، لومړی چاپ ، چاپ کال ۱۴۱۸هـ ، چاپ ځای : دارالکتب العلمية بيروت – لبنان ، دټوکونو شمير ۸، د ټوک ګڼه ۵، د پاڼې ګڼه۲۲۸.

[5] - بقره ، ايت ۱۸۰.

همدارنګه په بل ایت شریف کې الله تعالی فرمايي ( ... **مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصَى بِهَا أَوْ دَيْنٍ...**)[1].

ترجمه : وروسته له هغه چې کړی وصیت یې ادا شي او یا پور.

همدارنګه نبي کريم (صلی الله علیه وسلم ) په حدیث شریف کې فرمايي (**عن عبد الله ابن عمر رضي الله عنهما: أن رسول الله صلى الله عليه و سلم قال ( ما حق امرئ مسلم له شيء يوصي فيه يبيت ليلتين إلا ووصيته مكتوبة عنده**)[2]

ترجمه : له عبدالله ابن عمر (رضی الله عنهما) څخه روایت دی هغه وايي چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم ) وفرمایل : د یو مسلمان لپاره دا جایز نه ده کله چې یو شی د وصیت لپاره ولري او دوه شپې ورباندې تیرې شي او خپله وصیت نامه نوشته نه کړي.

همدارنګه نبي کریم ( صلی الله علیه وسلم ) په یو بل حدیث شریف کې فرمايي (**إِنَّ اللَّهَ تَصَدَّقَ عَلَيْكُمْ بِثُلُثِ أَمْوَالِكُمْ عِنْدَ وَفَاتِكُمْ زِيَادَةً فِي حَسَنَاتِكُمْ، لِيَجْعَلَهَا لَكُمْ زِيَادَةً فِي أَعْمَالِكُمْ**)[3].

ترجمه: الله تعالی ( جل شأنه ) یو پر دریمه حصه مال د وفات په وخت کې تاسې ته صدقه درکړی چې ددې په وسیله یې ستاسو په نیکو اعمالو کې اضافه کړي.

وصيت د حلال مال د لاسته راوړلو له وسایلو څخه شمیرل کیږي او کله چې یو څوک وصیت وکړې په ورثه وو باندې یې لازمه ده چې د هغه وصیت نافذ کړي او هغه مال چې وصیت یې شوی د هغه څښتن ته وسپارې ، باید یادونه وکړم چې مخکې د ترکې له تقسیم څخه باید د میت قرضونه ترې ادا شي بیا وصیت او دا هغه څه دي چې د قرانکریم په ایتونو کې ورته اشاره شوی ده (**يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِي أَوْلَادِكُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ فَإِنْ كُنَّ نِسَاءً فَوْقَ اثْنَتَيْنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَ وَإِنْ كَانَتْ وَاحِدَةً فَلَهَا النِّصْفُ وَلِأَبَوَيْهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا السُّدُسُ مِمَّا تَرَكَ إِنْ كَانَ لَهُ وَلَدٌ فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ وَلَدٌ وَوَرِثَهُ أَبَوَاهُ فَلِأُمِّهِ الثُّلُثُ فَإِنْ كَانَ لَهُ إِخْوَةٌ فَلِأُمِّهِ السُّدُسُ مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصِي بِهَا أَوْ دَيْنٍ آبَاؤُكُمْ وَأَبْنَاؤُكُمْ لَا تَدْرُونَ أَيُّهُمْ أَقْرَبُ لَكُمْ نَفْعًا فَرِيضَةً مِنَ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا**)[4].

ترجمه : حکم کوې تاسې ته الله په ( حق د میراث د ) اولاد ستاسې کې چې ( تاسې مړه شئ) شته نارینه لره ( له میراثه ) په مثل د برخې د دوو ښځو ، نو که وو دا ( اولاد خالصی) ښځې پورته له دوو څخه ( یا دوی ) نو ( شته ) دوی لره دوه ثلثه ( دوی ، درې برخې) د هغه مال چې پریښی وي ( مړي) او که وه دا ( مولوده لور) یوه نو هغې لره نصف ( یعنې نیما ئې د ترکې دی ) او شته مور او

---

[1] - نساء، ایت ۱۲

[2] - بخاری، ج۳، ص۱۰۰۵،دحدیث نمبر۲۵۸۷.

[3] - دارقطني ، أبوالحسن على بن عمر بن أحمد ، سنن دار قطني ، د وفات نیټه ۳۸۵هـ ، لومړی چاپ ، چاپ کال ۱۴۲۴هـ ، چاپ ځای : مؤسسة الرسالة بيروت – لبنان ، د ټوکونو شمیر ۵، د ټوک ګڼه ۵، د پاڼې ګڼه ۲۶۳، د حدیث نمبر ۴۲۸۹. عجلوني ورته ضعیف ویلې . وګوره : اسماعيل بن محمد الجراحي ، كشف الخفاء ومزيل الالباس عما اشتهر على السنة الناس ، ج۱، ص ۳۲۵.

[4] - نساء ، ایت ۱۱.

پلار د ده ( مړي) ته له پاره د هر يوه له دې دواړو سدس ( شپږمه برخه ) له هغه مال چې پريښی وي ( مړې ) که وي مړی لره ولد ( ځوځات) نو که نه وي ده لره ولد ( ځوځات ) حال دا چې ميراث اخلي له ده ( مړې ځخه يوائې ) مور او پلار دده نو دی مور دده لره ثلث ( دريمه برخه د ترکې او نور ټول د پلار دي ) نو که وي مړي لره ورونه ( يا خويندې) نو شته مور د ده لره سدس ( د ترکې شپږمه برخه ) پس له ( اداء کولو د ) وصيت ځخه چې وصيت وکړي ميت په هغه سره يا پس ( له اداء کولو ) د دين ځخه ، پلرونه ستاسې او زامن ستاسې نه پوهيږې تاسې چې کوم يو له دوی زيات نژدې دي تاسې ته له جهته د نفعې ( دا برخې فرض شوې دي ) مقرره برخه له ( جانبه ) د الله ، بيشکه چې الله دی ښه عالم ( په ټولو احوالو ) ښه حکمت ولا ( چې هر کار په تدبير او مصلحت سره کوی) .

ددې ايت د شان نزول په باره کې علماء اختلاف لرې د جابر ( رضی الله عنه ) ځخه روايت دی هغه وايې (**مرضت مرضا فأتاني النبي صلى الله عليه و سلم يعودني وأبو بكر وهما ماشيان فوجداني أغمي علي فتوضأ النبي صلى الله عليه و سلم ثم صب وضوءه علي فأفقت فإذا النبي صلى الله عليه و سلم فقلت يا رسول الله كيف أصنع في مالي كيف أقضي في مالي ؟ فلم يجبني بشيء حتى نزلت آية الميراث** )[1].

ترجمه : جابر ( رضي الله عنه ) فرمايې چې زه مريض شوم او نبې کريم (صلى الله عليه وسلم) زما پوښتنې ته راغی ،ابوبکر هم ورسره وو ، دواړه پلي راغلي وو زه يې په داسې حال کې موندلی وم چې بې هوشي را باندې راغلی وه ، نبې کريم (صلى الله عليه وسلم ) اودس وکړ او بيا يې د اوداسه اوبه د ما د پاسه را توی کړی ، زه په هوش راغلم ومی ليدل چې نبې کريم (صلى الله عليه وسلم) د ما له سر سره ناست دی ما ورته وويل چې زه په خپل مال کې ځه وکړم ( يعني زه د خپل مال په اړه ځنګه وصيت وکړم) هيڅ ځواب يې رانکړ ، تر د پورې چې د ميراث ايت نازل شو.

مقاتل او کلبي وايې : دا ايت د اوس بن ثابت د ښځې او د هغې د لورګانو په باره کې نازل شوی دی .عطاء وايي چې دا ايت د سعد بن ربيع په باره کې نازل شوی ، هغه ځوک چې د احد په غزوه کې شهيد شو او له هغه ځخه دوه لورګاني او يوه ښځه او يو ورور پاتې شو[2]

**(عن جابر بن عبد الله قال : (جاءت امرأة سعد بن الربيع بابنتيها من سعد إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم فقالت : يا رسول الله هاتان ابنتا سعد بن الربيع قتل أبوهما معك يوم أحد شهيدا ،وإن عمهما أخذ مالهما فلم يدع لهما مالا ، ولا تنكحان إلا ولهما مال . قال : يقضى الله في ذلك . فنزلت**

[1] - بخاري، ج۶،ص۲۶۶۶، د حديث نمبر ۶۸۷۹.
[2] - لباب التأويل في معاني التنزيل ، ج ۱ ،ص۳۴۶.

**آية الميراث ، فبعث رسول الله صلى الله عليه وسلم إلى عمهما فقال : أعط ابنتى سعد الثلثين وأعط أمهما الثمن وما بقى فهو لك)**[1]

ترجمه : حديث د جابر (رضی الله عنه ) څخه روايت دی هغه وايي د سعد بن ربيع ښځه له لورګانو سره رسول الله (صلی الله عليه وسلم ) ته راغله او هغه ته يې وويل : ای رسول الله ( صلی الله عليه وسلم ) دا د سعد بن ربيع لورګانې دي او ددوی پلار له تاسو سره په احد کې شهيد شو او ددوی مال ددوی تره اخيستی او دوی ته يې نه ورکوي په داسې حال کې چې له دوی سره څوک نکاح هم نه کوي مګر په هغه صورت کې ې دوی مال ولري ، رسول الله (صلی الله عليه وسلم ) وفرمايل : په دې باره کې به الله تعالی فيصله وکړي چې بيا د ميراث ايت نازل شو بيا رسول الله (صلی الله عليه وسلم) ددې نجونو په تره پسې سړی ولیږه او ورته يې وويل د سعد لورګانو ته دويمه حصه ورکړه او ددوی مور ته اتمه حصه ورکړه او څه چې پاتې شول هغه ستا دي .

په هر حال که چيرته دې ايت ته نظر وکړو و به وينو چې په دې ايت کې د (**مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصِي بِهَا أَوْ دَيْنٍ**) برخه ذکر شوی ده او ددې برخې ذکر کيدل په دې دلالت کوي چې هغه برخه مال چې وصيت يې شوی وي د قرض له ادا کولو څخه وروسته بايد موصي ته وسپارل شي .

همدارنګه په بل ايت شريف کې الله تعالی فرمايي (**وَلَكُمْ نِصْفُ مَا تَرَكَ أَزْوَاجُكُمْ إِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُنَّ وَلَدٌ فَإِنْ كَانَ لَهُنَّ وَلَدٌ فَلَكُمُ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْنَ مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصِينَ بِهَا أَوْ دَيْنٍ وَلَهُنَّ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْتُمْ إِنْ لَمْ يَكُنْ لَكُمْ وَلَدٌ فَإِنْ كَانَ لَكُمْ وَلَدٌ فَلَهُنَّ الثُّمُنُ مِمَّا تَرَكْتُمْ مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ تُوصُونَ بِهَا أَوْ دَيْنٍ وَإِنْ كَانَ رَجُلٌ يُورَثُ كَلَالَةً أَوِ امْرَأَةٌ وَلَهُ أَخٌ أَوْ أُخْتٌ فَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا السُّدُسُ فَإِنْ كَانُوا أَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ فَهُمْ شُرَكَاءُ فِي الثُّلُثِ مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصَى بِهَا أَوْ دَيْنٍ غَيْرَ مُضَارٍّ وَصِيَّةً مِنَ اللَّهِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَلِيمٌ**)[2]

ترجمه : او شته تاسې ته نيم د هغه مال چې پريښې دي ښځو ستاسې که نه وي دی ښځو لره ولد ( ځوځات) نو که وي دی ښځو لره ولد ( ځوځات) نو تاسې لره شته ( څلورمه) برخه له هغه ماله چې پريښی وي دی ښځو پس ( له ادا کولو ) د وصيت نه چې وصيت کړئ وي ( دې ښځو) په هغه سره يا ( پس له ادا کولو د ) دين څخه ( چې وي په دې ښځو ) او شته دي ښځو لره څلورمه برخه له هغه مال چې پريښی وي تاسې که نه وي تاسې لره ولد ( ځوځات) نو له وو تاسې لره (ځوځات)

نو دې ښځو لره ثمن ( اتمه برخه ) له هغه ماله چې پريښی وي تاسې پس له ادا کولو د وصيت چې وصيت کوئ تاسې په هغه سره يا پس له ادا کولو د دين ( چې وي پر تاسې ای خاوندانو ) او که وو يو سړی چې ميراث ترې وړل کيږې کلاله ( بې ولده بې والده ) يا ښځه وه ( همداسې کلاله ) حال دا چې وي دې مړې لره ( يو اخيافي) ورور يا ( اخيافي ) خور پس شته هر يوه لره له دې ( اخيافي)

[1] - سنن ترمذی، ج۳،ص۲۸۰،دحديث نمبر ۲۱۷۱، ترمذی ورته حسن صحيح ويلی دی .
[2] - نساء ، ايت ۱۲.

ورور او خوره سدس ( شپږمه برخه د ترکې ) نو که وو ( ورونه ، خویندې د کلالې) زيات له دغه ( يو ورور او خور څخه ) نو دوی ګرد ( ټول ) سره شريکان دي په ثلث ( دريمه برخه دترکې) کې وروسته له ( اداء کولو د ) وصيت چې وصيت کولی شي په هغه سره يا پس ( له ادا کولو ) د دين په دي حال کې چې ( نورو ته ) نقصان ونه رسوي ( په دې وصيت کې) وصيت کوي الله تاسې ته وصيت له ( جانبه) د الله ، او الله ښه عالم دی ( په ټولو احوالو ) ډير تحمل ولا ( په تاخير د عقوبت لپاره د انابت) .

په دې ايت شريف کې ګورو چې د (**مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصَى بِهَا أَوْ دَيْنٍ**) برخه درې ځلی ذکر شوې او دا په دې دلالت کوي چې د وصي وصيت بايد د هغه موصي ته ورکړل شي .

البته بايد يادونه وکړم چې د وصي وصيت به د مال له دريمي برخې څخه زيات نه وي او د ادا کولو ترتيب يې په دې ډول دی چې اول به د وصيت کونکي له مال څخه دَين بيا وصيت او بيا که څه پاتې شول د هغه به د اقرباوو او دوستانو تر منځ لکه څنګه چې الله تعالی يې بيان کړی دی تقسيميږي، ځکه د (**غَيْرَ مُضَارٍّ**) کلمه دا بيانوي چې ضرر په دَين او وصيت کې څو حالتونه لري :

١- چې وصي په داسې دين ( قرض ) سره يو اجنبي شخص ته اقرار وکړي چې د ورکړې په نتيجه کې ټول يا زياته برخه د مال له مينځه لاړ شي او د وصي هدف له دې کار څخه خپلو وارثينو ته ضرر رسول وي.

٢- چې وصي په دې اقرار وکړي چې فلاني شخص باندې يې چې څومره قرض وو هغه يې حاصل کړی او پوره پوره يې اخيستی .

٣- چې وصي د مال له دريمې برخې څخه په زياته باندې وصيت کړی وي.

۴- چې په دريمه برخه مال باندې وصيت کړی وي خو هدف يې د الله تعالی رضا نه بلکې ورثه وو ته ضرر رسول وي[1]

نو له پورتنې بحث څخه په جوته معلوميږي چې وصيت هم د مال د لاسته راوړلو له وسايلو څخه يوه مهمه وسيله ده او له نوموړې لارې مال لاسته راوړل کيږي.

## دويم مطلب: ميراث

**الف: ميراث په لغت کې:** ( تركة الميت)[2] د مړې ترکې ته ويل کيږي.

[1] - زحيلې، د. وهبة بن مصطفى ، التفسير المنير في العقيدة والشريعة و المنهج ، دويم چاپ ، چاپ کال ١۴١٨هـ ، چاپ ځای : دار الفكر المعاصر – دمشق ، د ټوکونو شمير ٣٠، د ټوک ګڼه ۴، د پاڼې ګڼه ٢٧٩.

[2] - عمر ، د. أحمد مختار عبدالحميد ، معجم اللغة العربية المعاصرة ، د وفات نيټه ١۴٢۴هـ ، لومړی چاپ ، چاپ کال ١۴٢٩هـ ، چاپ ځای : عالم الكتب ، د ټوکونو شمير ۴، د ټوک شميره ٣، د پاڼې ګڼه ٢۴٢٢.

**ب: ميراث په اصطلاح کې** :(علم يعرف بها نصيب كل وارث من الشركة )[1]
هغه علم ده چې په هغه سره د شريکانو څخه د هر يوه وارث برخه معلوميږي.

**ج: د ميراث ارکان** : د ميراث ارکان درې دي ۱- مورث : مړي ته ويل کيږي که هغه حقيقي وي او که حکمي کله مفقود .۲- وارث : هغه ژوندې شخص ته ويل کيږي چې د ميت څخه ميراث وړي .۳- موروث : د مړي ترکې ته ويل کيږي که هغه مال وي يا بل هر څه .

د ميراث اسباب : د ميراث اسباب درې دي :۱- نکاح لکه څنګه چې الله تعالی فرمايي (**وَلَكُمْ نِصْفُ مَا تَرَكَ أَزْوَاجُكُمْ...)**[2]

ترجمه : او شته تاسې ته نيم د هغه مال چې پريښی دی ښځو ستاسې.

۲- نسب لکه څنګه چې الله تعالی فرمايي ( ... **وَأُولُو الْأَرْحَامِ بَعْضُهُمْ أَوْلَى بِبَعْضٍ فِي كِتَابِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ**)[3]

ترجمه : او خاندان د خپلوۍ ځينې د دوی غوره دي ( د ميراث په وړلو سره ) په ځينو نورو په حکم د الله کې ، بيشکه الله پر هر شي باندې ښه عالم دی ( او هم ده ته معلوم دی چې د هر يوه څومره حق دی نو د الله هر حکم پر علم او حکمت بنا دی ) .

۳- ولاء : لکه څنګه چې نبي کريم (صلی الله عليه وسلم ) فرمايي (**إنما الولاء لمن أعتق)**([4])[5]

ترجمه: (د وارث د نه درلودلو په صورت کې د هغه د ميراث حق)د هغه چا ده چې ازاد کړی يې ده.

دا هغه لار ده چې يو شخص کولای شي حلال مال لاس ته راوړي الله تعالی فرمايي (**يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِي أَوْلَادِكُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ فَإِنْ كُنَّ نِسَاءً فَوْقَ اثْنَتَيْنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَ وَإِنْ كَانَتْ وَاحِدَةً فَلَهَا النِّصْفُ وَلِأَبَوَيْهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا السُّدُسُ مِمَّا تَرَكَ إِنْ كَانَ لَهُ وَلَدٌ فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ وَلَدٌ وَوَرِثَهُ أَبَوَاهُ فَلِأُمِّهِ الثُّلُثُ فَإِنْ كَانَ لَهُ إِخْوَةٌ فَلِأُمِّهِ السُّدُسُ مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصِي بِهَا أَوْ دَيْنٍ آبَاؤُكُمْ وَأَبْنَاؤُكُمْ لَا تَدْرُونَ أَيُّهُمْ أَقْرَبُ لَكُمْ نَفْعًا فَرِيضَةً مِنَ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا**)[6].

ترجمه : حکم کوې تاسې ته الله په ( حق د ميراث د ) اولاد ستاسې کې چې ( تاسې مړه شی) شته نارينه لره ( له ميراثه ) په مثل د برخې د دوو ښځو ، نو که وو دا ( اولاد خالصی) ښځې پورته له دوو څخه ( يا دوی ) نو ( شته ) دوی لره دوه ثلثه ( دوی ، درې برخې) د هغه مال چې پريښی وي (

[1] - ابن ملقن , سراج الدين أبو حفص عمر بن على ، الاعلام بفوائد الاحكام ، د وفات نيټه ۸۰۴هـ ، تحقيق : عبدالعزيز بن أحمد بن محمد ، لومړی چاپ ، چاپ کال :۱۴۱۷هـ ، چاپ ځای : دارالعاصمة للنشر والتوزيع المملكة العربية، دټوکونوشمير۱۱، دټوک ګڼه ۸، د پاڼی ګڼه۷۰.
[2] - نساء ، ايت ۱۲
[3] - انفال ، ايت ۷۵
[4] - بخاري ، ج۲، ص ۷۵۷، د حديث نمبر ۲۰۴۸.
[5] - الفقه الميسر ، د. عبدالله بن محمد الطيار – د. عبدالله بن محمد المطلق – د.محمد ابراهيم الموسی ، لومړی چاپ ، چاپ کال ۱۴۳۲هـ ، چاپ ځای: مدار الوطن للنشر – رياض ، د جزونو شمير ۱۳، د ټوک ګڼه ۵، د پاڼې ګڼه ۲۲۹.
[6] - نساء ، ايت ۱۱.

مړي) او که وه دا ( مولوده لور) یوه نو هغې لره نصف ( یعني نیما ئې د ترکې دی ) او شته مور او پلار د ده ( مړي) ته له پاره د هر یوه له دې دواړو سدس ( شپږمه برخه ) له هغه مال چې پریښی وي ( مړې ) که وي مړی لره ولد ( ځوځات) نو که نه وي ده لره ولد ( ځوځات ) حال دا چې میراث اخلي له ده ( مړې څخه یواځې ) مور او پلار دده نو دی مور دده لره ثلث ( دریمه برخه د ترکې او نور ټول د پلار دي ) نو که وي مړي لره وروڼه ( یا خویندې) نو شته مور د ده لره سدس ( د ترکې شپږمه برخه ) پس له ( اداء کولو د ) وصیت څخه چې وصیت وکړي میت په هغه سره یا پس ( له اداء کولو ) د دین څخه ، پلرونه ستاسې او زامن ستاسې نه پوهیږې تاسې چې کوم یو له دوی زیات نژدې دي تاسې ته له جهته د نفعې ( دا برخې فرض شوې دي ) مقرره برخه له ( جانبه ) د الله ، بیشکه چې الله دی ښه عالم ( په ټولو احوالو ) ښه حکمت ولا ( چې هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوی) .

او هغه ورثه چې دمیراث مال لاسته راوړي یا به ذوی الفروض وې چې الله تعالی د هغوی برخې په قران عظیم الشأن کې معلومې کړی دي لکه نیمایي ، دریمه ، شپږمه یا به د عصبه وو له جملې څخه وي .

د تقسیم طریقه یې داده چې لومړی به ترکه ذوی الفروضو ته ورکول کیږې بیا که چیرته څه اضافه پاتې کیږي یا میت ذوی الفروض ونلری په دې صورت کې بیا ترکه عصبه وو ته ورکول کیږې په عصبه وو کې هم لومړی هغه نارینه عصبه ته چې مړې ته نژدې وي لکه څنګه چې نبې کریم (صلی الله علیه وسلم ) فرمایې (**ألحقوا الفرائض بأهلها فما بقي فهو لأولى رجل ذكر**)[1].

او دا فرایض او تقدیرات د الله تعالی حدود دي چې له دې حدودو څخه تجاوز ناروا دی یعنې نه به یې څوک په زیادت کې تجاوز کوي او نه به یې په نقصان کې تجاوز کوې نه به کوم وارث ته له خپل حق څخه یې زیات ورکوې او نه به کوم وارث محروموې [2] .

لکه څنګه چې الله تعالی فرمایې (**تِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ يُدْخِلْهُ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَذَلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ (13) وَمَنْ يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَتَعَدَّ حُدُودَهُ يُدْخِلْهُ نَارًا خَالِدًا فِيهَا وَلَهُ عَذَابٌ مُهِينٌ**)[3]

ترجمه : دا ( د یتیمانو ، میراثونو ، وصیت او د دین تیر شوی حکمونه ) حکمونه د الله دي او هر څوک چې ومني حکم د الله او د رسول د ده نو داخل به کړې الله دغه ( مطیع په هسی ) جنتونه

---

[1] - بخاري ، ج۶، ص ۲۴۷۶، د حدیث نمبر ۶۳۵۱.
[2] - التحریر والتنویر ، ج۴، ص ۲۶۸.
[3] - نساء ، ایت ( ۱۳- ۱۴) .

کښې چې وبهيږي له لاندې د ( ماڼيو او ونو د ) هغو ويالې هميشه به وي ( دوی) په دې ( جنتونو ) کښې او دا ( ننوتل جنت ته ) مراد موندل ( بری ) دی ډير لوی .

او هر څوک چې نافرماني کوی د الله او د رسول د ده او وځي له حدوده د الله نو داخل به کړي ( الله) دغه ( متعدي ) اور ته چې هميشه به وي ( دی ) په هغه ( اور د دوزخ) کښې او ( شته ) ده ته عذاب ډير سپکونکی.

## دريم مطلب : زکات

زکات په لغت کې : ( النماء و الزيادة)[1].

زکات په لغت کې زياتوالي ته ويل کيږي.

ب: زکات په اصطلاح کې : ( عبارةٌ عن جزءٍ معهود من النصاب ) په مال کې له هغې پيژندل شوی برخې څخه عبارت ده او دا چې ولې ورته زکات ويل کيږې ځکه چې په د سره مال زيادت پيدا کوي او هغه څوک چې يی له خپل مال څخه ادا کوي ثواب ورته ورکول کيږي[2].

ج: د زکات د فرضيت دلايل : ١- الله تعالی فرمايې (**وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَارْكَعُوا مَعَ الرَّاكِعِينَ**)[3].

ترجمه : او سم قايموئ ( په ښه ترتيب سره ادا کوئ ) لمونځ ! او ور کوئ زکات ! او رکوع وکړئ ! سره له رکوع کوونکو ( لمونځ کوونکو مسلمانانو ) .

٢- (**أَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَمَا تُقَدِّمُوا لِأَنْفُسِكُمْ مِنْ خَيْرٍ تَجِدُوهُ عِنْدَ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ**)[4].

ترجمه : او سم دروئ ( ادا کوئ له ټولو حقوقو سره سره ) لمونځ او ورکوئ زکات او هغه شی چې مخ کې ليږئ لپاره د ځانو خپلو له نيکئ ( لکه صله رحمي او صدقه ) و به مومئ ( ثواب د ) هغه په نزد د الله ، بيشکه چې الله په هغه شي چې کوئ يې تاسې ښه ليدونکی دی ( نو نه ضايع کيږې اعمال ستاسې او جزا يې در کوی ) .

٣- (**...وَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَآتَى الزَّكَاةَ وَالْمُوفُونَ بِعَهْدِهِمْ إِذَا عَاهَدُوا وَالصَّابِرِينَ فِي الْبَأْسَاءِ وَالضَّرَّاءِ وَحِينَ الْبَأْسِ أُولَئِكَ الَّذِينَ صَدَقُوا وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ**)[5].

[1] - جرجاني ، على بن محمد بن على ، التعريفات ، تحقيق : ابراهيم الأبياري ، لومړی چاپ ، چاپ کال :١٤٠٥، چاپ ځای: دار الکتب العربي – بيروت ، ج١، ص١٥٢

[2] - الفارسي ، أبوبکر عبدالقادر بن عبدالرحمن ، درج الدرر فی تفسير الآی والسور، د وفات نيټه ٤٧١هـ ، تحقيق: وليد بن أحمد ، لومړی چاپ ، چاپ کال ١٤٢٩هـ ، چاپ ځای : مجلة الحکمة ، د ټوکونو شمير ٤، د ټوک ګڼه ١، د پاڼی ګڼه ١٥٨.

[3] - بقره , ايت 43.

[4] - بقره ، ايت ١١٠.

[5] - بقره ، ايت ١٧٧.

ترجمه : او سم دروي ( په ترتیب ادا کوي سره له ټولو حقوقو ) لمونځ ( خپل ) او ور کوي زکات او ( بل خاوند د نیکی ) وفا کوونکی دی په وعدو خپلو کله چې دوی وعده کوی ( له خالق یا له مخلوق سره ) او ( صفت کوو د ) صبر کوونکو په سختیو او په رنځو کې او په وخت د جنګ ( په لاره د پاک الله ) کې .

۴- (**...وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ لَهُمْ أَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ**)[1].

ترجمه : او قائموي دوی ( سم ادا کوي سره له ټولو په ترتیب) لمونځ او ورکوي دوی زکات شته دوی لره اجر ( ثواب) د دوی په نزد د رب د دوی او نشته ( هیڅ ډول ( طریقه ) ویره په دوی باندې او نه به دوی ( هیڅکله ) غمجن کیږي ( د ثواب په نقصان سره ).

۵- (**...وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقِتَالُ إِذَا فَرِيقٌ مِنْهُمْ يَخْشَوْنَ النَّاسَ كَخَشْيَةِ اللَّهِ...**)[2].

ترجمه : او قائموئ ( سم اداء کوي سره له ټولو حقونو) تاسې لمونځ او ورکوئ ! تاسې زکات نو کله چې ( په مدینه کې) فرض کړ شو په دوی باندې ( له کفارو سره ) جنګ په دې وخت کې یوه ډله له دوی نه ویریدله له خلقو نه په شان د ویری ( د دوی ) له الله نه .

۶- (**فَإِنْ تَابُوا وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ فَإِخْوَانُكُمْ فِي الدِّينِ وَنُفَصِّلُ الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ**)[3].

ترجمه : نو که توبه یې وویسته ( دوی له کفره ) او قائم کړ دوی ( سم یې ادا کړ سره له ټولو حقوقو ) لمونځ او ورکړ دوی زکات نو ورونه ستاسې دي په دین کې ( حکم د شریعت ) کې او په تفصیل بیانوو (مونږ ) ایتونه ( حکمونه د قران ) د پاره د ( هغه ) قوم چې پوهیږي ( او فکر په کښې کوي).

دا هغه ایتونه دي چې له دی هر یوه څخه د زکات فرضیت ثابتیږي همدارنګه ډیر داسې نور ایتونه هم په قران عظیم الشأن کې شته چې هر یو د هغوی مونږ ته د زکات فرضیت ثابتوي او هر هغه څوک چې هغه د خپل مال څخه زکات نه ادا کوي د هغه لپاره ستر وعید او عذاب هم په قران کې ذکر شوی او هم په نبوي احادیثو کې ، الله تعالی فر مایي (**وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ هُوَ خَيْرًا لَهُمْ بَلْ هُوَ شَرٌّ لَهُمْ سَيُطَوَّقُونَ مَا بَخِلُوا بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلِلَّهِ مِيرَاثُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ**)[4].

ترجمه : او ګمان د نه کوي له سره هغه کسان چې بخیلي کوي دوی په هغه شي چې ورکړی دی دوی ته الله له خپل فضله چې دا بخل خیر دی ( غوره دی ) دوی ته ، بلکه دا ( بخل ډیر بد ) شر دی دوی ته ، ژر به په غاړه کې ورته امیل کړ شي هغه چې بخیلي کړې ده دوی په هغه شي کې په ورځې د

[1] - بقره ، ایت ۲۷۷.
[2] - نساء ، ایت ۷۷.
[3] - توبه , ایت 11.
[4] - ال عمران , ایت 180.

قيامت او خاص الله لره ده ميراث د اسمانونو او د ځمکې ( د دغو دواړو د اهل له فنا څخه به وروسته هر څه هم هغه حقيقي وارث او مالک ته پاتې کيږي او الله پر هغو ( کارونو هم ) چې کوئ يې تاسې ښه خبردار دی ( نو د ټولو جزا به ورکړي).

نبي کريم (صلى الله عليه وسلم ) دد ې ايت په تفسير کې وايي (**عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه و سلم ( من آتاه الله مالا فلم يؤدي زكاته مثل له يوم القيامة شجاعا أقرع له زبيبتان يطوقه يوم القيامة ثم يأخذ بلهزميه يعني شدقيه ثم يقول أنا مالك أنا كنزك ثم تلا { لا يحسبن الذين يبخلون } . الآية )**[1]

ترجمه : له ابي هريرة ( رضى الله عنه ) څخه روايت دی هغه وايي چې رسوالله (صلى الله عليه وسلم) و فرمايل : چا ته چې الله تعالى مال ورکړی وي خو د هغه څخه زکات ادا نه کړي دده د مال څخه به ورته مال جوړولی شي چې د سر ويښتان يې توی شوي وي او سر به يې له زهرو ډک وي ، دا مار به د قيامت په ورځ دده له غاړې تاويږي بيا به دا سړی په دواړو ژامو کې ونيسي بيا به ورته ووايي زه ستا مال يم ، زه ستا هغه خزانه يم بيا نبي کريم (صلى الله عليه وسلم ) دا ايت تلاوت کړ **لا يحسبن الذين يبخلون...**

همدارنګه الله تعالى په بل ايت شريف کې فرمايي (**يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ كَثِيرًا مِنَ الْأَحْبَارِ وَالرُّهْبَانِ لَيَأْكُلُونَ أَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ وَيَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلَا يُنْفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ (34) يَوْمَ يُحْمَى عَلَيْهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوَى بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنُوبُهُمْ وَظُهُورُهُمْ هَذَا مَا كَنَزْتُمْ لِأَنْفُسِكُمْ فَذُوقُوا مَا كُنْتُمْ تَكْنِزُونَ**)[2]

ترجمه : ای هغو کسانو چې ايمان مو راوړی ( ای مؤمنانو) بيشکه ډير له عالمانو ( د يهودانو ) او عابدانو ( د نصرانيانو ) خامخا خوری دوی مالونه د خلکو په باطل ( رشوت ) سره او منع کوي ( خلق) له لارې د الله څخه او هغه کسان چې خزانه کوي سره زر او سپين زر او نه لګوي هغه په لاره د الله کې ( د دين د ترقۍ له پاره ) نو زيری ورکړه دوی ته په عذاب درد ناک سره .

په هغې ورځې چې سختي سرې به کړی شي دغه خزانه په اور د جهنم کښې نو داغلی به شي په هغه سره تندۍ د دوی او اړخونه د دوی او شاګاني د دوی او وبه ويل شي دوی ته دا هغه شې دي چې خزانه کړې وه تاسې د پاره د نفسونو ( ځانونو ) خپلو نو وڅکې تاسې ( خوند د سزا د ) هغه ( مال ) چې وۍ تاسې چې خزانه کاوه به مو ( په دنيا کې او در ته بلا شوه په عقبا کې ).

همدارنګه نبي کريم (صلى الله عليه وسلم ) فرمايي ( **عن أبي هريرة يقول قال رسول الله -صلى الله عليه وسلم- « ما من صاحب ذهب ولا فضة لا يؤدى منها حقها إلا إذا كان يوم القيامة صفحت له**

[1] - بخاري ، ج٢ ، ص ٥٠٨، د حديث نمبر ١٣٣٨.
[2] - توبه ، ايت ( ٣٤- ٣٥) .

**صفائح من نار فأحمى عليها فى نار جهنم فيكوى بها جنبه وجبينه وظهره كلما بردت أعيدت له فى يوم كان مقداره خمسين ألف سنة حتى يقضى بين العباد فيرى سبيله إما إلى الجنة وإما إلى النار قيل يا رسول الله فالإبل قال ولا صاحب إبل لا يؤدي منها حقها ومن حقها حلبها يوم وردها...)**[1].

ترجمه : له ابوهريرة (رضى الله تعالى عنه ) څخه روايت دى هغه وايي رسول الله ( صلى الله عليه وسلم وفرمايل : د طلا يا نقره هر درلودونکى چې دهغې زکات ورنه کړي د قيامت په ورځ به همدغه د طلا او نقرې ټوټې د اور په ټوټو تبديلي شي او دا ټوټې به د دوزخ په اور کې سرې کړل شي او بيا به دا ټوټې د هغه شخص په يو بغل بل بغل ، تندي او شا باندې کينودل کيږي اوورباندي داغل کيږي به او هر ځلې چې دا ټوټې يخې شي بيا له سره به د ( د دوزخ په اور باندې ) ګرمې کړل شي او دا عذاب ددې شخص لپاره په ورځ کې چې اندازه يې پنځوس زره کاله کيږي دوام لري ، تر دې پورې چې د بندګانو په مابين کې حکم کيږې او بيا ددې سړي مسير يا د جنت يا د دوزخ په طرف باندې مشخص کيږي ، چا وويل يا رسول الله ( صلى الله عليه وسلم) اوښان څنګه؟ نبي کريم (صلى الله عليه وسلم وفرمايل : همدارنګه هر هغه خاوند د اوښانو چې د هغوی حق ادا نه کړي او يکې ددې حقوقو څخه يې د هغو اوښانو لوَسل او د هغوی له شيدو څخه د يوې برخې ورکول دي فقيرانو او مسافرو ته.

نو د مال داره خلکو په مال کې د فقيرانو حق هم شته چې مالداران د هغه په ورکړه مکلف دي الله تعالى فرمايي (**وَالَّذِينَ فِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ مَعْلُومٌ (24) لِلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ** )[2].

ترجمه : او هغه کسان چې په اموالو د هغوی کې حق برخه معلومه وي ( له زکات او صدقاتو ) د پاره د غوښتونکيو ( فقيرانو ) او محروم (فقيرانو ) چې سوال نه کوي).

يعني د مالدارانو له طرفه ددې معلومې برخې ورکړه دهغې مستحقينو ته کوم احسان به بلکه د هغوی حق دی .

د يادونې وړ ده چې د زکات را ټولونه د اسلامي دولتونو مسؤليت دی چې هغوی به زکات راټولوي او بيرته به يې د هغه مستحقينو باندې ويشي ، کله چې نبي کريم ( صلى الله عليه وسلم ) معاذ ( رضى الله عنه ) يمن ته وليږه مخکې له لدې چې هغه لاړ شي ورته يې وويل :( **عن ابن عباس رضي الله عنهما قال: قال رسول الله صلى الله عليه و سلم لمعاذ بن جبل حين بعثه إلى اليمن ( إنك ستأتي قوما أهل كتاب فإذا جئتهم فادعهم إلى أن يشهدوا أن لا إله إلا الله وأن محمدا رسول الله فإن هم أطاعوا لك بذلك فأخبرهم أن الله قد فرض عليهم خمس صلوات في كل يوم وليلة فإن هم أطاعوا لك**

[1] - مسلم ,ج3, ص70, دحديث نمبر ۲۳۳۷.
[2] - المعارج ، ايت ( ۲۴- ۲۵).

**بذلك فأخبرهم أن الله قد فرض عليهم صدقة تؤخذ من أغنيائهم فترد على فقرائهم فإن هم أطاعوا لك بذلك فإياك وكرائم أموالهم واتق دعوة المظلوم فإنه ليس بينه وبين الله حجاب )[1].**

ترجمه : حديث له ابن عباس ( رضى الله عنه ) څخه روايت دى هغه وايې رسول الله (صلى الله عليه وسلم ) معاذ ابن جبل ته کله يې چې يمن ته ليږه وفرمايل : ته د اهل الکتابو قوم ته ورتلونکی يې کله چې ته ورغلې نو هغوی دعوت کړه چې ووايې چې نشته هيڅ معبود برحق مګر يو خدای او همدارنګه شاهدې ورکړي چې محمد د الله تعالى رسول دى کله يې چې په دې خبره کې ستا اطاعت وکړ نو ته دوی ته خبر ورکړه چې الله تعالى په دوی باندې پنځه وخته لمونځ فرض کړی په شپه ورځ کې کله چې دوی ستا اطاعت په دې خبره کې هم وکړ نو بيا ته دوی ته خبر ورکړه چې الله تعالى په دوی باندې ددوی په مالونو کې زکات فرض کړی چې له بډايه خلکو به اخيستل کيږي او فقيرانو ته به ورکول کيږي کله چې دوی ستا اطاعت په دې خبره کې هم وکړ ......

او که چيرته دولتونه په دې کار کې تقصير کوي او د اغنياوو څخه زکات نه راټولوي نو خپله بډايه خلک ددې مسوليت لري چې دخپل مال څخه زکات ادا کړي او دا هغه څه وو چې پورتنی حديث وربانديې دلالت کوي .

## د زکات مستحقين

الله تعالى فرمايې (**إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللَّهِ وَابْنِ السَّبِيلِ فَرِيضَةً مِنَ اللَّهِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ**)[2].

ترجمه : بيشکه هم دا خبره ده چې صدقې ( زکات مصرفيږي) لپاره د فقيرانو او مسکينانو او عاملانو ( مقررو) پر هغه ( تحصيل د صدقې) او هغو ته چې الفت ( آشنايې ) اچولی شي په زړونو د دوی کې ( له اسلام سره ) او ( صرفيږي) په ( خلاصولو د ) غاړو ( د نادارو مکاتبانو) کې او پوروړو ( تاوان موندونکو) او ( صرفيږي) په لاره د الله کې او (صرفيږي لپاره د ) مسافرانو ( چې مال ورسره نه وي ) ( مقرره او لازم کړی شوی ده دغه) فريضه ( زکات ) له ( جانبه ) د الله ( دغو مصارفو لره ) او الله په هر څه ښه پوه او د حکمت خاوند دی .

کله چې منافقينو په رسول الله (صلى الله عليه وسلم ) باندې تور ولګاوه چې رسول الله (صلى الله عليه وسلم ) د صدقاتو په تقسيم کې عادل نه دی هماغه وو چې الله تعالى په د ايت شريف کې ورته دا بيان

[1] - بخاري, ج2,ص544, دحديث نمبر١٤٢٥.
[2] - توبه ، ايت ٦٠.

کړل چې د زکات مستحقين دا اته ډلې دي او د زکات مال به د اتو ډلو ته ورکول کيږي او نبي کريم ( صلى الله عليه وسلم ) د خپل ځان لپاره ددې مال څخه هيڅ هم نه اخلي [1].

په يو حديث شريف کې نبي کريم (صلى الله عليه وسلم ) فرمايي **(عن زِيَادَ بْنَ الْحَارِثِ الصُّدَائِيَّ، قَالَ: أَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَايَعْتُهُ، فَذَكَرَ حَدِيثًا طَوِيلًا، قَالَ: فَأَتَاهُ رَجُلٌ، فَقَالَ: أَعْطِنِي مِنَ الصَّدَقَةِ، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى لَمْ يَرْضَ بِحُكْمِ نَبِيٍّ وَلَا غَيْرِهِ فِي الصَّدَقَاتِ، حَتَّى حَكَمَ فِيهَا هُوَ، فَجَزَّأَهَا ثَمَانِيَةَ أَجْزَاءٍ، فَإِنْ كُنْتَ مِنْ تِلْكَ الْأَجْزَاءِ أَعْطَيْتُكَ حَقَّكَ)**[2].

ترجمه : زياد بن الحارث الصداني وايي : رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) ته راغلم او بيعت مې ورسره وکړ ، بيا هغه اوږد حديث ذکر کړ ، يو سړی راغی او رسول الله ( صلى الله عليه وسلم) ته يې وويل چې ما ته د زکاتونو او صدقو څخه يو څه راکړه رسول الله (صلى الله عليه وسلم) ورته وويل د صدقی په ويش کې الله تعالی نه د خپل نبي په حکم راضي شو نه د بل چا تردې چې خپله پريکړه يې وکړه نو هغه يې اته برخو ته ويشلې ده که ته د دغو اتو برخو څخه مستحق يې نو ستا برخه به درکړم.

دیادوني وړ ده چې دلته له صدقاتو څخه مراد فرض شوی زکات دی چېرمستحقين يې عبارت دي له :

۱- فقير : هغه چاته ويل کيږي چې ډير لږ مال ولري چې په هغه مال سره دده حاجتونه پوره نه شي لکه خوراک ، څښاک ، جامې ، د اوسيدو ځای او داسې نور.

۲- المساکين : د مسکين جمع ده ، او هغه چا ته ويل کيږي چې هيڅ ونلري او د خپلو ضرورتونو د پوره کولو لپاره خلکو ته محتاج وي ا و په بل ځای کې داسې تعريفوي : مسکين هغه چا ته ويل کيږي چې مال او کسب ولري اما په د کسب سره دده اړتياوې پوره نه شي چې لومړی تعريف غوره او درست دی .

۳- العاملين عليها : هغه چا ته ويل کيږي چې امام يې د زکات د راجمع کولو لپاره وټاکي اوپه د کې کاتب ، د مال ساتونکی او ټول هغه څوک چې امام او يا د هغه نائب يې د زکات د را جمع کولو په مربوطه امورو باندې وګماري شامليږي.

۴- المؤلفة القلوب: هغه چاته ويل کيږي چې امام هغوی ته ددې په خاطر مال ورکړي چې ددوی په زړونو کې له اسلام سره مينه پيدا شي ، ددوی هغه ضرر چې اسلام او مسلمانانو ته يې رسوې دفع شي ، يا ددې په خاطر چې اسلام ته يې ګټه ورسيږي او دوی په څو ډلو تقسيميږي : الف: د کفارو

[1] - لباب التأويل فی معانی التنزيل ، ج۲، ص۳۷۲.

[2] - أبی داود ، أبو داود سليمان بن الأشعث بن اسحاق ، سنن أبي داود ، د وفات نيټه ۲۷۵هـ ، تحقيق : محمد محيى الدين عبدالحميد ، چاپ ځای : المکتبة العصرية ،صيدا ـ بيروت ، د ټوکونو شمير ۴، د ټوک ګڼه ۲، د پاڼې ګڼه ۱۱۷، د حديث نمبر ۱۶۳۰. الباني ورته ضعيف ويلی . وګوره : صحيح و ضعيف سنن أبی داؤد ، ج۴، ص ۱۳۰.

ډله لکه صفوان بن امیه چې نبی کریم (صلی الله علیه وسلم ) ورته د حنین غزا له غنایمو څخه ورته یوڅه ورکړل په داسې حال کې چې په د وخت کې صفوان کافر وو بیا وروسته مسلمان شو .

ب: بله ډله یې هغه ده چې دوی له مسلمانانو سره تعهد کړی وو چې ضرر به نه ورته رسوې په داسې حال کې چې دوی په خپلو قومونو کې د شرف او عزت خلک وو نو نبي کریم ( صلی الله علیه وسلم ) دوی ته ددې لپاره مال ورکاوه ترڅو ددوی په زړونو کې ایمان ځای ونیسي او له دوی سره ددوی اتباع هم اسلام ومنې لکه کوم څه چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم ) له أقرع بن حابس ، عیینه بن حصن ، زبرقان بن بدر سره وکړل چې په د سره دوی او ددوی اتباع په اسلام کې داخل شول .

ج: بله ډله یې هغه کسان چې ضعیف الایمانه وو : نبی کریم ( صلی الله علیه وسلم ) دوی ته ددې لپاره مال ورکاوه چې تر څو ددوی په زړونو کې ایمان قوي او د دوی ضعیف ایمان نورو ته سرایت ونه کړي ښه مثال یې عباس بن مرداس السلمي دی چې نبی کریم ( صلی الله علیه وسلم ) نوموړې ته د هغه د ایمان د تقوی لپاره مال ورکړ اما په اوسنی زمانه کې د ډلې خلکو ته مال نه ورکول کیږي ځکه د مسلمانانو شمیر زیات او کفار اسلام ته ضرر نه شي رسولای .

۵- فی الرقاب: د غلامانو د ازادلو لپاره هم یو شخص د خپل مال زکات مصرفولای شي .

۶- الغارمین: هغه چا ته ویل کیږي چې دهغوی په غاړه باندې د نورو قرضونه وي او نوموړی یې له ورکړې څخه عاجز وي نو دا ډله خلک هم د زکات مستحق دي او یو شخص کولای شي چې دخپل مال زکات داسې خلکو ته ورکړي .

۷- فی سبیل الله : یعني د مال زکات د الله تعالی په لار کې هم مصرفیدلای شي البته په داسې ډول چې د مجاهدینو د مرستې لپاره ورکړل شي په داسې حال کې چې هغوی فقیر یا مسکین وي .

۸- ابن سبیل : هغه مسافر ته ویل کیږي چې په سفر کې ورسره مال او توښه خلاصه شي کچیرته نوموړی شخص په خپل وطن کې غني هم وي ولې که په سفر کې فقیر شو نو د زکات مستحق شمیرل کیږي او علماوو د ابن سبیل لپاره دا شرط بیان کړی چې کچیرته یې سفر د ګناه لپاره نه وي په د صورت کې د زکات مستحق شمیرل کیږي اما کچیرته یې سفر د ګناه او جرم کولو لپاره وو بیا د زکات مستحق نه ګڼل کیږي ځکه کچیرته زکات ورکړل شي دا په اصل کې له هغه سره کمک کول دي په ګناه کې او دا بیا جایز نه ده [1].

نو زکات هم د حلال مال د لاسته راوړلو له وسایلو څخه شمیرل کیږي چې له دی لارې هم یو شخص مال لاسته راوړی شي .

[1] - طنطاوي ، محمد سید ، التفسیر الوسیط للقران الکریم ، لومړی چاپ ، چاپ ځای : دار نهضة مصر للطباعة والنشر والتوزیع- القاهره، د ټوک ګڼه ۶، د پاڼې ګڼه (۳۲۵- ۳۲۸).

## څلورم مطلب : هدیه

الف: هدیه ( مایؤخذ بلا شرط الاعادة) [1] یعنې هغه څه چې د بیرته ورګرځولو له شرط پرته اخیستل کیږي .

مناوی[2] یې بیا داسې تعریفوي : ( ما بعثته لغیرک اکراماً )[3] یعنې هغه څه چې بل چا ته د هغه د عزت او اکرام لپاره لیږل کیږې.

## دهدیې او صدقې تر منځ توپیر

د هدیې او صدقې تر منځ توپیر موجود دی څکه رسول الله (صلی الله علیه وسلم ) به هدیه قبلوله او صدقه به یې نه قبلوله په حدیث شریف کې راځي چې نبي کریم ( صلی الله علیه وسلم ) به هدیه قبلوله او صدقه به یې نه قبلوله (**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ " كَانَ يَقْبَلُ الْهَدِيَّةَ، وَلَا يَقْبَلُ الصَّدَقَةَ)** [4]

ترجمه : حدیث له ابی هریرة ( رضی الله عنه ) څخه روایت دی هغه له نبی کریم (صلی الله علیه وسلم ) څخه چې نبی کریم ( صلی الله علیه وسلم ) به هدیه قبلوله او صدقه به یې نه قبلوله .

همدارنګه په یو بل حدیث کې چې هغه هم له أبي هريرة (رضی الله عنه ) څخه روایت دی راځي(**عن أبي هريرة رضي الله عنه قال : كان رسول الله صلى الله عليه و سلم إذا أتي بطعام سأل عنه ( أهدية أم صدقة ) . فإن قيل صدقة . قال لأصحابه ( كلوا ) . ولم يأكل وإن قيل هدية ضرب بيده صلى الله عليه و سلم فأكل معهم)**[5]

ترجمه : حدیث له ابی هریرة (رضی الله عنه ) څخه روایت دی هغه وایې : کله به چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم )ته خواړه راوړل شول نو د هغو په باره کې به یې پوښتنه کوله چې هدیه ده او که صدقه ، که به ورته وویل شول چې صدقه ده نو ده ( صلی الله علیه وسلم ) به اصحابو ته ویل چې وخورئ او خپله به یې نه خواړه او که به ورته وویل شول چې هدیه ده نو په لاس به یې ووهل او له خپلو اصحابو سره به یې خواړه ) .

---

[1] - التعریفات ، ج۱، ص۳۱۹.

[2] - محمد عبد الرؤوف بن تاج العارفین ابن علي بن زین العابدین الحدادي,یو د لویو علماوو څخه شمیرل کیږي په کال ۹۵۲هـ کې تو لد او په کال ۱۰۳۱هـ کې وفات شوی دی ، د ژوند په اوږدو کې به یې کم خوراک او کم خوب کاوه ، له مشهورو کتابونو څخه یې کنوز الحقایق ، فیض القدیر ، التوقیف علی مهمات التعاریف او داسی نور دي .

[3] - التوقیف علی مهمات التعاریف ، ج۱، ص۷۴۰.

[4] - مسند أحمد بن حنبل ، ج۱۴، ص ۳۳۳، دحدیث نمبر ۸۷۱۵. الباني ورته حسن صحیح ویلی . وګوره : التعلیقات الحسان علی صحیح ابن حبان و تمیز سقیمه من صحیحه ، محمد ناصر الدین ، لومړی چاپ ، د ټوکونو شمیر ۱۲، د ټوک ګڼه ۹، د پاڼی ګڼه ۱۴۵.

[5] - بخاری، ج۲، ص ۹۱۰، د حدیث نمبر ۲۴۳۷.

د هدیه کلمه په قرانکریم کې ذکر شوې ده په سورت النمل کې هغې قصې ته چې د سلیمان ( علیه السلام ) له ملکې سبا سره ده داسې اشاره کوي(**إِنَّهُ مِنْ سُلَيْمَانَ وَإِنَّهُ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ (30) أَلَّا تَعْلُوا عَلَيَّ وَأْتُونِي مُسْلِمِينَ**)[1].

ترجمه : بیشکه دغه ( لیک) د سلیمان ( له طرفه راغلی ) دی او بیشکه ( مضمون ددې لیک دا دی چې شروع ) په نامه د الله چې خورا ( ډیر ) مهربان ډیر رحم ولا دی .

( مقصد زما دادی ) چې لویي ( او کبر ) مه کوئ تاسې پر ما او راځئ تاسې ما ته مسلمانان غاړه ایښودونکې ( الله ته ) .

بیا بلقیس ددغه خط له لوستلو ښخه وروسته خپل درباریان او مشران را ټول کړل او دوی ته یې وویل چې په قرانکریم کې ورته داسې اشاره شوی (**قَالَتْ يَاأَيُّهَا الْمَلَأُ أَفْتُونِي فِي أَمْرِي مَا كُنْتُ قَاطِعَةً أَمْرًا حَتَّى تَشْهَدُونِ**)[2].

ترجمه : وویل ( بلقیس ) چې ای اشرافو ! فتوی ( مشوره ) را کړئ تاسې ما ته په دغه کار زما کې ، نه یم زه فیصله کوونکې د کوم کار تر هغه پوری چې حاضر شئ تاسې ما ته ( مشوره راکړې !) .

بیا دوی مشوره وکړه او له مشورې وروسته یې فیصله وکړه چې سلیمان ( علیه السلام ) ته تحفې او هدیې ولیږي تر څو له د لارې د سلیمان ( علیه السلام ) زور ، قوت او د قدرت وضعیت ځان ته معلوم کړي په قرانکریم کې الله تعالی ورته داسې اشاره کوي (**قَالَتْ إِنَّ الْمُلُوكَ إِذَا دَخَلُوا قَرْيَةً أَفْسَدُوهَا وَجَعَلُوا أَعِزَّةَ أَهْلِهَا أَذِلَّةً وَكَذَلِكَ يَفْعَلُونَ (34) وَإِنِّي مُرْسِلَةٌ إِلَيْهِمْ بِهَدِيَّةٍ فَنَاظِرَةٌ بِمَ يَرْجِعُ الْمُرْسَلُونَ**)[3].

ترجمه : نو وویل ( بلقیس چې په جنګ کې خیر نشته ) بیشکه پاچاهان هر کله چې ننوزي په کوم کلي ( ښار) کې ( په غلبه او قهر ) خرابوې دوی هغه ( ښار ) او ګرځوې دغه ( پاچاهان ) عزیزان ( مشران ) د اهل د هغه ذلیلان ( سپک بندیان ) او هم داسې ( چې مې وویل ) دوی کوی .

او بیشکه زه لیږونکې یم دوی ته ( قاصد ) سره له هدیې ( پیشکشی ) پس بیا زه کتونکې یم چې په څه حال بیرته راځي دغه لیګلی شوی ( چې قبلوي دغه پیشکشي یا یې بیرته رالیږي) .

او کومې هدیې چې ملکې سبا سلیمان ( علیه السلام ) ته ولیږلې هغه ډیرې قیمتي چې په کې سره زر ، سپین زر، قیمتي کاڼي ښایسته هلکان او نجونې شاملې وې[4]

خو اساسي خبره داده چې ایا سلیمان ( علیه السلام ) دا تحفې قبولې کړی او کنه ؟ نه ځکه په دی ځای کې د تحفو قبلول د حق څخه د سترګو پټولو په معنی وو ، نو همدا وجه وه چې سلیمان ( علیه

[1] - النمل , ایت ( 30- 31) .
[2] النمل , ایت 32.
[3] - النمل , ایت ( 34- 35).
[4] - التفسیر المنیر فی العقیدة والشریعة المنهج ، ج١٩، ص ٢٩٤.

السلام ) دهغوی تحفو ته وهم نه کتل او د هغو له اخيستلو يې انکار وکړ او دا يې ورته وويل چې ايا تاسي غواړئ د مال په راکولو سره تاسي په خپل شرک کې پريږدم ؟ بيشکه چې الله تعالی ما ته له دې څخه غوره او بهتره څه راکړي کوم چې تاسي يې ما ته راکوئ او هغه څه عبارت له نبوت ، پاد شاهی ، او ډير مال څخه دي ، زه ستاسي ډير مال او تحفو ته ضرورت نه لرم او هغه تاسي ياست چې د تحفو لپاره غاړه ايږدئ او هغو ته خوشحاليږئ ، کوم څه چې زه له تاسي غواړم هغه دادي چې تاسي د الله تعالی په دين کې شامل شئ او د لمر عبادت پريږدئ همدارنګه هغه څه چې زه له تاسي غواړم هغه د اسلام د دين منل دي او که يې نه منئ نو ستاسي په مقابل کې به له توري کار اخلم[1] .

الله تعالی ( جل شأنه ) په قرانکريم کې نوموړې موضوع ته داسې اشاره کوي (**فَلَمَّا جَاءَ سُلَيْمَانَ قَالَ أَتُمِدُّونَنِ بِمَالٍ فَمَا آتَانِيَ اللَّهُ خَيْرٌ مِمَّا آتَاكُمْ بَلْ أَنْتُمْ بِهَدِيَّتِكُمْ تَفْرَحُونَ (36) ارْجِعْ إِلَيْهِمْ فَلَنَأْتِيَنَّهُمْ بِجُنُودٍ لَا قِبَلَ لَهُمْ بِهَا وَلَنُخْرِجَنَّهُمْ مِنْهَا أَذِلَّةً وَهُمْ صَاغِرُونَ**)[2].

ترجمه : پس کله چې راغی ( قاصد د بلقيس) سليمان ته نو وويل ( سليمان ايا مدد کاري کوئ تاسي له ما سره پس هغه څيز چې راکړی دی ما ته الله ( نبوت ، علم، سلطنت ) خير ډير غوره دی له هغه څيزه چې درکړې دي ( الله ) تاسي ته بلکه په دغه هديه خپلې خوشحاليږئ بيرته ورشه دوی ته ( ای قاصده چې راشي ما ته ! کنه ) پس خامخا وربه شو مونږ دوی ته سره له ( داسې زوررور ) لښکر چې نه وي هيڅ طاقت د مقابلې دوی ته له هغوی لښکرو سره او خامخا وبه باسو هرو مرو ( خامخا) دوی له دغه ( ښار د سبا څخه ) په دی حال کې چې بې عزته ، بې حرمته وی او دوی به خوار او سپک وي .

په هر حال که چيرته هديه د رشوت په شکل کې نه وي اخيستل يې مستحب دي او له دې لارې يو سړی مال لاس ته راوړي همدارنګه مستحب ده چې د تحفه ورکونکي دتحفې په مقابل کې هغه ته بيرته تحفه ورکړل شي څکه نبي کريم ( صلی الله عليه وسلم ) (**عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا: «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقْبَلُ الْهَدِيَّةَ وَيُثِيبُ عَلَيْهَا**)[3].

ترجمه : حديث له عايشی ( رضی الله عنها ) څخه روايت دی هغه وايي چې نبي کريم ( صلی الله عليه وسلم ) به هديه قبلوله او بيرته به يې د هغې مقابله ورکوله.

---

[1] - التفسير المنير فی العقيدة والشريعة والمنهج ، ج۱۹، ص ( ۲۹۴- ۲۹۵).
[2] - النمل ، ايت (۳۶- ۳۷).
[3] - سنن أبی داود ، ج۳، ص ۲۹۰، د حديث نمبر ۳۵۳۶. الباني ورته صحيح ويلی ، وګوره : صحيح و ضعيف سنن أبی داؤد ، ج۸، ص۳۶.

## پنځم مطلب: دیت

الف: دیت په لغت کې : جرجاني یې داسې تعریفوي : (المال الذي هو بدل النفس )[1].

ترجمه : هغه مال ته ویل کیږې چې د نفس په بدل کې ورکول کیږي.

مناوي یې بیا داسې تعریفوی : ( المال الواجب باالجنایة علی الجاني فی نفس أو طرف أو غیرهما)[2].

دیت هغه واجبه مال ته ویل کیږي چې جاني یا د هغه خپلوان به یې د جنایت په مقابل کې د مقتول ورثه وو ته ورکوي.

د معجم الوسیط صاحب یې بیا داسې تعریفوي: ( الدیة المال الذي یعطی ولي المقتول بدل نفسه )[3].

دیت هغه مال ته ویل کیږې چې د مقتول ولي ته د هغه د نفس په مقابل کې ورکول کیږي .

ب: دیت په اصطلاح کې : عبارت له هغه مال څخه ده چې د مقتول د وینې په بدل کې د هغه ولي ته ورکول کیږې[4].

الله تعالی فرمایي (**وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ أَنْ يَقْتُلَ مُؤْمِنًا إِلَّا خَطَأً وَمَنْ قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَأً فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ وَدِيَةٌ مُسَلَّمَةٌ إِلَى أَهْلِهِ إِلَّا أَنْ يَصَّدَّقُوا فَإِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍ عَدُوٍّ لَكُمْ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ وَإِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِيثَاقٌ فَدِيَةٌ مُسَلَّمَةٌ إِلَى أَهْلِهِ وَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ تَوْبَةً مِنَ اللَّهِ وَكَانَ اللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا**)[5].

ترجمه : اوهر څوک چې مړ کړي کوم مؤمن په خطا سره نو ( شته پر قاتل ) ازادول د غاړې ( د مریې ) مؤمن او ( بل ) دیت دی سپارلی شوی اهل ( وارثانو) د مقتول ته مګر دا که معاف کړی دا ( وارثان د غه قاتل ) پس که وو ( دا مقتول ) له ( هسې ) قومه چې دښمن وي تاسې لره حال دا چې دا ( مقتول ) مؤمن وې نو ( شته پر قاتل تش ) ازادول د غاړې ( د مریې) مؤمن ( بې له دیته ) او که وو دا مقتول له ( هسې ) قومه چې په مینځ ستاسې او په منځ د هغه قوم کې عهد وی نو ( شته پر قاتل یو ) دیت ورسپارلی شوی اهل (وارثانو) د مقتول ته او ( بل ) ازادول د غاړې ( د مریې) مؤمن دی پس هر څوک چې ونه مومي ( مریی یا مال چې پری مریی واخلي) نو ( پرې ) روژه نیول د دوو میاشتو دي پر له پسې ( بلا انقطاع د پاره د قبلولو د ) توبې له ( جانبه د ) الله او دی الله ښه عالم ( په ټولو احوالو) لوی حکمت ولا ( چې هر کار په حکمت او مصلحت سره کوي) .

(**وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ أَنْ يَقْتُلَ مُؤْمِنًا**) یعنې دا د یو مؤمن لپاره مناسبه نه ده چې بل مؤمن په قتل ورسوي

---

1 - التعریفات ، ج۱، ص ۱۴۲.

2 - التوقیف علی مهمات التعاریف، ج۱، ص۳۴۵.

3 - المعجم الوسیط ، تالیف: ابراهیم مصطفی ـ أحمد الزیات – حامد عبدالقادر – محمد النجار، تحقیق: مجمع اللغة العربیه ، چاپ ځای دارالدعوة ، د ټوکونو شمیر ۲، د ټوک ګڼه ۲، د پاڼي ګڼه ۱۰۲۲.

4 - التفسیر المنیر فی العقیدة والشریعة والمنهج ، ج۵، ص۱۹۹.

5 - نساء ، ایت ۹۲.

مګر کچيرته په خطا سره وي[1].

**(وَمَنْ قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَأً)** د مثال په ډول نښه يې ويشته خو سړی ولګيد يا يې ښکار کاوه خو سړی يې وويشت **(فَتَحْرِيرُ)** ازادوي به **(رَقَبَةٍ)** غاړی ( غلام ) **(مُؤْمِنَةٍ)** مسلمان **(وَدِيَةٌ مُسَلَّمَةٌ)** پوره **(إِلَى أَهْلِهِ)** د مقتول ورثه وو ته **(إِلَّا أَنْ يَصَّدَّقُوا)** مګر که چيرته يې ورته وبښي[2].

د ديت اندازه په نبوي سنتو کې بيان شوی ده چې سل مختلف عمر لوونکي اوښان دي او د هغو اوښانو قيمت دی، او د ديت ورکړه د قاتل په کورني باندې واجب ده ، کچيرته د قاتل کورني د ديت له ورکړې څخه عاجزه وي نو د بيت المال څخه به بيا هغه ديت ورکول کيږي [3].

ټول فقها په د اتفاق لري چې د مسلمان سړي ديت سل اوښان لري او د اوښانو په ځای د هغوی قيمت ته ميلان کول جايز دي[4]

او د ښځې ديت د سړي د ديت نيمايي ده[5].

په يو حديث شريف کې راځي **( عن ابن مسعود قال قضى رسول الله صلى الله عليه وسلم في دية الخطأ عشرين بنت مخاض وعشرين بني مخاض ذكورا وعشرين بنت لبون وعشرين جذعة وعشرين حقة)**[6].

ترجمه : ابن مسعود ( رضي الله تعالي عنه ) فرمايي فيصله وکړه رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) د خطا قتل په ديت کې په شل اوښانو ( بنت مخاض )يعني يو کلن اوښ ، او په شل اوښانو ( بن مخاض ) يعني چې نران وي، او په شل اوښانو ( بنت لبون ) يعني هغه اوښان چې دوه کلن شوی وي او په شل اوښانو ( جذعه) يعني هغه اوښ چې څلور کلن شوی وي او په شل اوښانو ( حقه ) يعني هغه اوښ چې دری کلن شوی وي، باندې.

همدارنګه لکه څنګه چې مخکې مو يادونه وکړه چې د ښځې ديت د سړي د ديت نيمايي ده دليل يې دا حديث د نبی کريم ( صلى الله عليه وسلم ) دی **(عن معاذ بن جبل قال قال رسول الله -صلى الله عليه وسلم- :« دية المرأة على النصف من دية الرجل)**[7].

---

[1] - التفسير الوسيط ، ج۳، ص۲۵۶.

[2] - المحلي ، جلال الدين محمد بن أحمد المتوفى ۸۶۴هـ ، او جلال الدين عبدالرحمن بن أبى بكر وفات ۹۱۱هـ تفسير جلالين ، لومړی چاپ . د ټوک ګڼه ۱، د پاڼی ګڼه ۱۱۷.

[3] - الحجازي ، محمد محمود ، التفسير الواضح ، لسم چاپ ، چاپ کال ۱۴۱۳هـ ، چاپ ځای : دار الجيل الجديد – بيروت ، د ټوک ګڼه ۱، د پاڼی ګڼه ۴۱۳.

[4] - الموسوعة الفقهية ، ج۲۱،ص ۵۹.

[5] - التفسير المنير فى العقيدة والشريعة والمنهج، ج۵، ص۲۰۱.

[6] - مسند امام أحمد بن حنبل ، ج۴، ص۲۱۰ ، د حديث شميره ۴۳۰۱.

[7] - البيهقي , أحمد بن الحسين بن على بن موسى ، سنن الكبرى ، د وفات نيټه ۴۵۸هـ ، تحقيق: محمد عبدالقادر عطا ، دريم چاپ ، چاپ کال ۱۴۲۴هـ ، چاپ ځای : دار الكتب العليمة بيروت – لبنان ، دټوک ګڼه ۸، د پاڼی ګڼه ۱۶۶، د حديث نمبر ۱۶۳۰۵، الباني ورته ضعيف ويلی . وګوره : ارواء الغليل ، ج۷، ص۳۰۶، د حديث نمبر ۲۲۵۰.

ترجمه : حدیث د معاذ بن جبل ( رضی الله عنه ) څخه روایت دی هغه وایې رسول الله ( صلی الله علیه وسلم ) وفرمایل : د ښځې دیت د سړي د دیت نیمایي ده .

همدارنګه په شهادت او میراث کې هم ښځه د سړي په نیمایي برخه لري چې په دیت کې هم همداسې ده[1]

نو د دیت هم یو د هغو مشروعو لارو څخه ده چې له د لارې یو سړی مال لاسته راوړي.

## شپږم مطلب: تجارت

الف : تجارت په لغت کې : جرجاني یې داسې تعریفوي ( التجارة عبارة عن شراء شئٍ لیباع بالربح)[2].

ترجمه : د ګټې د لاسته راوړلو په خاطر د یو شي خرڅولو ته تجارت ویل کیږي .

مناوي یې بیا داسې تعریفوي( التجارة تقلیب المال بالتصرف فیه لغرض الربح)[3].

د ګټې د لاسته راوړلو په خاطر د خپل مال اړولو راړولو ته تجارت ویل کیږي.

ب: تجارت په اصطلاح کې : د مال په بدل کې د مال لاسته راوړلو ته تجارت ویل کیږي[4].

تجارت هغه کسب ده چې ډیری خلک یې کوي او له ډیری پخوا زمانې را هیسې د خلکو تر منځ مروج ده او له ډیرې پخوا زمانې څخه په خپل مابین کې را کړه ورکړه درلوده او هغه د اړتیا وړ شیونه به یې په یو بل خرڅول او اخیستل لکه خوراکي توکي ، مایعات ، کالي او داسې نور او دا ټول هغه څه وو چې خلکو به د تجارت او راکړې او ورکړې له لارې لاس ته راوړل چې په بازارونو کې یې شتون حتمي او لازمي وو یعنې خلکو به هغه د اړتیا څخه اضافه توکي بازارونو ته راوړل او په نورو به یې خرڅول او په مقابل کې به یې د خپلې اړتیا وړ توکي اخیستل .

او یو د حلال مال د لاسته راوړلو له وسایلو څخه شمیرل کیږي چې په دی وسیلې سره یو سړی کولای شی حلال مال لاسته راوړي الله تعالی فرمایې (**يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ إِلَّا أَنْ تَكُونَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِنْكُمْ وَلَا تَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا**)[5]

ترجمه : اې هغو کسانو چې ایمان مو راوړی : مه خورئ تاسې ! مالونه د یو بل په خپلو منځونو کې په ناروا سره ! مګر ( خورئ یې ) که وي دا ( مالونه چې خورئ یې اموال د ) تجارت ( چې صادروی ) په خوښی سره له تاسو نه او مه وژنئ تاسې خپل ځانونه ( یعنې یو بل یا مه کوئ تاسې

[1] - الموسوعة الفقهية ، ج٢١، ص ٦٠.
[2] - التعريفات ، ج١، ص ٧٣.
[3] - التوقيف على مهمات التعاريف ، ج١، ص ١٦٠.
[4] - الفقه الميسر ، ج٢ ،ص ٧٣.
[5] - نساء، ایت ٢٩.

هغه کار چې ستاسې د هلاکت سبب ګرځي ) بيشکه چې الله دی پر تاسې باندې ډیر مهربان ( د اجر او ثواب په ورکړې سره ) .

تفسير الخازن ددې ايت ددې برخې (**يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ**) تفسير داسې کوي : مه خورئ تاسې مالونه د يو بل په حرامه لار سره لکه سود ، غلا او ددې په مثل له نورو لارو څخه ، بلکه مال لاسته راوړلای شئ له يو بل څخه په تجارت سره په دی شرط چې په دی تجارت کي به رضايت د دواړو طرفينو موجود وي چې همدا رضايت د طرفينو يو بل ته د مال د حلال والي سبب ګرځي[1].

همدارنګه تجارت هغه کسب دی چې په قران عظيم الشأن کي يې ډیره يادونه شوی ده او ددې کسب کولو ته خلک تشويق شوي دي الله تعالى فرمايي (**يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَنْفِقُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا كَسَبْتُمْ**)[2]

ترجمه : ای هغو کسانو چې ايمان مو راوړی دی ! لګوئ ! له حلالو ( پاکو ، غورو) د هغو مالونو چې ( په کسب سره ) تاسې ګټلې.

چې په پورتني ايت د قران عظيم الشأن کي د (**مِنْ طَيِّبَاتِ مَا كَسَبْتُمْ**) څخه هدف تجارت دی[3].

همدارنګه په بل ايت شريف کې الله تعالى فرمايي (**لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَبْتَغُوا فَضْلًا مِنْ رَبِّكُمْ فَإِذَا أَفَضْتُمْ مِنْ عَرَفَاتٍ فَاذْكُرُوا اللَّهَ عِنْدَ الْمَشْعَرِ الْحَرَامِ وَاذْكُرُوهُ كَمَا هَدَاكُمْ وَإِنْ كُنْتُمْ مِنْ قَبْلِهِ لَمِنَ الضَّالِّينَ**)[4].

ترجمه: نشته په تاسې باندې هيڅ ګناه په دی کې چې غواړئ روزي له فضل د رب څخه نو هر کله چې راکوز شئ ( د بيت الله طواف ته ) له عرفات څخه نو يادوئ الله په نزد د مشعرالحرام ( اخر د مزدلفی کې ) او يادوئ دی ( الله ) لکه چې لاره يې درښودلې ده تاسې ته او بيشکه چې وئ تاسې پخوا له هدايته خامخا له ګمراهانو څني .

يعنې په دی کې هيڅ مشکل نشته چې تاسې د حج سره تجارت او کسب وکړئ[5].

همدارنګه په بل ايت شريف کې الله تعالى فرمايي (**فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَاةُ فَانْتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ وَابْتَغُوا مِنْ فَضْلِ اللَّهِ وَاذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيرًا لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ**)[6].

ترجمه : په پورتني ايت د قران عظيم الشأن کي د (**وَابْتَغُوا مِنْ فَضْلِ اللَّهِ**) څخه هدف تجارت دی[7].

---

[1] - لباب التأويل فى معانى التنزيل ، ج١، ص ٣۶۶.
[2] - بقره , ايت 267.
[3] - الوجيز فى تفسير الكتاب العزيز، ج١، ص١٨٩.
[4] - بقره , ايت 198.
[5] - أوضح التفسير ، ج١، ص٣۶.
[6] - جمعه , ايت 10
[7] - أضواء البيان ، ج١، ص ٨٩.

کله هم د پلټلو په کلمې سره په ځمکه کې الله تعالی خپل بندګان تجارت ته تشویقوي الله تعالی فرمایي (**...وَآخَرُونَ يَضْرِبُونَ فِي الْأَرْضِ يَبْتَغُونَ مِنْ فَضْلِ اللَّهِ...**)[1].

ترجمه : او وي به نور له تاسې څخه په سفر ، مزل به کوي دوی په خمکه کې ، لټوي له دوی له فضله رزقه د الله .

په پورتني ایت کې د (**يَضْرِبُونَ فِي الْأَرْضِ**) څخه هدف په ځمکه کې د تجارت لپاره سفر کول دي، نو د ایت معنی دا شوه چې سفر کوی په ځمکه کې تر څو په تجارت کې ګټه تر لاسه کړئ[2].

همدارنګه تجارت یو دهغو مهمو حلالو کسبونو څخه وو چې د مکه والو تر منځ رایج وو، هغوی به د تجارت لپاره په کال کې دوه سفرونه کول چې په اوړي کې به شام ته تلل او په ژمي کې به یمن ته ، الله تعالی یې په هکله فرمایي (**لِإِيلَافِ قُرَيْشٍ (1) إِيلَافِهِمْ رِحْلَةَ الشِّتَاءِ وَالصَّيْفِ**)[3].

ترجمه : له جهته ی انس او الفت ی قریشو یو له بل سره , له جهته د انس او الفت د دوی په سفر د ژمي کې او ( په سفر د ) اوړي کې.

همدارنګه نبي کریم ( صلی الله علیه وسلم ) مخکې له نبوت څخه همدا کسب کړی ، ابن هشام په خپل سیرت کې نوموړی موضوع ته داسې اشاره کوي ( نبي کریم ( صلی الله علیه وسلم) به د خدیجې (رضی الله عنها ) په مال تجارت کاوه ، ابن اسحاق وایي : بی بی خدیجه بنت خویلد یوه با عزته تاجره وه چې دهغې په مال به سړیو تجارت کاوه ځکه قریش یو تاجر قوم وو کله چې بی بی خدیجة الکبرې د نبی کریم ( صلی الله علیه وسلم ) د اخلاقو ، امانتداری او ریښتنولۍ څخه خبره شوه نو په هغه پسې یې سړی ولیږه او له هغه ( صلی الله علیه وسلم ) څخه یې غوښتنه وکړه چې ددې له مال سره شام ته د تجارت لپاره ولاړشي او هغه ته یې تر نورو د ډیری اجرې ورکولو وړاندیز هم وکړ ، نبي کریم ( صلی الله علیه وسلم) د هغې دا غوښتنه ومنله او د هغې له مال سره شام ته د تجارت لپاره ولاړ[4].

همدارنګه الله تعالی ( جل شأنه) د هغه چا صفت بیانوې کوم چې هغوی د خپل رب سره په سمه لاره ځي او د هغوی تجارت د الله تعالی د عبادت د پاتې کیدو باعث نه ګرځي الله تعالی فرمایي (**رِجَالٌ لَا تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ وَلَا بَيْعٌ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ وَإِقَامِ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ يَخَافُونَ يَوْمًا تَتَقَلَّبُ فِيهِ الْقُلُوبُ وَالْأَبْصَارُ**)[5]

---

[1] - مزمل ، ایت ۲۰.
[2]- أضواء البیان ، ج۶، ص ۷۷.
[3] - قریش , ایت (1-2).
[4] - سیرت ابن هشام ، ج۱، ص ( ۱۸۷- ۱۸۸).
[5] - نور , ایت 37.

ترجمه : ( داسې ) سړي چې نه غافلوي دوی سوداګري او نه بیع پیرودل له ذکره یاده د الله ، او له سم قائمولو اداء کولو د لمانځه او له ورکولو د زکات ویریږي ( دوی سره له ذکره او طاعته له عذابه ) د هغې ورځې چې اوړي راوړي ، مضطرب به وي په هغې ورځې کې زړونه او سترګې ( له ډیرې ویرې).

همدارنګه له نبي کریم ( صلی الله علیه وسلم ) څخه د غوره او بهتره کسب په باره کې پوښتنه وشوه هغه ( صلی الله علیه وسلم) په ځواب کې ورته وویل ( بیع مبرور و عمل الرجل بیده)[1].

ترجمه : درسته بیع او لاسې کار .

نو په دی کې هیڅ شک نشته چې تجارت یو شریف کسب او د حلال مال د لاسته راوړلو لپاره بهترینه او غوره لار ده لکن په دی شرط چې د لاندې مسائلو څخه په کې پرهیز وشي :

۱- د حرامو شیونو له تجارت څخه ځان ساتنه لکه شراب ، مخدره مواد ، نشه راوړونکې شیونه ، د خنزیر غوښه او داسې نور.

۲- په تجارت کې د چال او فریب څخه ځان ساتل ځکه نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) فرمایي ( من غشنا فلیس منا)[2]

ترجمه : څوک چې له موږ سره چل او فریب کوي دموږ له جملې څخه نه دی .

۳- تجارت د عبادت مانع ونه ګرځي خو کچیرته د عبادت مانع ګرځي بیا دا تجارت حرام دی باید ډېره ترې وشي.

---

[1] - مسند أحمد ، ج۲۵، ص ۱۵۷، په صحیح الجامع کې الباني ورته صحیح ویلی د حدیث نمبر ۱۱۲۶.

[2] - مسلم ، کتاب البیوع ، ج۱، ص ۶۹.

## دويم مبحث : دحرام مال دلاس ته راوړلو وسايل

لومړی مطلب: د زنا له لارې

دويم مطلب: د سحر له لارى

دريم مطلب: د بتانو جوړولوله لارى

څلورم مطلب: د شرابو پلورلو له لارى

پنځم مطلب: دغلا له لارى

شپږم مطلب: دغصب له لارى

اووم مطلب: د رشوت له لارى

اتم مطلب: د سود له لارى

## دويم مبحث : د حرام مال د لاسته راوړلو وسايل

**تمهيد:** مال او دهغه لاسته راوړل د انسان طبعي غريزه ده ، هر انسان دا خوښوي چې مال د ولري او هغه د لاسته راوړي خو ځيني انسانان بيا د مال په لاسته راوړلو کې د پوره احتياط څخه کار اخلي او له هغو لارو يې لاسته راوړي کومې چې الله تعالى ورته بيان کړې او حلالې يې ګرځولې اما بالمقابل داسې انسانان هم شته چې هغوی د مال په لاسته راوړلو کې اسلامي شريعت ته رجوع نه کوي بلکه د مال د لاسته راوړلو په فکر کې وي که هغه له هرې لارې وي چې زه يې دلته دهغو لارو يادونه کوم.

**لومړی مطلب: زنا : الف : زنا په لغت کې** : جرجاني يې داسې تعريفوي ( الوطىء فى قبل خال عن ملک وشبهة)[1] يعني د نر د تناسلي الې داخليدل د ښځې په تناسلي اله کې په داسې حال کې چې د ملکيت او شبه ملکيت څخه خالي وي .

**ب: زنا په اصطلاح کې**: ( وطئ المرأة من غير عقد شرعيٍ)[2] يعنې د ښځې وطې کول بدون له دې چې کوم شرعي عقد موجود وي.

مفسرينو د زنا ، مخادنې، بغاء ، او ضماد تر منځ فرق بيان کړی دی چې د هغوی له جملې څخه د طاهر ابن عاشورقول په د اړه را نقلوم :

**۱- مخادنة:(** فهى زنا مستمر) يعنې هغه دايمې زنا ته ويل کيږي لکه څنګه چې الله تعالى په قران عظيم الشأن کې ورته داسې اشاره کوي (**...مُحْصَنَاتٍ غَيْرَ مُسَافِحَاتٍ وَلَا مُتَّخِذَاتِ أَخْدَانٍ** ...)[3].

ترجمه : چې وي دوی عفيفې ساتلی شوي له زنا چې نه وي زنا کوونکې په ښکاره او نه وي نيوونکې د پټو يارانو.

**۲- بغاء**:( وهو الزنا بالاماء بأجورة معينة) يعنې د وينځې سره زنا ته ويل کيږې په معينې اجورې سره ، په داسې حال کې چې الله تعالى له دې کار څخه منع کړی ، الله تعالى فرمايي (**وَلْيَسْتَعْفِفِ الَّذِينَ لَا يَجِدُونَ نِكَاحًا حَتَّى يُغْنِيَهُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ وَالَّذِينَ يَبْتَغُونَ الْكِتَابَ مِمَّا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ فَكَاتِبُوهُمْ إِنْ عَلِمْتُمْ فِيهِمْ خَيْرًا وَآتُوهُمْ مِنْ مَالِ اللَّهِ الَّذِي آتَاكُمْ وَلَا تُكْرِهُوا فَتَيَاتِكُمْ عَلَى الْبِغَاءِ إِنْ أَرَدْنَ تَحَصُّنًا لِتَبْتَغُوا عَرَضَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَمَنْ يُكْرِهْهُنَّ فَإِنَّ اللَّهَ مِنْ بَعْدِ إِكْرَاهِهِنَّ غَفُورٌ رَحِيمٌ**)[4].

ترجمه : او ښايي چې ځان د وساتي هغه کسان چې نه مومي دوی ( سامان ، اسباب د ) نکاح تر هغه پورې چې غنيان کړي دوی الله له ف نضله خپله او هغه کسان چې غواړي مکاتب والی له هغو (

[1] - التعريفات ، ج۱، ص۱۱۵.
[2] - الأبياري ، ابراهيم بن اسماعيل ، الموسوعة القرانية ، د وفات نيټه ۱۴۱۴هـ ، چاپ کال ۱۴۰۵هـ ، چاپ ځای : مؤسسة سجل العرب ، د توک ګڼه ۸، د پاڼې ګڼه ۲۴۲.
[3] - نساء، ايت ۲۵
[4] - النور, ايت 33.

وینځو مریو ) چې مالکان شوي دي د هغو ښې لاسونه ستاسې نو مکاتبان کړئ دوی که چیرې پیژانده تاسې په دوی کې خیر انو ورکوئ دوی ته له ځینو مالونو د الله هغه چې در کړې یې دي تاسې ته او مه مجبوروې تاسې وینځې خپلې په زنا ( او بدو کارونو ) که چیرې اراده لري دوی د ځان پاک ساتلو د پاره د دې چې طلب کوئ تاسې ( په دغه اکراه سره ) مال د ژوندون لږ خسیس ( چې هغه باړه د زنا او وړوکې دی ) او هر هغه چې زور یې وکړ په دوی پس بیشکه الله وروسته له زور د مالکانو پر دوی ډیر ښنونکی ښه رحم ولا دی .

**۳- ضماد** : ( وهوأن تتخذ ذات الزوج رجلاً خليلاً لها فى سنة القهط لينفق عليها مع نفقة زوجها)[1] .

ترجمه : د قهطی په کال د میره ولا ښځې لپاره د یو سړي په داسې شان نیول چې د اصلې میره او ښځې نفقه ورکړي.

دا ټول هغه افعال دي چې په اسلام کې ورته ناروا ویل شوی دي او د اسلام مبارک دین ورڅخه منع کړې ده .

د یادوني وړ ده چې عبدالله ابن أبی ابن سلول هغه شخص ووچې دغه شنیع او بد اعمال به یې په خپلو وینځو سرته رسول چې د هغوی په مابین کې ځیني داسې وینځې وې چې مسلماني شوې وې او له دغه فعل څخه یې اجتناب کاوه اما دغه رئیس المنافقین هغوی مجبورولې ترڅو هغوی دغه افعال سرته ورسوې او له دې لارې به نوموړې پیسې لاس ته راوړی چې دا مخکنی ایت هم د همده منافق په باره کې نازل شوی دی ، او په یو بل روایت کې راځي چې عبدالله ابن أبی ابن سلول شپږ وینځې درلودې چې نومونه عبارت وو له معاذه ، مسیکه ، أمیمه ، أروی ، قتیله ، کله به چې دوی ورته پیسې راوړې نو دوی ته به ویل چې لاړې شئ زنا وکړئ او پیسې راوړی ، له دوی څخه به ځینو ورته ویل : قسم په الله دا کار مونږ نه کوو ځکه اوس اسلام راغلی او زنا په کې حرامه ده ، چې بیا دوی رسول الله ( صلی الله علیه وسلم ) ته راغلې او شکایت یې ورته وکړ چې بیا دا ایت نازل شو[2] نو عبدالله ابن أبی ابن سلول هغه شخص وو چې له د لارې څخه به یې مال لاس ته راوړ په داسې حال کې چې یو مسلمان له د لارې څخه د مال لاسته راوړلو څخه منع شوی ځکه الله ( جل شأنه ) په واضح ډول د موضوع په همدې ایت د قران عظیم الشأن کې اشاره کړې (**وَلَا تُكْرِهُوا فَتَيَاتِكُمْ عَلَى الْبِغَاءِ**..) ترجمه: (او مه مجبوروي وینځې تاسې خپلې په زنا) چې د بغا معنی دلته زنا ده[3] .

همدارنګه په ټولو مالدارانو او بډایه خلکو باندې دا لازمه ده چې د چا له مجبوریت څخه غلطه استفاده ونه کړي او له د لارې مال لاسته رانه وړي بلکه د محتاجو او بیچاره خلکو سره د الله تعالی د رضا

---

[1] - التحریر والتنویر، ج۴، ص۲۳۱.

[2] - البحر المحیط فی التفسیر ، ج۸، ص۴۰.

[3] - الجزائري ، جابر بن موسی بن عبدالقادر ، أیسر التفاسیر لکلام العلي الکبیر ، پنځم چاپ ، چاپ کال : ۱۴۲۴هـ ق ، چاپ ځای : مکتبة العلو م والحکم – المدینة المنوره ، ټوکونه ۵، دټوک ګڼه ۳، د پاڼي ګڼه ۵۷۰.

په خاطر مرسته وکړي لکه څنګه چې په يو اوږد حديث چې په بخاري شريف کې ذکر شوې نومو ړې موضوع ته داسې اشاره شوې (**عن عبد الله بن عمر رضي الله عنه قال : سمعت رسول الله صلى الله عليه و سلم يقول ( انطلق ثلاثة رهط ممن كان قبلكم حتى أووا المبيت إلى غار فدخلوه فانحدرت صخرة من الجبل فسدت عليهم الغار فقالوا إنه لا ينجيكم من هذه الصخرة إلا أن تدعو الله بصالح أعمالكم فقال رجل منهم اللهم كان لي أبوان شيخان كبيران وكنت لا أغبق قبلهما أهلا ولا مالا فناء بي في طلب شيء يوما فلم أرح عليهما حتى ناما فحلبت لهما غبوقهما فوجدتهما نائمين وكرهت أن أغبق قبلهما أهلا أو مالا فلبثت والقدح على يدي أنتظر استيقاظهما حتى برق الفجر فاستيقظا فشربا غبوقهما اللهم إن كنت فعلت ذلك ابتغاء وجهك ففرج عنا ما نحن فيه من هذه الصخرة فانفرجت شيئا لا يستطيعون الخروج قال النبي صلى الله عليه و سلم وقال الآخر اللهم كانت لي بنت عم كانت أحب الناس إلي فأدرتها عن نفسها فامتنعت مني حتى ألمت بها سنة من السنين فجاءتني فأعطيتها عشرين ومائة دينار على أن تخلي بيني وبين نفسها ففعلت حتى إذا قدرت عليها قالت لا أحل لك أن تفض الخاتم إلا بحقه فتحرجت من الوقوع عليها فانصرفت عنها وهي أحب الناس إلي وتركت الذهب الذي أعطيتها اللهم إن كنت فعلت ابتغاء وجهك فافرج عنا ما نحن فيه فانفرجت الصخرة غير أنهم لا يستطيعون الخروج منها قال النبي صلى الله عليه و سلم وقال الثالث اللهم إني استأجرت أجراء فأعطيتهم أجرهم غير رجل واحد ترك الذي له وذهب فثمرت أجره حتى كثرت منه الأموال فجاءني بعد حين فقال يا عبد الله أد إلي أجري فقلت له كل ما ترى من أجرك من الإبل والبقر والغنم والرقيق فقال يا عبد الله لا تستهزئ بي فقلت إني لا أستهزئ بك فأخذه كله فاستاقه فلم يترك منه شيئا اللهم فإن كنت فعلت ذلك ابتغاء وجهك فافرج عنا ما نحن فيه فانفرجت الصخرة فخرجوا يمشون )**[1] .

ژباړه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی چې وائي : ما د رسول الله عليه افضل الصلاة والسلام نه واوريدل چې فرمايل يې :

تر تاسې نه په مخکنيو امتونو کې درې کسان (په لاره) روان وو ،دوی د شپې تېرولو په موخه يوه غار ته راغلل او هلته ننوتل. د غره نه يوه لويه تيږه را وښوېده اوپه دوی پسې يې د غار خوله بنده کړه دوی وويل: يواځې په دې به وژغورل شئ، چې د خپلو نېکو عملونو په طفيل مو الله تعالی ته دعاء وکړئ ، يو خپله دعاء داسې پيل کړه:

[1] - بخاري , ج۲، ص ۷۹۳. د حديث نمبر۲۱۵۲.

يا الله زما مور او پلار بوډاګان (سپين ږيري) وو، ما به تر دوی وړاندې خپل اهل او مال ته شيدې د څکلو لپاره نه ورکولې (يعني هغوی مې دېته نه پرېښودل، چې زما د مور او پلار نه مخکې شيدې وڅکي، بلکې لومړی به مې خپل مور او پلار ته د څکلو لپاره ورکولې) يوه ورځ د يوه شي په لټه پسې ډېر لرې ولاړم، هغه مهال خپل کور ته راستون شوم، چې دوی دواړه ويده شوي وو، دوی ته مې شيدې را ولوشلې اما دوی ويده وو، دا مې زړه نه منله چې تر دوی وړاندې دې خپل اولاد ته شيدې د ځکلو لپاره ورکړم، پياله په لاس د دوی د راوېښېدلو په انتظار پاتې شوم، تردې چې سهار وځلېد او دوی را پاڅېدل او خپلې شيدې يې وڅکلې، ای الله! که چېرته ما دغه کار يوائې ستا د رضاء لپاره کړی و، نو په مونږ دغه مصيبت اسانه کړه ، هغه تيږه لرې شوه، خو دوی ترېنه دباندې نه شو وتلی.

رسول الله عليه الصلاة والسلام وفرمايل: هغه بل داسې و ويل : ياالله! زما د تره (کاکا) يوه لور وه، چې هغه ماته تر هر چا ډېره ګرانه وه، ما دهغې سره د يو والې ( د حرام کار) اراده وکړه، مګر هغې زه منع کړم تر دې چې يو کال قحطي راغله، هغه ماته راغله، ما هغې ته په دې شرط ۱۲۰ دينار ورکړل تر څو د هغې په بدل کې زما سره بد کار وکړي، هغه راضي شوه، او زما پری لاس بر شو مګر هغې راته و ويل: تاته دا نه ده روا چې دا مهر له حقه پرته مات کړې، (ده دې خبرې په اورېدلو) دا راته ډيره بده ښکاره شوه، چې زه دې خپل غرض پوره کړم، نو زه د هغه ځايه لاړم، حال دا چې هغه ماته تر هر څه ډېره ګرانه او نزدې وه، هغه څه چې ما هغې ته ورکړي وو هغه مې ورته پرېښودل، ياالله! که ما دا کار ستا د رضاء لپاره کړی وي، نو ياالله په مونږ رحم وکړې او دا تيږه ليرې کړې، هغه تيږه لرې شوه، خو دوی ترينه نه شو وتلي رسول الله عليه الصلاة والسلام وفرمايل: دريم داسې وويل ی: ياالله ما څو مزدوران کار کولو ته راوستي وو، ما هغه ټولو مزدورانو ته خپله مزدوري ورکړه، خو په دوی کې يو د خپلې مزدورۍ د اخستلو پرته ولاړ، ما د هغه د مزدوري پيسې په کاروبار کې ولګولې، هغې ډېره ګټه وکړه، څه وخت پس هغه کس راغی اوله ما څخه يې خپله مزدوري وغوښتله، ما هغه ته وويل: دا اوښان، غواګانې، پسونه او غلامان چې وينې دا ټول ستا دي، هغه راته وويل: ای د الله بنده خندا را پوری مه کوه، ما هغه ته وويل: رښتيا وايم او ټوقي در سره نه کوم، هغه ټول مال په مخه کړ او هېڅ شی يې هم پرې نه ښودل، ياالله که چېرته دغه کار ما ستا د رضاء لپاره کړی وي، نو زمونږ نه دا مصيبت لرې کړې، هماغه وه چې تيږه لرې شوه او هغوی د هغه غار نه را ووتل او روان شول.

په د حدیث شریف کې ګورو چې هغه دویم شخص غوښتل چې د مال په مقابل کې د خپلې کا کا د لور له مجبوریت څخه غلطه استفاده وکړي لکن وروسته یې په زړه کې له الله تعالی څخه ویره پیدا شوه او د الله تعالی د رضا په خاطر هغه ته مال بخشش کوي ، دارنګه په ټولو بډایه خلکو باندې لازمه ده چې هغه خپل مسولیت د نورو خلکو په وړاندې ادا کړي تر څو په ټولنه کې د فساد او بدبختی مخه ونیول شي.

## دویم مطلب : سحر

الف: سحر په لغت کې : سحر په لغت کې چال او فریب ته ویل کیږي [1].

ب: سحر په اصطلاح کې : هر هغه شی چې د شیانو حقیقت په بل شکل وښیې سحر ورته ویل کیږي[2].

ډیری وخت دروغ ګویان او ساحرین خلکو ته د ضرر رسولو په خاطر د شیطانانو څخه مرسته غواړې او په دې طریقه خلکو ته ضرر رسوي د یادونې وړ ده چې ساحر هیڅکله په تنهایې سره چا ته ضرر نه شي رسولای نو د همدې هدف د تحقق په خاطر هغوی مجبور دي چې له شیطانانو سره تعامل وکړي او د هغوی ( شیطانانو ) هغه لوی هدف چې د یو مسلمان غورځول دي په شرک کې پوره کړي ، کله چې یو سړی په الله تعالی باندې کافر شو او شیطانان یې د الله تعالی څخه په خپلې نافر مانۍ سره راضي کړل په د وخت کې بیا شیطانان ورسره مرسته کوي تر څو نورو انسانانو ته ضرر ورسوي[3].

د سحر تاریخچه : د سحر د تاریخچې په باره کې په مختصر ډول وایم چې هیڅ داسې یو نبې او پیغمبر نه دی راغلی مګر قوم یې ورته ساحر ویلی دی لکه څنګه چې الله تعالی په قرانکریم کې نوموړي موضوع ته داسې اشاره کوي (**كَذَٰلِكَ مَا أَتَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ مِنْ رَسُولٍ إِلَّا قَالُوا سَاحِرٌ أَوْ مَجْنُونٌ**)[4].

ترجمه : همداسې ( چې وایې تا ته قوم د تا ساحر ، مجنون) نه دی راغلی هغو کسانو ته پخوا له دوی څخه هیڅ رسول مګر خو ویل هغوی چې ( دی ) ساحر دی یا مجنون او لیونی دی .

او تر ټولو څخه وروستی چې ساحر ورته وویل شو خاتم د انبیاؤو حضرت محمد مصطفی ( صلی الله علیه وسلم ) وو ، سحر د ځینو لپاره د مال د لاسته راوړلو لپاره یوه ښه وسیله ده چې له د لارې

[1] - الجوهري ، اسماعیل بن حماد ، الصحاح تاج اللغة وصحاح العربیه ، تحقیق: أحمد عبدالغفور عطار، څلورم چاپ ، چاپ کال ۱۴۰۷هـ ، چاپ ځای : دار العلم الملایین ، دټوک ګڼه ۴، د پاڼی ګڼه ۷۱.
[2] - النهایة فی غریب الحدیث والأثر ، ج۲، ص ۳۴۶.
[3] - الموسوعة الاسلامیه الکویتیه ، ج۲۴، ص ۲۵۹.
[4] - الذاریات ،ایت ۵۲.

کوشش کوي مال لاسته راوړي چې ښه مثال یې کله چې فرعون له خپلو ساحرانو څخه وغوښتل چې د موسی ( علیه السلام ) په مقابل کې سحر او جادو وکړي، هغوی ورته وویل ، چې الله تعالی د هغوی له خبرو داسې حکایت کوي(**فَلَمَّا جَاءَ السَّحَرَةُ قَالُوا لِفِرْعَوْنَ أَئِنَّ لَنَا لَأَجْرًا إِنْ كُنَّا نَحْنُ الْغَالِبِينَ**)[1].

ترجمه : پس کله چې راغلل ساحران ( کوډګران ) وویل دوی فرعون ته ایا په تحقیق وي به مونږ ته خامخا څه اجر ( مزدوري ) که چیرې شو مونږ هم دا مونږ غلبه کوونکي ( بریالي) .

په کومو نښو نښانو سره ساحر پیژندل کیږي؟

هغه نښې نښانې چې په هغو سره ساحر پیژندل کیږي عبارت دي له :

۱- کله چې د مریض او د مریض د مور پوښتنه وکړي .

۲- کله چې د مریض پورې اړوند شیونو څخه یو څه واخلي لکه کالي ، دسمال ، ویښتان او داسې نور.

۳- ځیني وختونه د یو حیوان غوښتنه کوي او هغه لپاره صفات ځانګړي کوي او بغیر له د چې د الله تعالی نوم ورباندې واخلي هغه ذبح کوي او ځیني وختونه بیا د هغه ذبح شوې حیوان په وینو باندې د مریض هغه ځای غوړوي چې درد یا بله کومه ستونزه ولري .

۴- د شرکي تعویذاتو او غوټو لیکل .

۵- په غوټو کې د کُف او چُف کول چې هیڅ مفهوم ونلري.

۶- مریض ته د داسې دسمال ورکول چې مربعاتو په شکل کې وي او په مابین کې یې حروف او عددونه لیکل شوې وي .

۷- کله چې مریض ته داسې امر وکړي چې د یوې معینې مودې لپاره خلکو څخه لرې و اوسې او په یوه تیاره کوټه کې ځان بندي کړي چې لمر ور ونه لویږي .

۸- ځیني وختونه دوی ( ساحران ) له مریض څخه غواړي چې د یوی معلومې مودې لپاره له اوبو څخه استفاده ونه کړي چې ډیری وختونه ورته ځلوینت ورځې موده مشخصه کوي .

۹- کله چې مریض ته داسې شیونه ورکړي چې ورته ووایي چې په ځمکه کې یې ښخ کړه .

۱۰- کله چې مریض ته ورقې ورکړي او ورته ووایې چې ویې سوزوه او له مینځه یې یوسه .

۱۱- ځیني وختونه ساحر مریض ته د هغه نوم او د هغه د اوسیدو ځای نوم او مشکل چې نوموړی ورسره مخ دی خبر ورکوي مخکې له د چې مریض ورته ووایي .

---

[1] - الشعراء ، ایت ۴۱.

۱۲- مريض ته په ورقه کې د تصويرونو په شکل رسامي کول او ورته دا ويل چې په اوبو کې يې وسلوه او بيا يې اوبه وڅښه[1]

دا هغه علامات دي چې په ساحر او دهغه په سحر باندې دلالت کوي نو په هر مسلمان باندې دا لازمه ده چې په د علاماتو او نښانو ځان خبر کړي تر څو د ساحرانو له سحر څخه په امن کې پاتې شي.

## د سحر له لارې د مال لاسته راوړل

د سحر له لارې د مال لاسته راوړل جايز نه دي که هغه په هره طريقه وي[2] ځکه نبي اکرم ( صلی الله عليه وسلم ) په حديث شريف کې فرمايي **(عن أبي هريرة رضي الله عنه : عن النبي صلى الله عليه و سلم قال ( اجتنبوا السبع الموبقات ) . قالوا يا رسول الله وما هن ؟ قال ( الشرك بالله والسحر وقتل النفس التي حرم الله إلا بالحق وأكل الربا وأكل مال اليتيم والتولي يوم الزحف وقذف المحصنات المؤمنات الغافلات )**[3].

ترجمه : حديث له ابی هريرة ( رضی الله عنه ) څخه روايت دی هغه وايي نبي کريم ( صلی الله عليه وسلم ) وفرمايل : د اوو ( ۷) هلاک کونکو ګناهونو څخه ځان وژغورئ، چا پوښتنه وکړه هغه کوم دي ؟ نبي کريم ( صلی الله عليه وسلم ) وفرمايل : له الله تعالی سره شريک نيول ، سحر ، په ناحقه سره د يو چا وژل ، د سود خوړل ، د يتيم د مال خوړل ، د جنګ څخه تيښته کول او د پاک لمنو ښځو په زنا سره تورنول.

د حديث شريف څخه په واضح ډول معلوميږي چې سحر او د سحر له لارې د مال لاسته راوړل د کبيره ګناهونو له جملې څخه دي هر انسان بايد ترينه ځان وساتي.

## دريم مطلب: د بتانو جوړولو له لارې

الف: بتان په لغت کې : بتان د بت جمع ده او مجسمې ته ويل کيږي[4].

ب : بتان په اصطلاح کې : هغه شي ته ويل کيږي چې د تيږو يا اوسپنې او يا په مثل ددې له نورو شيونو څخه په شکل د يو مخلوق د الله لکه انسان ، حيوان جوړ شوی وي [5].

[1] - طيار ، د. عبدالله بن محمد بن أحمد ، كيف تتخلص من السحر ، لومړی چاپ ، چاپ کال : ۱۴۲۴، چاپ ځای : دار المتعلم – الزلفی ، د توک ګڼه ۱، د پاڼي ګڼه ( ۱۶- ۱۸).

[2] - لباب التأويل فى معانى التنزيل ، ج۱، ص ۶۴.

[3] - بخاري، ج۳، ص ۱۰۱۷، د حديث نمبر ۲۶۱۵.

[4] - جمال الدين ، محمد طاهر بن على الصديقى ، مجمع بحار الأنوار فى غرائب التنزيل و لطائف الأخبار ، دريم چاپ ، چاپ کال ۱۳۸۷، چاپ ځای : مطبعه مجلس دائرة المعارف العثمانيه ، د توکونو شمير ۵، د توک ګڼه ۱، د پاڼی ګڼه ۲۷۰.

[5] - التفسير الوسيط للقران الكريم ، ج۹، ص ۲۲۲.

همدارنګه صاحب د لباب التأویل یې بیا داسې تعریفوي : بت هغې مجسمې ته ویل کیږي چې د لرګي ، تیږي ، سرو زرو ، سپینو زرو څخه د انسان په شکل جوړ شوی وي[1].

هغه څوک چې په لومړي ځل یې بتان جوړ کړي او د هغوی عبادت یې کاوو د نوح ( علیه السلام ) قوم وو په داسې حال کې چې نوح ( علیه السلام ) دوی ته د یو الله په لوري دعوت ورکاوه اما دا هغه قوم وو چې د نوح ( علیه السلام ) دعوت ته یې لبیک ونه ویل او د هغوی مشرانو به خپلو خلکو ته وویل: خپل خدایان مه پریږدئ لکه څنګه چې الله تعالی نوموړي موضوع ته داسې اشاره کوي (**وَقَالُوا لَا تَذَرُنَّ آلِهَتَكُمْ وَلَا تَذَرُنَّ وَدًّا وَلَا سُوَاعًا وَلَا يَغُوثَ وَيَعُوقَ وَنَسْرًا**)[2]

ترجمه : او وویل ( مشرانو کشرانو ته ) چې مه پریږدئ تاسې ( عبادت د ) معبودانو خپلو او مه پریږدئ ( عبادت دهغه بت چې ) ود ( نومیږي ) او مه ( پریږدئ عبادت د هغه بت چې ) سواع ( نومیږي) او مه( پریږدئ تاسې عبادت د هغو بتانو چې ) یغوث او یعوق او نسر ( نومیږي ) .

داچې دا بتان له کومه شوه ؟ په د هکله محمد بن کعب وایي : دا پنځه نومونه د هغو پنځو نیکو اشخاصو دي چې د آدم او نوح ( علیهم السلام ) د زماني په مینځ کې یې ژوند کاوه کله چې دوی مړه شول نو ددوی اتباعو په دوی پسې اقتداء وکړه او وروسته یې دوی په عبادت ونیول ( ددوی عبادت یې کاوه )[3].

له د وخت څخه تر ډیری مودې پوری د بتانو جوړول او دهغوی عبادت په ځمکه کې پاتې شو ان تر د چې عربو ته انتقال شو او دهغو بتانو نومونه چې د نوح ( علیه السلام ) قوم به یې عبادت کاوه عربو ته انتقال شول ، قتاده ( رحمه الله ) فرمایې : هغه بتان چې د نوح ( علیه السلام ) قوم به یې عبادت کاوه عربانو ته انتقال شول او هغوی ( عربو ) به یې عبادت کاوه چې ( ود ) د کلب قبیلې چې په دومة الجندل کې اوسیده او هغوی به یې عبادت کاوه ، ( سواع ) د هذیل قبیلې پورې تړاو درلود او هغې قبیلې به یې عبادت کاوه ( یغوث) د بني غطیف په قبیلې پورې تړاو درلود او هغوی به یې عبادت کاوه، ( یعوق) د همذان قبیلې پورې تړاو درلود او هغوی به یې عبادت کاوه او ( نسر ) د ذی الکلاع په قبیلې پورې تړاو درلود او هغوی به یې عبادت کاوه ، قسم په الله هر یو د دې بتانو یا د لرګیو څخه جوړ وو یا د ختې څخه یا د تیګو څخه[4].

په حدیث شریف کې هم نوموړې موضوع ته داسې اشاره شوی ده (**عن ابن عباس رضي الله عنهما صارت الأوثان التي كانت في قوم نوح في العرب بعد أما ود كانت لكلب بدومة الجندل وأما سواع**

[1] - لباب التأویل فی معاني التنزیل ، ج۲، ص ۱۲۵.
[2] - نوح ، ایت ۲۳.
[3] - لباب التأویل فی معاني التنزیل ، ج۴، ص ۳۴۶.
[4] - القاسمي ، محمد جمال الدین بن محمد ، محاسن التأویل ، تحقیق : محمد باسل عیون السود ، لومړی چاپ ، چاپ کال : ۱۴۱۸هـ ، چاپ ځای :دار الکتب العلمیه – بیروت، د ټوک ګڼه ۹، د پاڼې ګڼه ۳۲۴.

**كانت لهذيل وأما يغوث فكانت لمراد ثم لبني غطيف بالجوف عند سبإ وأما يعوق فكانت لهمدان وأما نسر فكانت لحمير لآل ذي الكلاع أسماء رجال صالحين من قوم نوح فلما هلكوا أوحى الشيطان إلى قومهم أن انصبوا إلى مجالسهم التي كانوا يجلسون أنصابا وسموها بأسمائهم ففعلوا فلم تعبد حتى إذا هلك أولئك وتنسخ العلم عبدت)**[1].

ترجمه : له ابن عباس ( رضی الله تعالی عنهم ) څخه روايت دی هغه وايي : هغه بتان چې د نوح ( عليه السلام ) په قوم کې وو عربو ته انتقال شول چې ( ود ) يې د کلب قبيلې چې په دومة الجندل کې اوسيده په هغوی پورې مربوط وو ، (سواع) د هذيل د قبيلې پورې تړاو درلود ، ( يغوث ) د مراد او ورسته بيا د بني غطيف پورې تړاو درلود ( يعوق ) په همدان پورې تړاو درلود ، ( نسر) په ذی الكلاع پورې تړاو درلود ، او دغه نومونه د نوح ( عليه السلام ) د قوم د نيکو اشخاصو دي ، کله چې دوی مړه شول ، شيطان د دوی قوم ته وويل چې ددوی مجسمې جوړې او په هغو ځايونو کې يې کېږدي چې هلته دوی را ټوليږي او دغه مجسمې ددوی په نومونو باندې و نوموي ، قوم هم همدغه کار وکړ ( مجسمې يې جوړې کړې ) خو دهغو عبادت نه کيده ، تر دې پورې چې هغه خلک چې دا کار يې کړی وو هلاک او مړه شول او بيا له خلکو څخه هغه معلومات چې د څه لپاره دا مجسمې جوړې شوی وی ورک شول ( يعني يواځې هغه کسان چې دا مجسمې يې جوړې کړې وې په د پوهيدل چې د څه لپاره دا جوړې شوی دي اما د هغوی په مرګ سره له خلکوڅخه دا معلومات ورک شول چې د څه لپاره دا جوړې شوې نو ځکه يې خلکو عبادت شروع کړ).

همدارنګه د ابراهيم ( عليه السلام ) پلار آذر هم بتان جوړول او هم به يې د بتانو عبادت کاوه ، ابراهيم ( عليه السلام ) به هغه او د هغه قوم له د کار څخه په کلکه منع کول ، الله تعالی ( جل شأنه ) نوموړې موضوع ته داسې اشاره کوي(**وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ لِأَبِيهِ آزَرَ أَتَتَّخِذُ أَصْنَامًا آلِهَةً إِنِّي أَرَاكَ وَقَوْمَكَ فِي ضَلَالٍ مُبِينٍ)**[2].

ترجمه : او ( ياد کړه! ای محمده ) هغه وخت چې وويل ابراهيم خپل پلار اذر ته ايا نيسې ته بتان په خدايي سره ، بيشکه چې زه وينم تا او قوم ستا په ګمراهی ښکاره کې .

همدارنګه سامری هغه شخص وو چې بتان به يې جوړول او په د کار کې يې ډير مهارت درلود لکه څنګه چې د موسی ( عليه السلام ) له تللو څخه وروسته د طور غره ته ، نوموړي بني اسرائيلو ته خوصی جوړ کړ او بيا يې د هغه په خوله کې د جبرئيل ( عليه السلام ) د اس د پله خاورې ور

[1] - بخاري ، ج۶، ص ۱۶۰ ، د حديث نمبر ۴۹۲۰.
[2] - انعام ، ايت ۷۴.

واچولې چې بیا هغه خوسې به اواز کاوه ، سامري بني اسرائیلو ته وویل چې دا زمونږ خدای دی او ددې عبادت به کوو[1].

الله تعالی ( جل شأنه ) نوموړې موضوع ته داسې اشاره کوي (**قَالَ فَمَا خَطْبُكَ يَاسَامِرِيُّ (95) قَالَ بَصُرْتُ بِمَا لَمْ يَبْصُرُوا بِهِ فَقَبَضْتُ قَبْضَةً مِنْ أَثَرِ الرَّسُولِ فَنَبَذْتُهَا وَكَذَلِكَ سَوَّلَتْ لِي نَفْسِي**)[2].

ترجمه : وویل ( موسی ) پس څه وه ستا کار ای سامری ( چې خلک د ګمراه کړل ) .

وویل ( سامری) چې نظر غورځولی وو ما په هغه شي باندې چې نظر نه وو غورځولی دوی په هغه شي باندې پس واخیستله ما یو موټی ( خاوره ) له قدمه د ( آس د ) رسول ( جبرئیل ) پس و مې غورځوله دا ( خاوره په خوله د دې خوسي کې نو په غږیدو شو) او هم داسې ښایسته کړی وو ما ته ( دا کار ) نفس زما .

همدارنګه نصاراوو به بتان جوړول او بیا به یې هغه په کلیساوو کې اېښودل د عبادت لپاره نبی اکرم ( صلی الله علیه وسلم ) نوموړې موضوع ته چې له عایشې ( رضی الله عنها ) څخه روایت دی داسې اشاره کوي (**عن عائشة : أن أم حبيبة وأم سلمة ذكرتا كنيسة رأينها بالحبشة فيها تصاوير فذكرتا للنبي صلى الله عليه و سلم فقال ( إن أولئك إذا كان فيهم الرجل الصالح فمات بنوا على قبره مسجدا وصوروا فيه تلك الصور فأولئك شرار الخلق عند الله يوم القيامة )**[3].

ترجمه : ام حبیبې او ام سلمې نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) ته د یوې کلیسا قصه وکړه چې د حبشې په سیمه کې یې لیدلې وه چې په هغې کلیسا کې تصویرونه لګیدلي وو ، نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل چې دوی داسې یو قوم دی چې کله هم په دوی کې یو نیک سړی مړ شي دوی دهغه په قبر مسجد جوړوي او په هغه ځای کې داسې دغه انځورونه کاږي ، دوی د قیامت په ورځ د الله تعالی په نزد ډیر بد خلک دي.

نو دبتانو جوړول او له د لارې څخه د مال لاسته راوړل حرام کار دی الله تعالی ( جل شأنه ) په د هکله فرمایې (**يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنْصَابُ وَالْأَزْلَامُ رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ**)[4]

ترجمه : ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی دی ( ای مؤمنانو) بیشکه همد دا خبره ده چې شراب او او قمار او بتان او غشې ( د فال ، دا څلور واړه) پلیت دي له کار د شیطان څخه دي نو ځان وساتئ تاسې له دی څخه له پاره د دې چې نجات ومؤمی تاسې ( په د ځان ساتلو سره ).

---

[1] - صابوني ، محمد علي ، صفوة التفاسير ، لومړی چاپ ، چاپ کال ۱۴۱۷هـ ، چاپ ځای : دار الصابوني للطباعة والنشر والتوزيع ، د ټوک ګڼه ۱، د پاڼې ګڼه ۲۲۴.

[2] - طه ، ایت ( ۹۵- ۹۶) .

[3] - بخاري, ج۱، ص ۱۶۵، د حدیث نمبر ۴۱۷.

[4] - المائدة ، ایت ۹۰.

**(وَالْأَنْصَابُ)** دا هغو تيګو ته ويل کيږي چې مشرکينو به د عبادت لپاره خپلې مخې ته اينبودې او د هغو په نوم به ذبح او حلالې کولې[1].

نبي کريم ( صلى الله عليه وسلم ) د پورتني ايت په تفسير کې فرمايي :

**عن جابر بن عبد الله رضي الله عنهما : أنه سمع رسول الله صلى الله عليه و سلم يقول عام الفتح وهو بمكة ( إن الله ورسوله حرم بيع الخمر والميتة والخنزير والأصنام )**[2].

ترجمه : حديث د جابر بن عبدالله ( رضى الله عنه ) څخه روايت دی هغه وايي چې ما د رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) څخه د مکې د فتحې په کال واوريدل چې ويې ويل : الله تعالى او دهغه رسول د شرابو، مردارې ، خنزير او بتانو خرڅول حرام کړې دي .

د پورتني ايت او حديث شريف څخه په واضح ډول معلوميږي چې د بتانو جوړول اخيستل او خرڅول يو ناروا او حرام عمل دی هر مسلمان بايد ترې پرهيز وکړي.

## څلورم مطلب: د شرابو جوړولو له لارې د مال لاسته راوړل

الف: شراب(الخمر) په لغت کې : ( ستر الشئ)[3] د يو شي پټولو ته وايي .

ب: شراب په اصطلاح کې : هر هغه نشه راوړونکې څښاک که هغه لږ وي او که ډير شراب ورته ويل کيږي[4].

د شرابو جوړول او څښل او خرڅول يې له ډير پخوا راهيسې په عربو کې رواج وو هغوی له انګورو او خرماوو څخه شراب جوړول بيا به يې څښل او هم به يې خرڅول ، الله تعالى فرمايي**(وَمِنْ ثَمَرَاتِ النَّخِيلِ وَالْأَعْنَابِ تَتَّخِذُونَ مِنْهُ سَكَرًا وَرِزْقًا حَسَنًا إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَةً لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ)**[5]

ترجمه : او له ميوو د خرماګانو او ( له ميوو د ) د تاکو ( کورو) څخه ( هم داسې در څښوو مونږ پر تاسې ) چې جوړوئ تاسې له دغو ميوو څخه نشه کوونکې ( بد) او رزق ( روزي) ښه ، بيشکه په دغو ( انواعو د ميوو او مشتقاتو) کې ( يې ) خامخا دليل ( ښکاره د قدرت ) دی لپاره د ( هغه) قوم چې عقل چلوي او فکر او غور په کې کوي.

**(سَكَرًا)** شرابو ته ويل کيږي او **(وَرِزْقًا حَسَنًا)** انګور ، خرما او هغه څه چې ددې ميوو په څير وي ، دا چې ولې دلته د شرابو د حراموالي يادونه ونه شوه ؟ ځکه دا ايت په مکه مکرمه کې نازل شوی

---

[1] - لباب التأويل فى معاني التنزيل ، ج٢، ص ٧٥.
[2] - بخاري,ج2, ص 779, د حديث نمبر ٢١٢١.
[3] - التوقيف على مهمات التعاريف، ج١، ص٣٢٦.
[4] - البركتي ، محمد عميم الاحسان المجددي ، التعريفات الفقهيه ، لومړی چاپ ، چاپ کال : ١۴٢۴هـ ، چاپ ځای : دار الكتب العليمة، ج١، ص ٨٩.
[5] - النحل , ايت 67.

دی([1]) او د شرابو څښل په دريم هجري کال کې حرام شول او مخکې له د د شرابو جوړول او خوړل جايز وو او هر چا به په پراخه پيمانه شراب څښل ([2])الله تعالی ( جل شأنه ) د شرابو د حرمت په هکله فرمايي (**يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنْصَابُ وَالْأَزْلَامُ رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ**)[3].

ترجمه : ای هغو کسانو چې ايمان مو راوړی دی ( ای مؤمنانو) بيشکه همد دا خبره ده چې شراب او قمار او بتان او غشي ( د فال ، دا څلور واړه) پليت دي له کار د شيطان څخه دي نو ځان وساتئ تاسې له دی څخه له پاره د دې چې نجات ومؤمی تاسې ( د ځان ساتلو سره ).

د يادونې وړ ده چې چې ددې ايت د نزول څخه مخکې هم داسې ايتونه نازل شوی وو چې په هغو کې د شرابو يادونه او د هغو له څښلو څخه منع په يو شکل بيان شوی وو ولې دا يادونه په قطعي شکل نه وه د مثال په ډول (**يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ قُلْ فِيهِمَا إِثْمٌ كَبِيرٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَإِثْمُهُمَا أَكْبَرُ مِنْ نَفْعِهِمَا وَيَسْأَلُونَكَ مَاذَا يُنْفِقُونَ قُلِ الْعَفْوَ كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمُ الْآيَاتِ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُونَ**)[4].

ترجمه : پوښتنه کوي دوی له تا نه ( ای محمده !) ( له حکمه د څښلو ) د شرابو او ( له کولو د ) قمار نه ، ووايه ( ای محمده !دوی ته ) په دې دواړو کې ګناه لويه ده او ګټې دی له پاره دخلکو او ګناه د دې دواړو ډيره لويه ده له ګټې د دې دواړو نه ، او پوښتنه کوي دوی ( ای محمده ! له تا ځنې ) چې څومره صرف کړی دوی ( په لاره د الله کې ؟) ووايه ( ای محمده ! دوی ته صرف کړئ ! هغه چې وي ) زيات (ستاسې له خرڅ نه ) همداسې ( پاس بيان په شان) بيانوي الله تاسې ته احکام ( او د خپلې مهربانې علامې ) له پاره د دې چې تاسې فکر وکړئ د ( الله تعالی ) په دلائلو او احکاموکې .

کله چې دا ايت نازل شو ډيری خلک چې هغوی د قوی ايمان او ارادې خاوندان وو هغوی د شرابو څښل پريښودل[5]

بيا عمر ( رضی الله تعالی عنه ) داسې دعا وکړه (**عن أبي ميسرة عن عمر رضى الله تعالى عنه قال لما نزل تحريم الخمر قال عمر اللهم بين لنا في الخمر بيانا شافيا فنزلت الآية التي في البقرة فدعي عمر فقرئت عليه فقال عمر اللهم بين لنا في الخمر بيانا شافيا فنزلت الآية التي في النساء { يا أيها الذين آمنوا لا تقربوا الصلاة وأنتم سكارى حتى تعلموا ما تقولون } فكان منادي رسول الله صلى الله عليه وسلم إذا أقام الصلاة نادى لا تقربوا الصلاة وأنتم سكارى حتى تعلموا ما تقولون فدعي عمر**

[1] - القاسمي ، محمد جمال الدين بن محمد سعيد، محاسن التأويل ، المتوفى (۱۳۳۲هـ ) تحقيق: محمد باسل عيون السود ، لومړی چاپ ، چاپ کال : ۱۴۱۸هـ ، چاپ ځای : دار الکتب العليمة- بيروت ، دټوک ګڼه ۶، د پاڼې ګڼه ۳۸۳.
[2] - التحرير والتنوير ، ج۷، ص ۸۲.
[3] - المائده ، ايت ۹۰.
[4] - بقره , ايت 217.
[5] - التحرير والتنوير ، ج۷، ص ۲۱.

**فقرئت عليه فقال اللهم بين لنا في الخمر بيانا شافيا فنزلت الآية التي في المائدة فدعي عمر فقرئت عليه فلما بلغ فهل أنتم منتهون قال عمر رضى الله تعالى عنه انتهينا انتهينا)**[1]

ترجمه: أبى ميسرة ( رضى الله تعالى عنه ) د عمر ( رضى الله عنه ) په هکله حکايت کوي او وايي کله چې د شرابو د حرمت په هکله ايت نازل شو، عمر (رضى الله عنه ) وويل : اى الله مونږ ته د شرابو په باره کې روښانه بيان راوړه بيا هغه ايت چې د بقرې سورت کې ده هغه نازل شو ، بيا عمر ( رضى الله عنه ) ته هغه ايت ولوستل شو ، بيا عمر ( رضى الله عنه ) وويل : اى الله مونږ ته د شرابو په باره کې روښانه بيان راوړه، بيا هغه ايت چې په سورت نساء کې د شرابو د حرمت په هکله دى نازل شو **(يا أيها الذين آمنوا لا تقربوا الصلاة وأنتم سكارى حتى تعلموا ما تقولون)** بيا رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) غږ وکړ **(إذا أقام الصلاة نادى لا تقربوا الصلاة وأنتم سكارى حتى تعلموا ما تقولون)** بيا په عمر ( رضى الله عنه ) باندې هغه ايت ولوستل شو

د ټول اسلامي امت په اجماع سره د شرابو څښل حرام دي ځکه ډيرو ايتونو دا موضوع په واضح ډول بيان کړيده همدارنګه ډير داسې نبوي احاديث شته چې هغه د شرابو څښلو څخه منع کوي چې له جملې څخه يې يو څو د مثال ډول دلته ذکر کوم **(عن ابن عمر قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم كل مسكر خمر وكل مسكر حرام ومن شرب الخمر في الدنيا فمات وهو يدمنها لم يتب لم يشربها في الآخرة)**[2].

ترجمه : حديث له عبدالله ابن عمر ( رضى الله عنهما) څخه روايت دى هغه وايي رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) وفرمايل : هر نشه راوړونکى شى شراب دي او هر نشه راوړونکى شى حرام دى او هر هغه څوک چې په دنيا کې شراب وڅښي او بيا مړ شي په داسې حال کې چې نوموړى د شرابو معتاد وي او له هغه څخه يې توبه نه وي ويستلې په اخرت کې يې نشي څښلى ( يعني د اخرت د شرابو څخه محروم دى ) .

**عن جابر أن رجلا قدم من جيشان ( وجيشان من اليمن ) فسأل النبي صلى الله عليه و سلم عن شراب يشربونه بأرضهم من الذرة يقال له المزر ؟ فقال النبي صلى الله عليه و سلم ( أو مسكر هو ؟ ) قال نعم قال رسول الله صلى الله عليه و سلم ( كل مسكر حرام إن على الله عز و جل عهدا لمن يشرب المسكر أن يسقيه من طينة الخبال ) قالوا يا رسول الله وما طينة الخبال ؟ قال ( عرق أهل النار أو عصارة أهل النار**[3].

[1] - سنن نسائى ، ج٨، ص ٦٨١، د حديث نمبر٥٥٥٥.
[2] - صحيح مسلم , ج3, ص 1587, د حديث نمبر ٢٠٠٣.
[3] - مسلم , ج3 ,ص 1587, د حديث نمبر ٢٠٠٢

ترجمه : د جابر (رضی الله عنه ) څخه روایت دی هغه وایې چې یو سړی د جیشان څخه راغی او له نبي کریم ( صلی الله علیه وسلم ) څخه یې د هغو شرابو په هکله پوښتنه وکړه چې دوی به په خپل وطن کې څښل چې د جوارو شراب وو ؟ نبي کریم ( صلی الله علیه وسلم ) تری پوښتنه وکړه ایا هغه د نشه راوړنکې دي ؟ هغه وویل هو ، رسول الله ( صلی الله علیه وسلم) ورته وفرمایل : هر نشه راوړونکې حرام دی او دا د الله تعالی وعده ده له هغه چا سره چې کله هغه نشه راوړونکې مایعات ( که هغه هر څخه وي) وڅښي ، نوموړی ته به د جهنمیانو له خولو وروڅښي .

همدارنګه د شرابو خرڅول د ټول اسلامي امت په اجماع سره حرام دي همدارنګه له د لارې څخه د ګټې او مال لاسته راوړل حرام دي او کومې پیسې چې له د لارې څخه لاس ته راځې حرامې دي چې د همدې موضوع د اثبات لپاره لاندې احادیث ذکر کوم **(عن جابر بن عبد الله رضي الله عنهما : أنه سمع رسول الله صلى الله عليه و سلم يقول عام الفتح وهو بمكة ( إن الله ورسوله حرم بيع الخمر والميتة والخنزير والأصنام )**[1].

ترجمه : حدیث له جابر بن عبدالله ( رضی الله تعالی عنهما ) څخه روایت دی هغه وایي ما له رسول الله ( صلی الله علیه وسلم ) څخه د فتحې په کال په مکه کې واوریدل : بیشکه چې الله او د هغه رسول د شرابو، مردارې ، خنزیر او بتانو خرڅول حرام ګرځولې.

**عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا: لَمَّا نَزَلَتْ آيَاتُ سُورَةِ البَقَرَةِ عَنْ آخِرِهَا، خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: «حُرِّمَتِ التِّجَارَةُ فِي الخَمْرِ»**[2].

ترجمه : حدیث له عائشې (رضی الله تعالی عنها ) څخه روایت دی هغه وایې کله چې د سورت بقرې اخرني ایتونه نازل شول رسول الله ( صلی الله علیه وسلم ) بیرون راووت او و یې فرمایل : په شرابو تجارت حرام دی .

پورتنیو ایتونو او نبوي احادیثو ته په کتو د شرابو اخیستل او خرڅول ، جوړول او له د لارې د ګټې لاس ته راوړل حرام دي ، په ټولو مؤمنانو لازمه ده چې له د کار څخه ډډه وکړي.

## پنځم مطلب: دغلا له لارې د مال لاسته راوړل

الف : غلا چې سرقت ورته ویل کیږي په لغت کې : په پټه سره د بل چا څخه د یو شي اخیستلو ته ویل کیږي[3] .

---

[1] - بخاري , ج2 , ص 779, دحديث نمبر ۲۱۲۱.
[2] - بخاري , ج3, ص 82, دحديث نمبر ۲۲۲۶
[3] - القونوي ، قاسم بن عبدالله بن امير ، أنيس الفقهاء فى تعريفات الألفاظ المتداولة بين الفقهاء ، تحقيق: د. أحمد بن عبدالرزاق الكبيسې ، لومړی چاپ ، چاپ کال : ۱۴۰۶هـ ق ، چاپ ځای : دار الوفاء – جده ، د ټوک ګڼه ۱، د پاڼې ګڼه ۱۷۶.

جرجاني يې بيا داسې تعريفوي ( أخذ الشئ من الغير على وجه الخفية) [1] په پټه سره د بل چا څخه د يو شي اخيستلو ته غلا ويل کيږي.

مناوي يې بيا داسې تعريفوي : په پټه سره اخيستل د هغه شي چې ستا نه وې ورته غلا ويل کيږي[2]

ب: غلا په اصطلاح کې : په پټه سره د يو مکلف ، عاقل ، بالغ لخوا د يو شي اخيستل دمحروز مال څخه چې قيمت يې له لس درهمو څخه کم نه وي ورته غلا ويل کيږي[3].

غلا او د غلا له لارې د مال لاسته راوړل په اسلام او اسلامي ټولنه کې يو ستر جرم او خيانت دی او ټول اسلامي امت له د لارې د مال له لاسته راوړلو څخه منع شوی دی او هر هغه څوک چې غلا کوي او له د لارې څخه مال لاسته راوړی جزا يې د لاس قطع کيدل دي الله تعالی ( جل شأنه ) نوموړې موضوع ته داسې اشاره کوي (**وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوا أَيْدِيَهُمَا جَزَاءً بِمَا كَسَبَا نَكَالًا مِنَ اللَّهِ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ**)[4].

ترجمه : او غل ( نارينه) او غله ( ښځه ) نو پرې کړئ تاسې لاسونه د دوی ( دواړو ) د پاره د جزا د هغه عمل چې کړی دی دواړو د تنبيه لپاره له جانبه د الله او الله ډير قوي دی ( غالب د احکامو په تطبيق) ښه حکمت ولا ( چې هر کار په تدبير او مصلحت سره کوي).

خو که چيرته بيا هم يو څوک له دې لارې څخه مال لاسته راوړي نو په حاکم باندې لازمه ده چې د الله حکمورباندې تطبيق کړي او د الهي حدودو په تطبيق کې د هيچا لحاظ او مراعت و نه کړي

**عن عائشة رضي الله عنها : أن قريشا أهمهم شأن المرأة المخزومية التي سرقت فقالوا ومن يكلم فيها رسول الله صلى الله عليه و سلم ؟ فقالوا ومن يجترئ عليه إلا أسامة ابن زيد حب رسول الله صلى الله عليه و سلم فكلمه أسامة فقال رسول الله صلى الله عليه و سلم ( أتشفع في حد من حدودالله) . ثم قام فاختطب ثم قال ( إنما أهلك الذين قبلكم أنهم كانوا إذا سرق فيهم الشريف تركوه وإذا سرق فيهم الضعيف أقاموا عليه الحد وايم الله لو أن فاطمة بنت محمد سرقت لقطعت يدها )** [5]

ترجمه : عايشه ( رضی الله تعالی عنها ) فرمايي چې د بني مخزوم له قبيلې څخه يو ښځې غلا کړی وه بيا د بني مخزوم قوم مشران سره ټول شول او يو بل ته يې وويل چې څوک به رسول الله ( صلی الله عليه وسلم ) ته ډير نږدې وي تر څو هغه رسول الله ته واسطه کړو او په واسطه يې ښځې ته ښښنه وشي او حد ور باندې تطبيق نه شي ، ټولو وويل اسامه ابن زيد رسول الله ( صلی الله عليه وسلم ) ته ډير نږدې دی ، هغوی راغلل او اسامه ابن زيد ته يې د موضوع په هلکه يادونه وکړه ، اسامه ابن

[1] - التعريفات ، ج۱، ص۱۵۶.
[2] - التوقيف على مهات التعاريف ، ج۱، ص۴۰۳.
[3] - أنيس الفقهاء فى تعريفات الالفاظ المتداولة بين الفقهاء ، ج۱، ص ۱۷۶.
[4] - المائده ، ايت ۳۸.
[5] - بخاري, ج3, ص1282, د حديث نمبر ۳۲۸۸.

زيد رسول الله ( صلى الله عليه وسلم) ته ورغى او رسول الله ته يې د نوموړى موضوع يادونه وکړه ، رسول الله ( صلى الله عليه وسلم) ورته وويل : ايا ته په الهي حدودو کې د يو چا شفاعت کوى ؟ بيا رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) پورته شو خطبه يې وويله او په خطبه کې يې وويل : بيشکه هلاک شوې دي پخواني خلک کله به چې په هغوى کې شريف سړي غلا وکړه نو هغه به يې خوشې کاوه او کله به چې ضعيف او ناتوانه سړي غلا وکړه په هغه به يې حد تطبيق کاوه ، قسم په الله کچيرته فاطمه چې دمحمد لور ده غلا وکړي نو لاس به يې قطع شي.

همدارنګه د حدودو په تطبيق کې بايد د پوره دقت څخه کار واخيستل شي او حد په ټولو باندې يو شان تطبيق شي لکه څنګه چې د نبي کريم ( صلى الله عليه وسلم ) په زمانه کې طعمة بن أبيرق د يو مسلمان ( قتادة بن نعمان) د کور ديوال سورى کړ او د هغه له کور څخه يې يو مقدار وسلې او يوه بوجۍ اوړه غلا کړل ، اتفاقاً د اوړو بوجۍ سورۍ وه او په ټوله لار د غله تر کوره له بوجۍ څخه اوړه توى شوي وو، غله داسې فکر وکړ چې غلا شوى مال بايد په خپل کور کې کينږدي ، په همغه شپه يې مال د يو يهودي کره چې د نوموړي ملګرى وو يووړ او هلته يې د امانت په ډول کينښود ، کله چې سهار شو د اوړو خاوند په خپلو اوړو پسې روان شو دغله کور ته ورسيد او غل يې ټينګ ونيو د غله کور يې تلاشي کړ خو د هغه د کور د پلټنې څخه ورسته د هغه په کور کې هيڅ هم پيدا نشول ، غله ډير قسمونه ياد کړل او ويې ويل چې نوموړى غل نه دى وګوره چې د اوړو ليکه دده له کور څخه بلې خوا ته هم تللې ، د اوړو څښتن هغه ليکه تعقيب او د يهودي کور ته ور ننوت او هغه يې کلک ونيو ، يهودي ددې شيونو په موجوديت باندې اقرار وکړ او ويې ويل چې دا مال د هغه مسلمان ده چې پرون شپه يې زما کره د امانت په ډول ايښى وو ، قتادة ابن نعمان د رسول اکرم حضور ته ورغى او د پيښې په اړه يې له سره تر اخره معلومات ورکړل ، د غله قوم او ملګرو يې په د اتفاق وکړ چې که چيرته مونږ کوشش وکړو ښايي دا غلا په طعمه باندې ثابته نشي او هغه يهودى به غل وپيژندل شي ، نو د همدې هدف د تحقق په خاطر يې د رسول الله ( صلى الله عليه وسلم) په حضور کې د غله په بې ګناهۍ قسمونه ياد کړل او ټولو په اتفاق سره رسول الله ( صلى الله عليه وسلم) ته عرض وکړ چې همدا يهودى مجرم دى او د خپل جرم سزا بايد وګالي[1]

دلته الله ( جل شأنه ) په نبي کريم ( صلى الله عليه وسلم ) باندې دا ايت نازل کړ (**وَلَا تُجَادِلْ عَنِ الَّذِينَ يَخْتَانُونَ أَنْفُسَهُمْ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ مَنْ كَانَ خَوَّانًا أَثِيمًا**)[2].

ترجمه : او مه کوه جګړه له ( طرفه د ) هغو کسانو چې خيانت کوي دوى له ځانونو خپلو سره بيشکه چې الله نه خوښوي هر هغه څوک وي ډير خيانت کونکى .

[1] - التفسير الوسيط للقران الكريم ، ج٣، ص ٢٩٧.

[2] - نساء ، ايت ١٠٧.

دا ايت د قران عظيم الشأن په يو شکل د هغه يهودي بې گناهې ثابتوي او دا بيانوي چې حق او عدالت پر هر چا باندې که هغه مسلمان وي او که کافر يو شان تطبيق شي او د حق په تطبيق کې بايد د ډير دقت څخه کار واخيستل شي[1].

يو له هغو ناروا لارو چې خلک ترې مال لاسته راوړي همدا ( غلا ) ده په داسې حال کې چې يو مؤمن له د لارې د مال لاسته راوړلو څخه منع شوى دى او دا يې يوه باطله لار بللي الله تعالى فرمايي(**يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ إِلَّا أَنْ تَكُونَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِنْكُمْ وَلَا تَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا**)[2]

ترجمه : اى هغو کسانو چې ايمان مو راوړى دى ( اى مؤمنانو) مه خورئ تاسې مالونه د يو بل په منځونو خپلو کې په ناروا سره ! مگر ( خورئ يې ) که وي دا ( مالونه چې خورئ يې اموال د ) تجارت ( چې صادروى ) په خوښى سره له تاسو نه او مه وژنئ تاسې خپل ځانونه ( يعني يو بل يا مه کوئ تاسې هغه کار چې ستاسې د هلاکت سبب گرځي ) بيشکه الله پر تاسې ډير مهربان دى .

همدارنگه په بل ايت شريف کې الله تعالى فرمايي (**وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ وَتُدْلُوا بِهَا إِلَى الْحُكَّامِ لِتَأْكُلُوا فَرِيقًا مِنْ أَمْوَالِ النَّاسِ بِالْإِثْمِ وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ**)[3]

ترجمه : او مه خورئ ! مالونه خپل ( چې واقع دي) په منځو د تاسو کې په ناحقه سره او مه رسئ ! دا مال تر حاکمانو پورې له پاره د دې چې وخورئ ( تاسې په دې رسولو سره ) يو څه له مالو د خلقو ځيني په ظلم ( ناحقه سره ) او تاسې پوهيږئ ( چې دا ظلم دى) .

چې غلا هم په ناروا سره د يو چا مال خوړل دي.

## څلورم مطلب : د غصب له لارې د مال لاسته راوړل

الف : غصب په لغت کې : جرجاني يې داسې تعريفوي: أخذ شئ ظلماً مالاً كان او غيره[4].

په ظلم او ناروا سره د يو شي اخيستلو ته غصب ويل کيږي که هغه مال وي يا بل هر څه .

مناوي يې داسې تعريفوي: أخذ شئ ظلماً[5].

په ظلم او ناروا سره د يو شي اخيستلو ته غصب وايي.

جو هري هم عين تعريف ورته ذکر کوي ( أخذ الشئ ظلماً)[6].

---

[1] - التفسير الوسيط للقران الكريم ، ج٣، ص ٢٩٧.
[2] - نساء ، ايت ٢٩.
[3] - بقره ، ايت ١٨٨.
[4] -التعريفات ، ج ١، ص ٢٠٨.
[5] -التوقيف على مهمات التعاريف ، ج١، ص ٥٣٨.
[6] - الصحاح ، ج١، ص ٤٩٥.

په ظلم او ناروا سره د یو شی اخیستلو ته غصب وایې.

ب: غصب په اصطلاح کې : ۱- وهو الاستيلاء على مال الغير بغير حقٍ[1]

په ناروا ډول د بل چا مال په لاس کې اخیستلو ته غصب وایې .

ج: دغصب له لارې مال لاسته راوړل یو له هغو ناروا لارو څخه دي چې له د لارې ځینې خلک مال لاسته راوړي په داسې حال کې چې اسلامي شریعت له د کار څخه منع کړې چې دلایل به یې وروسته ذکر شي .

باید یادونه وکړم چې دغصب او غلا تر منځ فرق موجود دی ځکه په غلا کې یو سړی مال په پټ ډول لاسته راوړي او په غصب کې بیا داسې نه ده بلکه په غصب کې لکه څنګه چې په تعریفونو کې مو واضح کړه مال په ښکاره ډول لاسته راوړي بغیر له د څخه چې له چا څخه وډار شي ، قران عظیم الشأن نوموړې موضوع ته د موسی او خضر په قصه کې داسې اشاره کوي (**...قَالَ أَخَرَقْتَهَا لِتُغْرِقَ أَهْلَهَا لَقَدْ جِئْتَ شَيْئًا إِمْرًا**)[2]

ترجمه : وویل ( موسي ) ایا سوري د( کړه دا بیړی ) لپاره د دې چې غرق کړې اهل د دې خامخا په تحقیق دی وکړ یو کار دروند .

بیا حضرت خضر ( علیه السلام) ورته د بیړې د سوري کیدو دلیل وویل ، الله تعالی ترینه داسې حکایت کوي(**أَمَّا السَّفِينَةُ فَكَانَتْ لِمَسَاكِينَ يَعْمَلُونَ فِي الْبَحْرِ فَأَرَدْتُ أَنْ أَعِيبَهَا وَكَانَ وَرَاءَهُمْ مَلِكٌ يَأْخُذُ كُلَّ سَفِينَةٍ غَصْبًا**)[3].

ترجمه : هر څه هغه بیړی ( چې ما سوریٔ کړی وه ) نو وه د پاره د هغو عاجزانو چې کار به یې کاوه په بحر کې ، نو وغوښته ما چې عیبجنه کړم هغه حال دا چې وؤ لږ څه لرې له دوی نه یو پاچا چې اخیسته به یې هر یوه بیړی په زور سره ( نو ځکه مې سوریٔ کړه ) .

یعنې حضرت خضر ( علیه السلام) دده د پوښتنې ځواب ورکړ او ورته یې وویل چې په نږدې منطقه کې یو ظالم پادشاه دی چې هر یوه جوړه بیړی په زور سره نیسې او په خپل کار کې د بیګار په ډول ترینه ګټه اخلي ، ځکه خو مې هغه بیړیٔ عیبجنه کړه ، ترڅو د هغه ظالم پاد شاه له بیګاره خلاصه شي او د همدغو مسکینانو د کار لپاره پاتې شي[4].

له دې ایت شریف څخه په واضح ډول معلومیږي چې هغه شی چې په ظلم او زور سره لاسته راوړل کیږې او دهغه په لاسته راوړلو کې ډار هم نه وي موجود غصب ورته وایې او نني زمانه کې خو یې

[1] - أبو عبدالله ، عبدالرحمن بن ناصر بن عبدالله ، منهج السالکين و توضيح الفقه فى الدين ، لومړی چاپ ، چاپ کال : ۱۴۲۱هـ ، چاپ ځای : دار الوطن ، د ټوک ګڼه ۱، د پاڼی ګڼه ۱۶۸.

[2] - الکهف , ایت 71.

[3] - الکهف , ایت 79.

[4] - لباب التأويل فى معانې التنزيل ، ج۳، ص ۱۷۳.

ډير مثالونه شته چې ډيرئ خلک له همدې لارې مال لاسته راوړي په داسې حال کې چې په اسلامې شريعت کې له دې لارې د مال لاسته راوړل يو ناروا او حرام عمل دی او هر مسلمان بايد ترې ډډه وکړي.

## اووم مطلب: د رشوت له لارې د مال لاسته راوړل

الف: رشوت په لغت کې : جرجاني يې داسې تعريفوې : الرشوة : ما يعطى لابطال حق أولاحقاف باطل[1].

يعني هغه څه چې د حق د باطليدو او يا د هغه څه لپاره چې باطل په حق بدل کړی ورکول کيږې رشوت ورته ويل کيږې.

مناوې هم عين تعريف ورته ذکر کړی دی .

ب: رشوت په اصطلاح کې : ۱- د قدرت ښښتن ته ورکړه د يو شي ترڅو هغه حکم په ناروا او باطل وکړي يا د هغه شي لپاره په بل انسان ظلم وکړئ[2].

۲- ورکول د يو شي چې هغه قيمت ولري لکه مال هغه چا ته چې په لاس کې يې فيصله وي[3].

رشوت د يهودو تر منځ ډير مشهور وو د هغوی حُکامو او مشرانو به ډير زيات رشوت خوړه ، حق به يې باطل او باطل به يې حق ګرځاوه الله په قران عظيم الشأن کې فرمايي (**سَمَّاعُونَ لِلْكَذِبِ أَكَّالُونَ لِلسُّحْتِ**...)[4]

ترجمه : ( دوی ) ډير اوريدونکي ( جاسوسي کوونکي دی ) له پاره د دروغ ويلو ډير خوړونکې دی د حرامو .

ددې ايت د شأن نزول په باره کې ويل کيږې چې دا ايت د يهودو د مشرانو په باره کې نازل شوی دی لکه کعب بن اشرف ، هغوی به رشوت خوړه او له خلکو به يې رشوت غوښته ، حسن وايې: کله به چې د يو چا له طرفه ددوی حاکم ته رشوت راوړل شو نو هغه به په خپل لستوني کې کيښود او بيا به يې له هغه سره دهغه د اړتياوو په هکله خبرې کولې او د رشوت ورکونکې مقابل ته به يې نه کتل ، يواځې د رشوت اخيستونکې خبرو ته به يې غوږ اينښود ، چې همدې ته سحت ويل کيږې کوم چې په ايت شريف کې ورڅخه يادونه شوې ده[5].

---

[1] - التعريفات ، ج۱، ص۱۴۸.
[2] - أبو محمد ، على بن أحمد بن سعيد بن حزم ، المحلي بالأثار ، د وفات نيټه ۴۵۶هـ ، چاپ ځای : دار الفکر – بيروت ، د ټوکونو شمير ۱۲، د ټوک ګڼه ۸، د پاڼی ګڼه ۱۱۸.
[3] - الفقه الميسر ، ج ۷، ص ۲۰۷.
[4] - المائده ، ايت ۴۲.
[5] - لباب التأويل فى معاني التنزيل ، ج۲، ص ۴۵.

همدارنګه الله تعالی په بل ځای کې فرمایې (**وَتَرَى كَثِيرًا مِنْهُمْ يُسَارِعُونَ فِي الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَأَكْلِهِمُ السُّحْتَ لَبِئْسَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ (62) لَوْلَا يَنْهَاهُمُ الرَّبَّانِيُّونَ وَالْأَحْبَارُ عَنْ قَوْلِهِمُ الْإِثْمَ وَأَكْلِهِمُ السُّحْتَ لَبِئْسَ مَا كَانُوا يَصْنَعُونَ**)[1].

ترجمه : او ته به وینې ډیر له دغو ( منافقانو) څخه چې منډې به وهي په ګناه کې ( چې حصول د حرامو یا دروغ ویل دي) او په ظلم کې ( چې زیادت دی په معاصیوکې ) او په خوراک د دوی حرامو لره ( لکه رشوت) خامخا بد دی هغه کار چې دوی به کاوه .

ولی نه منع کوي دوی رباني عارفان او عالمان له ویلو د دوی د ګناه ( د دروغو خبرو) او له خوړلو د دوی د حرامو ( لکه رشوت او سود) خامخا ډیر بد دی هغه کار چې وو دوی چې کاوه یې ( چې هغه سکوت دی له نهې د منکر نه ) .

په دې ایت د قران عظیم الشأن کې له ( سحت ) څخه مراد حرام مال دی لکه رشوت ، سود او داسې نور[2].

په داسې حال کې چې الله تعالی ( جل شأنه ) اسلامي امت له رشوت اخیستلو څخه په کلکه منع کړی الله تعالی فرمایې(**وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ وَتُدْلُوا بِهَا إِلَى الْحُكَّامِ لِتَأْكُلُوا فَرِيقًا مِنْ أَمْوَالِ النَّاسِ بِالْإِثْمِ وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ**)[3]

ترجمه : او مه خورئ ! مالونه خپل ( چی واقع دي) په منځو د تاسو کې په ناحقه سره او مه رسئ ! دا مال تر حاکمانو پورې له پاره د دې چې وخورئ ( تاسې په دې رسولو سره ) یو څه له مالو د خلقو ځینې په ظلم ( ناحقه سره ) او تاسې پوهیږئ ( چې دا ظلم دی) .

همدارنګه رشوت اخیستل او ورکول د سترو او لویو ګناهونو له جملې څخه شمیرل کیږي او هغه څوک چې د رشوت ورکونکې او اخیستونکې لپاره لار هواروی هغه هم په دې ستره ګناه کې شریک دی او د الله تعالی لعنت دی په درې واړو باندې ،(**عن عبد الله بن عمرو أن النبي صلى الله عليه وسلم قال : لعنة الله على الراشي والمرتشي**)[4]

ترجمه : حدیث له عبدالله ابن عمرو ( رضی الله تعالی عنهم )څخه روایت دی هغه وایې چې نبی کریم ( صلی الله علیه وسلم ) وفرمایل : د الله لعنت په رشوت ورکونکې او رشوت اخیستونکې دی .

---

[1] - المائده ، ایت (۶۲- ۶۳).

[2] - الجزائری ، جابر بن موسی بن عبدالقادر ، أیسر التفاسیر لکلام العلی الکبیر ، پنځم چاپ ، چاپ کال ۱۴۲۴هـ ، چاپ ځای : مکتبة العلوم والحکم – المدینة المنوره ، د ټوکونوشمیر ۵، د ټوک ګڼه ۱، د پاڼی ګڼه ۶۴۸.

[3] - البقره , ایت 188.

[4] - سنن ابن ماجه , ج2, ص775. الباني ورته صحیح ویلي . وګوره : ألبانی ، محمد ناصر الدین ، صحیح الترغیب والترهیب ، پنځم چاپ ، چاپ ځای : مکتبة المعارف، د ټوکونو شمیر ۳،دټوک ګڼه ۲، د پاڼی ګڼه ۲۶۱، د حدیث نمبر ۲۲۱۱.

همدارنګه په بل حديث شريف کې چې له ثوبان ( رضى الله عنه ) څخه روايت دی نبی کريم ( صلى الله عليه وسلم) فرمايي **(عن ثوبان رضي الله عنه : عن النبي صلى الله عليه و سلم قال : لعن الله الراشي و المرتشي و الرائش الذي يمشي بينهما)**[1].

ترجمه : ثوبان ( رضي الله عنه ) وايې نبی اکرم ( صلى الله عليه وسلم ) وفرمايل : د الله تعالی لعنت په رشوت ورکونکي او رشوت اخيستونکي او همدارنګه هغه چا باندې دی چې ددوی دواړو تر منځ لار هواروي.

همدارنګه رشوت ورکول او اخيستل له هغو ګناهونو شمير کيږې چې الله تعالی په کې د مرستې کولو څخه منع کړې ، الله تعالی فرمايي ( ... **وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ)**[2].

ترجمه : او مرسته ( مدد) کوئ تاسې يو تر بله په نيک کار او تقوی ( پرهيزګاری ) کې او مه کوئ تاسې مرسته ( مدد) يو تر بله پر ګناه او پر عدوان ( ظلم ، تجاوز) کې او وويريږې تاسې له الله څخه بيشکه چې الله ډير سخت دی عذاب ( دده متخلفينو لره ) .

نو رشوت هم يو د هغو نا مشروعو لارو څخه ده چې ځيني خلک له د لارې څخه مال لاسته راوړي.

## اتم مطلب: د سود له لارې د مال لاسته راوړل

الف : سود په لغت کې : زيادت ته ويل کيږې[3].

مناوی هم په همدې شکل تعريف کړی دی (الربا لغتاً : الزيادة )[4] سود په لغت کې زيادت ته ويل کيږې.

الله تعالی په قران عظيم الشأن کې فرمايې ( ... **أَنْ تَكُونَ أُمَّةٌ هِيَ أَرْبَى مِنْ أُمَّةٍ...)**[5].

ترجمه : چې شوه يوه ډله زياته له بلې ډلې څخه .

ب: سود په اصطلاح کې : هغه خاص زيادت ته ويل کيږې ([6]) مقصد دلته د هغه مال له اندازی څخه زياتوالي ته وايي الله تعالی فرمايي **(...وَإِنْ تُبْتُمْ فَلَكُمْ رُءُوسُ أَمْوَالِكُمْ...)**[7].

ترجمه : او که توبه ګاره شوئ تاسې ( له اخيستلو د سوده ) نو شته تاسو لره اصل د مالونو ستاسو.

---

[1] النيسابوري , محمد بن عبدالله ، المستدرک على الصحيحين ، تحقيق: مصطفى عبدالقادر عطا، لومړی چاپ ، چاپ کال ۱۴۱۱هـ ، چاپ ځای : دارالکتب العلميه – بيروت ، د ټوکونو شمير ۴، دټوک ګڼه ۴، د پاڼی ګڼه ۱۱۵، د حديث نمبر ۷۰۶۸، البانی ورته ضعيف ويلی ، وګوره البانی ، محمد ناصر الدين ، صحيح وضعيف الجامع الصغير ، چاپ ځای : المکتب الاسلامی ، د ټوک ګڼه ۱، د پاڼی ګڼه ۱۰۱۶، دحديث نمبر ۱۰۱۵ .

[2] - مائده ، ايت ۲.

[3] - أنيس الفقهاء فی تعريفات الألفاظ المتداولة بين الفقهاء، ج ۱، ص ۲۱۴.

[4] - التوقيف على مهمات التعاريف ، ج۱، ص ۳۵۴.

[5] - النحل , ايت 92.

[6] - الفقه الميسر ، ج۶، ص۶۴.

[7] - بقره , ايت 279.

دسود ډولونه :

جمهور فقهاوو سود په دوه ډوله تقسیم کړی دی : ا- رباء النسیئه : د عوض او جنس په مقابل کې د پور یا قرض د ثبوت وروسته زیادت د مثال په ډول : یو کس پر بل کس باندې یو جنس خرڅوي په داسې ډول چې یو کال وروسته به قرض ادا کوې که چیرته یې اداء نه کړ نو په دوهم کال د جنس قیمت لوړوي همداسې د وخت په تیریدو یې قیمت لوړیږې چې دا د عقد په وخت کې د ثابت شوی قرض څخه وروسته زیادت دی او دا زیادت سود دی([1]) الله تعالی فرمایې (**يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا الرِّبَا أَضْعَافًا مُضَاعَفَةً وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ**)[2].

ترجمه : ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی ! مه خورئ سود! په د حال چې دوه چنده پر دوه چنده ( وي) او له الله وویرېږ ښایي چې په مراد به ورسیږئ.

۲- د زیادت سود : په راکړه ورکړه کې د فضل سود هغه سود دی چې د وزن او پیمانې وړ همجنس شیان په زیادت سره تبادله شي او لاس په لاس نه وي لکه یوه پیمانه غنم په دوه پیمانو[3].

ددې ډول سود د حراموالي دلیل حدیث د نبي کریم (صلی الله علیه وسلم ) دی چې له عباده بن صامت څخه روایت دی (**عن عبادة بن الصامت قال قال رسول الله صلى الله عليه و سلم ( الذهب بالذهب والفضة بالفضة والبر بالبر والشعير بالشعير والتمر بالتمر والملح بالملح مثلا بمثل سواء بسواء يدا بيد فإذا اختلفت هذه الأصناف فبيعوا كيف شئتم إذا كان يدا بيد )[4].**

ترجمه : له عباده بن صامت څخه روایت دی چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم ) فرمایلي دي : سره زر په سرو زرو ، سپین زر په سپینو زرو ، غنم په غنمو ، وربشې په وربشو ، خرما په خرما ، مالګه په مالګه ، په بدل کې یوشان برابر او لاس په لاس او هر کله چې جنسونه سره مختلف وي نو څنګه چې مو خوښه وي خرڅوئ ، په شرط د دې چې لاس په لاس وي.

په ننې زمانه کې سود یوه عامه بلا ګرځیدلې ده چې تقریباً ټول خلک په کې اخته دي او اکثره خلک یې خوري او دا هغه څه دي چې نبي کریم ( صلی الله علیه وسلم ) یې مونږ ته څوارلس سوه کاله مخکې خبر راکړی دی په د هکله حدیث له أبی هریرة ( رضی الله عنه ) څخه روایت دی (**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ يَأْكُلُونَ فِيهِ الرِّبَا قَالَ قِيلَ لَهُ النَّاسُ كُلُّهُمْ قَالَ مَنْ لَمْ يَأْكُلْهُ مِنْهُمْ نَالَهُ مِنْ غُبَارِهِ**)[5].

---

1 - الفقه المیسر ، ج۶، ص۶۴.

2 - ال عمران , ایت 130.

3 - فقه المیسر ، ج۶، ص ۶۶.

4 - مسلم , ج3, ص 1210, دحدیث نمبر ۱۵۸۷.

5 - مسند أحمد ، ج۱۶، ص ۲۵۸، دحدیث نمبر ۱۰۴۱۰. البانی ورته ضعیف ویلی ، وګوره : صحیح و ضعیف سنن نسایي ، ج۱۰ ، ص ۲۷.

ترجمه: له ابي هريره ( رضي الله عنه ) څخه روايت دی هغه وايې رسول الله ( صلی الله عليه وسلم) وفرمايل : په خلکو به داسې وخت راشي چې سود به په کې خوري ، ورته وويل شول چې ټول خلک به يې خوري هغه (صلی الله عليه وسلم ) وفرمايل : که څوک يې ونخورې هم ولې ګرد او غبار به يې هرو مرو ورته رسيږي.

ځيني خلک په د اند دي چې سود د مال د لاسته راوړلو لپاره اسانه لاره ده لکن الله تعالی ( جل شأنه ) ټولو انسانانو ته خبر ورکړی چې سود مال له مينځه وړې الله تعالی په قران عظيم الشأن کې نوموړی موضوع ته داسې اشاره کوي (**يَمْحَقُ اللَّهُ الرِّبَا وَيُرْبِي الصَّدَقَاتِ**)[1].

ترجمه : ورک کوي اله ( برکت د) سود او زياتوي ( ثواب د ) خيراتونو.

(**يَمْحَقُ اللَّهُ**) الله تعالی مال کموي او برکت يې له مينځه وړي ، ابن عباس ( رضی الله عنه ) وايي الله تعالی د سود خوړونکې صدقه ، حج ، جهاد او خيرات نه قبلوې[2].

دسود حکم :

سود په ټولو اسماني دينونو کې حرام وؤ او د اسلام په مبارک دين کې د هغه تأکيد راغلی دی او هر هغه څوک چې سود ته حلال وايي کافر دی ، مګر هغه څوک چې سود خورې خو حلال نه ورته وايې هغه فاسق او د کبيره ګناه کونکو له جملې څخه شميرل کيږې[3]

د سود حرمت په قرانکريم ، نبوي احاديثو او اجماع سره ثابت دی .

۱- قرانکريم : الله تعالی په قرانکريم کې فرمايي ( ... **وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا...**)[4].

ترجمه : حلال کړی دی بيع او حرام کړی يې دی سود.

همدارنګه په بل ايت شريف کې الله تعالی فرمايې(**يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَذَرُوا مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبَا إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ**)[5].

ترجمه : ای هغو کسانو چې ايمان مو راوړی دی له الله تعالی څخه ووېرېږئ او پرېږدئ هغه چې پاتې شوی دی له سوده که يئ تاسې مؤمنان .

۲- نبوي سنت : (**عن أبي هريرة رضي الله عنه : عن النبي صلى الله عليه و سلم قال ( اجتنبوا السبع الموبقات ) . قالوا يا رسول الله وما هن ؟ قال ( الشرك بالله والسحر وقتل النفس التي حرم الله إلا بالحق وأكل الربا وأكل مال اليتيم والتولي يوم الزحف وقذف المحصنات المؤمنات الغافلات )**[6].

---

[1] - بقره ، ايت ۲۷۶.
[2] - لباب التأويل فی معاني التنزيل ، ج۱، ص ۲۱۱.
[3] - فقه الميسر ، ج۶، ص۶۴.
[4] - بقره ، ايت ۲۷۵.
[5] - بقره , ايت 278.
[6] - بخاري، ج۳، ص ۱۰۱۷، د حديث نمبر ۲۶۱۵.

ترجمه : حدیث له ابی هریرة ( رضی الله عنه ) څخه روایت دی هغه وایې نبي کریم ( صلی الله علیه وسلم ) وفرمایل : د اوو ( ۷) هلاک کونکو ګناهونو څخه ځان وژغوری، چا پوښتنه وکړه هغه کوم دي ؟ نبي کریم ( صلی الله علیه وسلم ) وفرمایل : له الله تعالی سره شریک نیول ، سحر ، په ناحقه سره د یو چا وژل ، د سود خوړل ، د یتیم د مال خوړل ، د جنګ څخه تیښته کول او د پاک لمنو ښځو په زنا سره تورنول.

همدارنګه په بل حدیث شریف کې چې له جابر ( رضی الله عنه ) څخه روایت دی نبي کریم ( صلی الله علیه وسلم ) فرمایې (**عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: «لَعَنَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آكِلَ الرِّبَا، وَمُؤْكِلَهُ، وَكَاتِبَهُ، وَشَاهِدَيْهِ»، وَقَالَ: «هُمْ سَوَاءٌ»**[1]

ترجمه : جابر ( رضی الله عنه ) وایې :رسول الله ( صلی الله علیه وسلم لعنت ویلی په سود خوړونکې، سود ورکونکې ، سود لیکونکې ،شاهدي ورکونکې اوبیا نبی کریم ( صلی الله علیه وسلم) وفرمایل چې دوی ټول سره برابر دي.

[1] - مسلم , ج3, ص1219, دحدیث نمبر۱۵۹۸.

**دریم فصل: د حلال او حرام مال د لاسته راوړلو پایلې**

**لومړی مبحث: د حلال مال د لاسته راوړلو پایلې**

**لومړی مطلب: دحلال مال د لاسته راوړلو پایلې پایلې په دنیا کې**

**دویم مطلب: د حلال مال د لاسته راوړلو پایلې په اخرت کې**

**دویم مبحث : دحرام مال د لاسته راوړلو پایلې**

**لومړی مبحث : د حرام مال دلاسته راوړلو پایلې په دنیا کې**

**دویم مبحث : د حرام مال د لاسته راوړلو پایلې په اخرت کې**

## لومړی مبحث: د حلال مال د لاسته راوړلو پایلې

### لومړی مطلب: د حلال مال د لاسته راوړلو پايلې په دنيا کې

تمهيد : الله تعالی ( جل شأنه ) ټولو مسلمانو ته دا امر کوي چې د حلال مال څخه يې د هغه په لار کې مصرف کړي الله تعالی فرمايي: (**يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَنْفِقُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّا أَخْرَجْنَا لَكُمْ مِنَ الْأَرْضِ وَلَا تَيَمَّمُوا الْخَبِيثَ مِنْهُ تُنْفِقُونَ وَلَسْتُمْ بِآخِذِيهِ إِلَّا أَنْ تُغْمِضُوا فِيهِ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ حَمِيدٌ**)[1].

ترجمه : ای هغو کسانو چې ايمان مو راوړيدی ! مصروفوئ ! له حلالو ( پاکو او غورو) د هغه مالونو چې (په کسب سره ) تاسي ګټلي او له هغو ( شيانو) چې ايستلي دي مونږ تاسي لره له ځمکې څخه ( له حلالو پاکو غورو شيانو) او قصد مه کوئ تاسي ( ورکولو) د خبيثو ( حرامو نابودو شيانو) له هغه ماله چې لګوئ يې تاسي ( د الله تعالی په لاره کې ) حال دا چې نه يې تاسي اخيستونکې د هغه ( ناکاره شي په خپل حق کې ) مګر (( خو يې داسې اخلئ)) چې سترګې پټې کړئ په ( اخيستو د ) هغه کې او پوه شئ ! چې بيشکه الله غني دی ( بې پروا له هر چا او هر شي ، ورته تل ښه ستاينه او ) ثنا ويلی شوی.

يعنې هغه څوک چې په دنيا کې حلال مال لاسته راوړي پايله يې :

دحلال مال څښتن په دنيا کې برکت لاسته راوړي ځکه دا د الله تعالی ( جل شأنه) له هر مسلمان سره وعده ده چې کچيرته حلال مال لاسته راوړي او په خپل ژوند کې د الله تعالی او د هغه د رسول اطاعت وکړي ، هغه څه چې الله تعالی ورته حلال ګڼلي هغه حلال وګڼي او له هغه څه چې الله تعالی منع کړی له هغه اجتناب وکړي الله تعالی به يې په مال کې برکت اچوي، الله تعالی فرمايي (**وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ الْقُرَى آمَنُوا وَاتَّقَوْا لَفَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَرَكَاتٍ مِنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ وَلَكِنْ كَذَّبُوا فَأَخَذْنَاهُمْ بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ**)[2]

ترجمه : او که خلکو ددې کليو( ښارونو) ايمان راوړی وی او تقوی يې ( غوره) کړې وی نو خامخا پرانستلي به وی مونږ پر دوی باندې ( دروازې د) برکتونو له لوري د اسمانه او له ( لوري ) د ځمکې ليکن ددروغو نسبت وکړ دوی ( انبياؤو) ته نو ونيول مونږ هغوی په سبب د هغو چې وو دوی چې کول به يې ( د کفر او ګناهونو څخه ) .

---

[1] - بقره ، ايت ۲۶۷.

[2] - الاعراف , ايت 96.

یعني که چیرته څوک ایمان راوړي بیا د ایمان د تقاضا مطابق په خپل ژوند کې عمل وکړي نو الله تعالی به په ده باندې برکتونه له اسمان او ځمکې څخه نازل کړي ځکه د ایمان تقاضا داده چې انسان باید په ژوند کې حلال لاسته راوړي او له حرامو څخه ځان وژغوري چې د همدغو حلالو لاسته راوړل د برکت او زیاتوالي سبب ګرځي.

تفسیر المنیر په دی هکله لیکي : دا یو لوی خبر دی له یوه بل سنت د الله تعالی څخه د هغه بندګانو ته چې کچیرته د کلیو خلک لکه د مکې په الله تعالی او د هغه په رسول، په ملائکو ، په کتابونو او په ورځ د اخرت باندې ایمان راوړي او له هغه څه څخه چې دوی الله تعالی منع کړي اجتناب وکړي ، شرک او فساد په ځمکه کې حرام وګڼي نو الله تعالی به په دوی باندې ډیر خیراتونه له اسمان څخه نازل کړي لکه باران او همدارنګه ډیر خیراتونه له ځمکې څخه لکه نباتات ، معدنونه ، خزاني او داسې نور[1]

ابوبکر الجزائري[2] د پورتني ایت ددي برخې(**بَرَكَاتٍ مِنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ**) په تفسیر کې لیکي : برکات د برکت جمع ده او برکت د خیر دوام ته ویل کیږي ، داسمان برکت باران دی او ځمکې برکت نباتات ، ګیاګاني ، ارامه زندګي ، امن ، صحت دی [3].

مراغې [4] بیا دا ایت داسې تفسیروي: کچیرته دوی ( انسانان) ایمان راوړي نو په دوی باندې به خیر په پراخ له هرې خوا نازل شي ځکه صحیح ایمان او د حق تابعداري په دنیا کې د خوشبختی سبب ګرځي[5].

تفسیر الواضح بیا دا ایت (**لَفَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَرَكَاتٍ مِنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ**)[6] داسې تفسیروي: کچیرته د قریو هغه خلک چې د رسولانو تکذیب یې کړی او په الله تعالی یې ایمان نه دې راوړی کچیرته دوی د کفر په بدل کې ایمان راوړي او د ګناه کولو پر ځای تقوی وکړي نو الله تعالی به په دوی باندې د معنوي او مادي خیر دروازې هم له اسمانه او هم له ځمکې لکه علوم ، وحی ، الهام ،باران ، وریځ، نباتات ، ذخایر راخلاصې کړي[7].

---

[1] - التفسير المنير فى العقيدة والشريعة والمنهج، ج۹، ص ۱۸.

[22] - جابر بن موسى بن عبدالقادر بن جابر أبوبكر الجزائري په کال ۱۹۲۱م کې د ( ليرة) په کلي کې چې د جزائر هیواد په جنوب کې پروت دی زیږدلی دی ، د قران عظیم الشأن حافظ او همدارنګه مفسر وو د مشهورو تألیفاتو څخه یې (أيسر التفاسير للقران الكريم ) ( منهاج المسلم) او الضروريات الفقهية دي. وګوره : المعجم الجامع فى تراجم العلماء و طلبة العلم المعاصرين ، تأليف : أعضاء ملتقى الحديث ، ج۱، ص۴۱.

[3] - أيسر التفاسير لكلام العلي الكبير ، ج۲، ص۲۰۹

[4] - أحمد بن مصطفى المراغى په کال ۱۳۷۱هـ کې په مصر کی تولد شوی همله یې زده کړې کړي او د زده کړو تر پای ته رسولو وروسته همله د عربی او اسلامې علو مو استاد شو ، په قاهره کې وفات شوی او د مشهورو کتابونو څخه یې ( الحسبة فى الاسلام) ( الوجيز فى اصول الفقه) او تفسیر المراغي دي. وګوره : الاعلام للزرکلې ، ج۱، ص ۲۵۸.

[5] - المراغي ، أحمد بن مصطفى ، تفسير المراغي ، لومړی چاپ ، چاپ کال ۱۳۶۵،چاپ ځای : شركة مكتبه و مطبعه مصطفى البابي الحلبي جزونه ۳۰ ، دټوک ګڼه ۹، د پاڼې ګڼه ۱۵.

[6] - الاعراف ، ایت ۹۶.

[7] - تفسير الواضح ، ج۱، ص۷۴۴.

دا په هغه صورت کې چې کچیرته دوی ایمان راوړي ، چې د ایمان غوښتنه بیا د حلال مال لاسته راړل دي او د حلال مال لاسته راوړل د رزق د پراخوالي سبب ګرځي.

همدارنګه هر چا ته چې الله تعالی ( جل شأنه) خپل نعمتونه ورکړي باید نوموړی شخص ورباندې شکر وکړي او دا خبره خپل شعار وګرځوي چې دار هر څه را ته الله تعالی راکړي او زه یې شکر اداء کوم لکه څنګه چې داود ( علیه السلام) او سلیمان ( علیه السلام ) ته الله علم ورکړی وو او هغوی هم د الله تعالی ددې نعمت شکرانګې ادا کوله ، الله تعالی فرمایي (**وَلَقَدْ آتَيْنَا دَاوُودَ وَسُلَيْمَانَ عِلْمًا وَقَالَا الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي فَضَّلَنَا عَلَى كَثِيرٍ مِنْ عِبَادِهِ الْمُؤْمِنِينَ**)[1].

ترجمه: او په تحقیق مونږ ورکړی وو داؤد او سلیمان ته ( یو خاص) علم او وویل دواړه چې ټولې ثناوې ستاینې ( صفتونه) دې الله ته هغه چې مشرتیا ( فضیلت) یې راکړی دی مونږ ته پر ډیرو له ( هغو) بندګانو خپلو چې مؤمنان دي.

ددې ایت په تفسیر کې ( واضح تفسیر ) لیکي : الله تعالی داود( علیه السلام) او دهغه زوی سلیمان ( علیه السلام) ته داسې علم ورکړی وو چې نورو ته یې نه وو ورکړل شوی چې سلیمان ( علیه السلام) په د مرغانو ، حیواناتو، جنیاتو په ژبه باندې پوهیده او نوموړي د الله تعالی ددې نعمت په بدل کې د هغه شکر اداء کاوه[2].

تفسیر الخازن یې بیا داسې تفسیروي: داود ( علیه السلام ) او سلیمان ( علیه السلام) ته د قضاء او سیاست علم ورکړل شوی وو او د داود ( علیه السلام ) علم د مرغانو په تسبیح ویلو او همدارنګه د غرونو په نرم والې وو او د سلیمان ( علیه السلام) علم د مرغانو او حیواناتو په ژبه پوهیدل وو او دوی به ویل (**الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي فَضَّلَنَا**) یعنې حمد او ثناء هغه ذات لره ده چې مونږ ته یې په نورو غوره والې راکړی په نبوت ، کتاب ، پادشاهۍ او د پیریانو په تابعداری سره[3].

همدارنګه الله تعالی ( جل شأنه) په بل ایت شریف کې ددوی داسې حکایت کوي (**وَوَرِثَ سُلَيْمَانُ دَاوُودَ وَقَالَ يَاأَيُّهَا النَّاسُ عُلِّمْنَا مَنْطِقَ الطَّيْرِ وَأُوتِينَا مِنْ كُلِّ شَيْءٍ إِنَّ هَذَا لَهُوَ الْفَضْلُ الْمُبِينُ**)[4].

**ترجمه:** او په میراث واخیست سلیمان ( نبوت ، علم ، سلطنت) له داؤد څخه او وویل ( سلیمان) ای خلکو ښوولې شوی دی مونږ ته خبرې د الوتونکیو مرغانو او راکړل شوی دي مونږ ته له هر څیز څخه ( چې انبیاوو او پادشاهانو ته ورکول شوی وو) بیشکه دغه ( ورکړه) خامخا هم دغه فضلیت دی ښکاره.

[1] - النمل ، ایت ۱۵.
[2] - التفسیر الواضح ، ج۲، ص۷۸۶.
[3] - لباب التأویل فی معاني التنزیل ، ج۳، ص ۳۳۹.
[4] - النمل , ایت 16.

تفسير الخازن ددې ايت په تفسير کې ليکي : سليمان ( عليه السلام) ته له خپل پلار داود ( عليه السلام ) څخه د هغه علم ، نبوت او پادشاهي په ميراث پاتې وه په داسې حال کې چې دا شپونه يې نورو زامنو ته په ميراث نه وو پاتې او سليمان ( عليه السلام ) ته هغه څه ورکړل شول کوم چې داود ( عليه السلام ) ته ورکړل شوی وو بلکه له هغه څخه هم زيات لکه د باد تابع کيدل ، د جنياتو تابع کيدل ، مقاتل وايې : سليمان ( عليه السلام) د داود ( عليه السلام ) څخه لوی پاد شاه وو مګر داود ( عليه السلام) د سليمان ( عليه السلام) څخه زياد عبادت کاوه او سليمان ( عليه السلام) د الله تعالی ددې نعمتونو دورکړې په بدله کې دهغه شکر ادا کاوه او سليمان ( عليه السلام) به وويل چې ای خلکو زه د مرغانو په ژبه باندې پوهيږم او ما ته هغه څه راکړل شوی چې نورو انبياوو او پادشاهانو ته نه وو ورکړل شوی ، ابن عباس ( رضی الله تعالی عنه ) فرمايي : سليمان ( عليه السلام) ته نبوت ، پادشاهي ، د باد تابعداري، دجنياتو تابعداري ورکړل شوی وه او او نوموړي به د الله تعالی ددې نعمتونو په مقابل کې د هغه شکرانګي ادا کوله[1] الله تعالی يې داسې حکايت کوي (**إِنَّ هَذَا لَهُوَ الْفَضْلُ الْمُبِينُ**)[2].

ترجمه : بيشکه دغه ( ورکړه) خامخا هم دغه فضليت دی ښکاره.

سليمان ( عليه السلام) ددې تر څنګ چې يو لوی پاد شاه وو، باد او جنيات يې تابع وو د ميږيانو په ژبه هم پوهيده چې ښکاره مثال يې کله چې سليمان او د هغه لښکر د ميږيانو دښتي ته رسيږي ددې په خاطر چې هغوی تر پښو لاندې نه شي او ونه وژل شي سليمان ( عليه السلام ) ورته وويل : خپلو کورونو ته ننوځې کله چې هغوی خپلو کورونو ته ننوتل سليمان ( عليه السلام) تعجب وکړ او د تعجب څخه وروسته يې خوښي څرګنده کړه ( چې ميږيان دده په خبره وپوهيدل) او نوموړي دالله تعالی ددې ستر نعمت په مقابل کې د هغه شکرانګي ادا کړه قران عظيم الشأن نوموړې موضوع ته داسې اشاره کوي (**وَحُشِرَ لِسُلَيْمَانَ جُنُودُهُ مِنَ الْجِنِّ وَالْإِنْسِ وَالطَّيْرِ فَهُمْ يُوزَعُونَ (17) حَتَّى إِذَا أَتَوْا عَلَى وَادِ النَّمْلِ قَالَتْ نَمْلَةٌ يَاأَيُّهَا النَّمْلُ ادْخُلُوا مَسَاكِنَكُمْ لَا يَحْطِمَنَّكُمْ سُلَيْمَانُ وَجُنُودُهُ وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ (18) فَتَبَسَّمَ ضَاحِكًا مِنْ قَوْلِهَا وَقَالَ رَبِّ أَوْزِعْنِي أَنْ أَشْكُرَ نِعْمَتَكَ الَّتِي أَنْعَمْتَ عَلَيَّ وَعَلَى وَالِدَيَّ وَأَنْ أَعْمَلَ صَالِحًا تَرْضَاهُ وَأَدْخِلْنِي بِرَحْمَتِكَ فِي عِبَادِكَ الصَّالِحِينَ**)[3]

---

[1]- لباب التأويل فی معاني التنزيل ، ج٣، ص ( ٣٣٩- ٣٤٠).

[2] - النمل ، ايت ١٦

[3] - النمل , ايت ( 18- 19)

او سلیمان ( علیه السلام) به ددې ټولو نعمتونو په مقابل کې کوم چې د الله تعالی له طرفه ورکړل شوی وو د الله تعالی ( جل شأنه ) شکر ادا کاوه[1].

ترجمه : کله چې راغلل دوی پر کنده د میږیو نو وویل یوه میږي ( چې مشر وو پر نورو) ای میږیو ! ننوزئ ټول مساکنو او سوریو خپلو ته چې مات او چیت پیت مو نه کړي سلیمان او د هغه لښکر حال دا چې دوی به نه وي پوه ( د تاسې له دې پایمالیدو څخه) ، پس تبسم وکړ ( سلیمان) په دغه حال کې چې خندا کوونکی وو ( ورپسې تعجباً او سروراً ) له وینا د هغه میږي او وویل سلیمان ای ربه زما الهام وکړه ما ته ( را په برخه کړه ) دا چې شکر وکړه د نعمت ستا هغه چې انعام کړی دی تا پر ما او پر مور او پلار ځما او بل دا چې کوم زه عمل نیک چې ( په فضل خپل سره ) خوښوي ته هغه او ننه باسه ما ( او یو ځای کړه ما ) په رحمت خپل سره په ( هغو ) بندګانو خپلو کې چې صالحان دي.

نو د هر بنده لپاره دا لازمه ده چې الله تعالی د هر نعمت په مقابل کې دهغه شکرانګي ادا کړي چې دنعمت شکرانګي دهغه د زیاتوالي سبب ګرځي او دایماً الله تعالی په خپل شاکر بنده خپل نعمتونه زیاتوې او په خپلو نعمتونو یې نازوي ، الله تعالی فرمایي (**وَإِذْ تَأَذَّنَ رَبُّكُمْ لَئِنْ شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ وَلَئِنْ كَفَرْتُمْ إِنَّ عَذَابِي لَشَدِيدٌ**)[2]

ترجمه : او یاد کړه هغه وخت چې خبر در تاسې ته رب ستاسې په دې چې قسم دی که چیرې شکر وویست تاسې ( په تیرو نعمتونو زما) نو خامخا زیات به کړم تاسې ته نعمت او قسم دی که بی قدرې او ناشکری وکړه تاسې ( د نعمتونو زما) نو بیشکه عذاب زما خامخا ډیر سخت دی .

تفسیر الحدیث تفسیر ددې ایت په تفسیر کې لیکي : د الله تعالی له طرفه له ټولو هغو شکر اداء کوونکو سره دا وعده ده چې که چیرته شکر اداء کړي نو الله تعالی به خپل نعمتونه وربانديې زیات کړې او همدارنګه په دی کې زیری او تشویق د انسانانو لپاره دی چې د الله تعالی د نعمتو شکرانګي د نعمتونو د زیاتوالي باعث ګرځي [3].

همدارنګه په دی هکله الله تعالی په بل ایت شریف کې فرمایي (**فَاذْكُرُونِي أَذْكُرْكُمْ وَاشْكُرُوا لِي وَلَا تَكْفُرُونِ**)[4].

ترجمه : یاد کړئ ( تاسې) ما ( په قلبي او بدني اطاعت سره ) نو زه به هم یاد کړم تاسې ( په ثواب سره ) او شکر وباسئ ! ما لره په ( طاعت) او مه کافران کیږئ په ما باندې ( په معصیت سره ) .

---

[1] - تفسیر المنیر ، ج۱۹، ص۲۷۱.

[2] - ابراهیم , ایت 7.

[3] - تفسیر الحدیث ، ج۵، ص ۲۲۲.

[4] - بقره , ایت 152.

تفسیر سعدي د (**وَاشْكُرُوا لِي**) کلمې په تفسیر کې لیکې : کوم نعمتونه چې د الله تعالی له طرفه بندګانو ته ورکړل شوی دي ، بندګان باید د هغو نعمتونو په بدله کې د الله تعالی شکر اداء کړي او شکر اداء کول په زړه سره کیږي چې یو سړی د زړه له کومې په هغو باندې اقرار وکړي او د الله تعالی حمد او ثناء په ژبه باندې ووایې او دخپل بدن په غړو باندې د الله تعالی د اوامرو اطاعت وکړي او له کومو شیونو څخه چې یو انسان منع شوی له هغو څخه اجتناب وکړي چې دداسې شکر اداء کولو په صورت کې موجوده نعمتونه په خپل ځای پاتې کیږي او هغه نعمتونه چې د الله تعالی له طرفه یو بنده ته نه دي ورکړل شوی هغه ورکول کیږي[1].

نو دحلال مال لاسته راوړل د مال او دهغه شکرانګې د زړه له صدقه د مال دزیاتوالي سبب ګرځي.

## دویم مطلب: د حلال مال لاسته راوړلو پایلې په اخرت کې

هر هغه څوک چې په دنیا کې حلال مال لاسته راوړي او له حرام مال څخه ځان ساتي او بیا همدا حلال مال د الله تعالی په لار کې مصرفوي الله تعالی ( جل شأنه) نوموړي شخص ته په اخرت کې اجر ورکوي لکه څنګه چې الله تعالی په قران عظیم الشأن کې فرمایي (**الَّذِينَ يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ سِرًّا وَعَلَانِيَةً فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ**)[2].

ترجمه: او هغه کسان مصرفوي مالونه خپل ( د الله تعالی په لار کې ) په شپه او په ورځ کې په پټه او په ښکاره پس ( شته ) دوی ته اجر ( ثواب ) د دوی په نزد د رب د دوی ، او نشته ( هیڅ ډول ( طریقه) ) ویره په دوی باندې او نه به دوی هیڅکله غمجن کیږي ( د ثواب په نقصان سره ) .

په دی ایت شریف کې الله تعالی ( جل شأنه) دا بیانوي چې هر هغه څوک د حلال مال څخه د هغه د الله تعالی په لار کې صدقه کوي که هغه شپه وي که ورځ وي ، په پټه سره وي او که په ښکاره سره د همدغو اشخاصو لپاره د الله تعالی له لوري ډیر اجر دی چې هیڅکله به په دوی باندې ویره نه وي ( نه په دنیا کې او نه په اخرت کې ) او هیڅکله به دوی غمجن نه شي[3]

له ایت شریف څخه په واضح ډول معلومیږي چې د حلال مال مال مصروفول د لوی اجر د لوی اجر د لاسته راوړلو باعث ګرځي ځکه که چیرته څوک حرام مال د الله تعالی په لار کې مصرفوې دهغه شخص لپاره د الله تعالی په نزد باندې هیڅ اجر نشته .

همدارنګه تفسیر سعدي په دی هکله لیکې: هر هغه څوک چې هغه خپل مال د الله تعالی د رضایت په خاطر او د هغه ( الله تعالی جل شأنه) د اوامرو د اطاعت په خاطر د هغه په لار کې مصرفوي ، او

---

[1] - تیسیر الکریم الرحمن فی تفسیر کلام المنان ، ج۱، ص ۷۴.
[2] - بقره , ایت 274.
[3] - تفسیر الواضح ، ج۱، ص ۲۸۸.

خپل مال د محرماتو ، مکروهاتو ، او شهواتو په پوره کولو کې نه مصرفوي دده سرې لپاره د الله تعالی په نزد باندې ډیر لوی اجر دی چې هیڅکله به نوموړی شخص غمګین نه شي[1].

د یادوني وړ دی چې که چیرته یو څوک د الله تعالی په لار کې دخپل حلال مال څخه صدقه کوي باید هغه اداب چې دصدقې په هکله قران عظیم الشأن بیان کړي دي په نظر کې ونیسي چې کچیرته د صدقې د ورکړې په وخت کې هغه اداب په نظر کې ونه نیول شي داسې صدقه د الله تعالی په وړاندې د قبول وړ نه ده ، الله تعالی فرمایې: (**مَثَلُ الَّذِينَ يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ أَنْبَتَتْ سَبْعَ سَنَابِلَ فِي كُلِّ سُنْبُلَةٍ مِائَةُ حَبَّةٍ وَاللَّهُ يُضَاعِفُ لِمَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ (261) الَّذِينَ يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ثُمَّ لَا يُتْبِعُونَ مَا أَنْفَقُوا مَنًّا وَلَا أَذًى لَهُمْ أَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ (262) قَوْلٌ مَعْرُوفٌ وَمَغْفِرَةٌ خَيْرٌ مِنْ صَدَقَةٍ يَتْبَعُهَا أَذًى وَاللَّهُ غَنِيٌّ حَلِيمٌ (263) يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُبْطِلُوا صَدَقَاتِكُمْ بِالْمَنِّ وَالْأَذَى كَالَّذِي يُنْفِقُ مَالَهُ رِئَاءَ النَّاسِ وَلَا يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَمَثَلُهُ كَمَثَلِ صَفْوَانٍ عَلَيْهِ تُرَابٌ فَأَصَابَهُ وَابِلٌ فَتَرَكَهُ صَلْدًا لَا يَقْدِرُونَ عَلَى شَيْءٍ مِمَّا كَسَبُوا وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ**)[2].

ترجمه: مثال ( صفت د صدقې او ورکړې) د هغه کسانو چې مصرفوې مالونه خپل په لاره د الله کې په مثل د يوې دانې ( د تخم) دي چې زرغونه کړې دا ( دانه ) اوه وږې په هر يوه وږې کې سل ( سل ) دانې وي او الله زیاتوي ( اجر ) دپاره د هغه چا چې اراد ه وکړي ( اجر د زیاتولو) او الله پراخ دی ( فضل ، احسان او رحمت دده ) ښه عالم دی ( په ټولو احوالو).

هغه کسان چې مصرفوې مالونه خپل په لاره د الله کې بیا نه ورپسې کوي ( دوی ) په هغه شي پسې چې خیرات کړې يې وي ( بارول د ) احسان او نه ( رسونه د ) ضرر ( شته ) د پاره د دوی اجر ( دنفقې ثواب) د دوی په نزد د رب ددوی او نه به وې هیڅ ډول ( طریقه ) ویره په دوی باندی او نه به وی ( هیڅکله ) غمجن کیږی ( د ثواب په نقصان سره ) .

خبره معروفه نیکه ( خوږه پسته فقیر ته ) او عفوه ( ده ته که الحاح یا شور وکړې) ډیره ښه ده له خیراته چې په هغه پسې وي ضرر ( رسونه په منت یا په پیغور د سوال سره ) او الله غني دی ( بې پروا له هر چا او هر شي ) نهایت تحمل ولا ( دعذاب په وروستوالي د پښیمانتیا له پاره).

ای هغو کسانو ! چې ایمان مو راوړی دی ( ای مؤمنانو) مه باطلوی تاسې خیراتونه خپل ( مه ضایع کوئ ثوابونه يې ) په احسان بارولو او ضرر رسولو سره په شان ( د ابطال د ثواب د انفاق ) دهغه ( سړې ) چې صرفوې مال خپل د پاره د ښودنې دخلکو او ایمان نه لرې په الله او په ورځې د اخرت باندې ، نو مثال ددې ( ریا کار په مصرفولو د مال کې ) په شان د صفت د هغې ښويې تيږی دی چې

[1] - تفسیر الکریم الرحمن فی تفسیر کلام المنان ، ج۱، ص۱۱۶.
[2] - بقره , ایت (261- 264).

پرته وي په هغې باندې څه خاورې پس ورسيږي هغه ته زورور باران نو پريږدي دغه تيږه پاکه نه به قادريږي ( دا ريا کار ) په هيڅ شي باندې له ثوابه د هغه شي چې کسب کړی دی دوی ، او الله نه بنيي ( سمه صافه لاره د خير او ارشاد) قوم کافرانو ته ( په سبب د ظلم د دوی په خپلو نفسونو).

پورتنې ايتونه د قران عظيم الشأن دا بيانوې چې : ۱- د الله تعالی په لار کې د مال مصرفول چې منت او اذيت ور سره نه وي د الله تعالی ( جل شأنه) د رضايت سبب گرځي لکه څنگه چې رسول الله ( صلی الله عليه وسلم ) له عثمان ابن عفان ( رضی الله تعالی عنه) څخه چې کله يې د تبوک غزا لپاره لښکر په وسلو او نورو څيزونو سمبال کړ خوشحاله شو او ويې فرمايل( **«مَا ضَرَّ عُثْمَانَ مَا عَمِلَ بَعْدَ الْيَوْمِ مَرَّتَيْنِ»**[1]

ترجمه : تر دی وروسته هيڅ شی عثمان ته ضرر نه شي رسولای که هغه هر څه وکړي او دا خبره يې دوه ځله وکړه.

۲- منت د کبيره گناهونو له جملې څخه دی ځکه نبي کريم ( صلی الله عليه وسلم) فرمايي (**عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَةٌ لَا يَنْظُرُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ إِلَيْهِمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ الْعَاقُّ لِوَالِدَيْهِ وَالْمَرْأَةُ الْمُتَرَجِّلَةُ وَالدَّيُّوثُ وَثَلَاثَةٌ لَا يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ الْعَاقُّ لِوَالِدَيْهِ وَالْمُدْمِنُ عَلَى الْخَمْرِ وَالْمَنَّانُ بِمَا أَعْطَى)**[2].

ترجمه : سالم بن عبد الله له خپل پلار څخه روايت کوي هغه وايي چې رسول الله ( صلی الله عليه وسلم) وفرمايل : درې کسان دي چې د قيامت په ورځ به ورته الله تعالی نه گوري ، د مور او پلار عاق شوی اولاد او هغه ښځه چې ځان د نارينه وو په شکل جوړوي ، دوُث او درې کسان به جنت ته هم داخل نه شي ، د مور او پلار عاق شوی کس ، د شرابو معتاد او هغه څوک چې صدقه ورکوي خو منت هم ور سره کوي.

يعنې هغه څوک چې له حلال مال څخه صدقه کوي خو صدقه يې له منت سره وي حتې داسې صدقه هم د الله تعالی په وړاندې د قبول وړ نده .

۳- د الله تعالی په لار کې د مال مصرفولو ثواب په درې شيونو کې خلاصه کيږي : الف: د الله تعالی له طرفه د اجر تضمين . ب: د صدقې کوونکي څخه د ويرې لرې والی . ج: د انفاق کوونکې څخه د غم او درد لرې والی الله تعالی فرمايي (**لَهُمْ أَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ)**[3]

[1] - سنن ترمذي،ج۵، ص ۶۲۶،دحديث نمبر :۳۷۰۱، ترمذي ورته حسن ويلی .
[2] - سنن النسايي ، ج۵، ص۸۴ ، دحديث نمبر ۲۵۶۱.الباني په صحيح و ضعيف سنن نسايي کي ورته حسن صحيح ويلی دی ، وگوره : صحيح و ضعيف سنن النسايي ، ج۶، ص ۲۰۶.
[3]- بقره ، ايت ۲۶۳.

ترجمه : د الله تعالی له طرفه دوی ته اجر شته ، په دوی باندې هيڅ ويره نشته ، او هيڅکله به دوی غمجن نه شي.

۴- ښه خبره کول يو چا ته له هغې صدقې څخه چې منت ، ازار او اذيت ورسره مل وي بهتره ده ځکه الله تعالی فرمايي **(قَوْلٌ مَعْرُوفٌ وَمَغْفِرَةٌ خَيْرٌ مِنْ صَدَقَةٍ يَتْبَعُهَا أَذًى وَاللَّهُ غَنِيٌّ حَلِيمٌ)**[1].

ترجمه : خبره معروفه نيکه ( خوږه پسته فقير ته ) او عفوه ( ده ته که الحاح يا شور وکړي) ډيره ښه ده له خيراته چې په هغه پسې وي ضرر ( رسونه په منت يا په پيغور د سوال سره ) او الله غني دی ( بې پروا له هر چا او هر شي ) نهايت تحمل ولا ( دعذاب په وروستوالي د پښيمانتيا له پاره).

همدارنګه نبي کريم ( صلی الله عليه وسلم) په حديث شريف کې فرمايي :**عن أبو هريرة عن النبي صلى الله عليه و سلم ( الكلمة الطيبة صدقة )**[2].

ترجمه : ابوهريرة ( رضی الله تعالی عنه ) له نبي کريم ( صلی الله عليه وسلم ) څخه روايت کوي وايي نبي کريم ( صلی الله عليه وسلم) وفرمايل ښه خبره کول صدقه ده.

۵- منت ، ازار او اذيت د صدقې د بطلان سبب ګرځي ، الله تعالی فرمايي () **يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُبْطِلُوا صَدَقَاتِكُمْ بِالْمَنِّ وَالْأَذَى كَالَّذِي يُنْفِقُ مَالَهُ رِئَاءَ النَّاسِ وَلَا يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَمَثَلُهُ كَمَثَلِ صَفْوَانٍ عَلَيْهِ تُرَابٌ فَأَصَابَهُ وَابِلٌ فَتَرَكَهُ صَلْدًا لَا يَقْدِرُونَ عَلَى شَيْءٍ مِمَّا كَسَبُوا وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ**)[3]

ترجمه: ای هغو کسانو ! چې ايمان مو راوړی دی ( ای مؤمنانو) مه باطلوی تاسې خيراتونه خپل ( مه ضايع کوئ ثوابونه يې ) په احسان بارولو او ضرر رسولو سره په شان ( د ابطال د ثواب د انفاق ) دهغه ( سړې ) چې صرفوې مال خپل د پاره د ښودنې دخلکو او ايمان نه لري په الله او په ورځې د اخرت باندې ، نو مثال ددې ( ريا کار په مصرفولو د مال کې ) په شان د صفت د هغې ښويې تيږی دی چې پرته وي په هغې باندې څه خاورې پس ورسيږې هغه ته زورور باران نو پريږدي دغه تيږه پاکه نه به قادريږي ( دا ريا کار ) په هيڅ شي باندې له ثوابه د هغه شي چې کسب کړی دی دوی ، او الله نه ښيي ( سمه صافه لاره د خير او ارشاد) قوم کافرانو ته ( په سبب د ظلم د دوی په خپلو نفسونو).

له پورتني اوږد بحث او دلايلوڅخه دا نتيجه په لاس راځي چې که چيرته يو څوک د حلال مال څخه صدقه ورکړي خو چې تر شا يې منت ، ازار او اذيت وي داسې صدقه د الله تعالی په وړاندې د قبول وړنه ده ، يواځې هغه صدقه د الله تعالی په وړاندې د قبول وړ ده چې د حلال مال څخه شوی وي او

[1] - بقره ، ايت ۲۶۳.
[2] - بخاري ، ج۵، ص ۲۲۴۱.
[3] - بقره ، ايت ۲۶۴.

تر څنګ یې په ورکړه کې هغه اداب په نظر کې نیول شوي وي کوم چې قران عظیم الشأن بیان کړې دي چې پایله به یې لوی اجر او جنت ته داخلیدل وي.

## دویم مبحث: دحرام مال لاسته راوړلو پایلی

### لومړی مطلب: دحرام مال لاسته راوړلو پایلې په دنیا کې

### دویم مطلب: دحرام مال لاسته راوړلو پایلې په اخرت کې

## لومړی مطلب: دحرام مال د لاسته راوړلو پایلې په دنیا کې

تمهید : هر هغه څوک چې په دنیا کې حرام مال لاسته راوړي او د مال په لاسته راوړلو کې الهي لاربښونې نه تعقیبوي او په هغه څه عمل نه کوي کوم چې پیغمبر ( صلی الله علیه وسلم) مونږ ته ښودلي نو په خپل مال کې به:

۱- برکت له لاسه ورکوي ځکه الله تعالی فرمایې (**يَمْحَقُ اللَّهُ الرِّبَا وَيُرْبِي الصَّدَقَاتِ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ أَثِيمٍ**)[1].

ترجمه: له منځه وړي الله تعالی ( برکت د) سود او زیاتوي ( ثواب د) خیراتونو او الله دوستي نه کوي له هر سخت کافر ګنهګار سره ( بلکه دغه ناشکر د حرامو حلالوونکی معذبوي هم ) .

سود خوړل چې د حرام مال د لاسته راوړلو یوه لاره ده د مال برکت له مینځه وړي ، ابن عباس ( رضی الله تعالی عنه ) فرمایي : هر هغه څوک چې سود خوري او له د لارې مال لاسته راوړي هیڅکله هم الله تعالی ( جل شأنه) د داسې شخص صدقه ، حج ، جهاد او صله رحمي نه قبلوي[2].

۲- هر هغه څوک چې له حرامې لارې څخه مال لاسته راوړي او بیا هغه خوري د هغه دعا نه قبلیږي ځکه نبي کریم ( صلی الله علیه وسلم) په یو حدیث کې چې له أبي هریرة ( رضی الله عنه) څخه روایت دی فرمایې (**عن أبى هريرة قال قال رسول الله -صلى الله عليه وسلم- « أيها الناس إن الله طيب لا يقبل إلا طيبا وإن الله أمر المؤمنين بما أمر به المرسلين فقال ( يا أيها الرسل كلوا من الطيبات واعملوا صالحا إنى بما تعملون عليم) وقال (يا أيها الذين آمنوا كلوا من طيبات ما رزقناكم) ». ثم ذكر الرجل يطيل السفر أشعث أغبر يمد يديه إلى السماء يا رب يا رب ومطعمه حرام ومشربه حرام وملبسه حرام وغذى بالحرام فأنى يستجاب لذلك**)[3].

ترجمه : ابو هریرة ( رضی الله عنه ) فرمایې چې رسول اکرم ( صلی الله علیه وسلم) وفرمایل : ای خلکو ! په حقیقت کې الله پاک دی او د پاکو څخه ماسوا بل څه نه قبلوي او الله مؤمنانو ته هم په هغه څه امر کړی دی په کوم څه چې یې رسولانو ته امر کړی دی ، الله پاک فرمایلي دي ای رسولانو د پاکو شیونو څخه خوراک کوی او صالح عملونه وکړئ زه ستاسو په کړنو پوره خبر یم ، همداسې فرمایلي دي : ای مؤمنانو د هغو پاکو شیونو څخه خوراک کوی چې مونږ په رزق در کړې دي وروسته یې یو کس یادونه وکړه چې په اوږده سفر لاړ شي سر یې ببر او په دوړو وي خپل لاسونه د اسمان خواته ( د دعا په نیت ) اوږده کړي او ووایي : ای ربه ! په داسې حال چې خوراک یې حرام

[1] - بقره , ایت 276.
[2] - تفسیر الوسیط ، ج۱، ص۶۳۱.
[3] - صحیح مسلم , ج3, ص 85, د حدیث نمبر۲۳۹۳.

وي ، ځښاک یې حرام وي ، لباس یې وي او په حرامو تغذیه شوی وي نو څنګه به ددغسې شخص دعا قبوله شي ؟

۳- هر هغه څوک چې حرام مال لاسته راوړي او هغه خوري هیڅ نیک عمل یې د الله په وړاندې د قبول وړ نه دی لکه لمونځ ، صدقه ، حج عمرة ، جهاد او داسې نور ځکه نبې کریم ( صلی الله علیه وسلم) په حدیث شریف فرمایې (**عن أنس بن مالك قال سمعت رسول الله صلى الله عليه و سلم يقول ( لا يقبل الله صلاة بغير طهور ولا صدقة من غلول )** [1].

ترجمه : حدیث له انس بن مالک څخه روایت دی هغه وایې له رسول الله ( صلی الله علیه وسلم) څخه مې واوریدل چې هغه وویل : الله تعالی نه قبلوي هیڅ لمونځ بغیر د پاکۍ ( اوداسه) څخه او هیڅ صدقه د غنیمت څخه له غلا شوی مال څخه .

همدارنګه نبې کریم ( صلی الله علیه وسلم ) د حج او عمری په باره کې فرمایې (**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا خَرَجَ الرَّجُلُ حَاجًّا بِنَفَقَةٍ طَيِّبَةٍ، وَوَضَعَ رِجْلَهُ فِي الْغَرْزِ، فَنَادَى: لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ، نَادَاهُ مُنَادٍ مِنَ السَّمَاءِ: لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ، زَادُكَ حَلَالٌ، وَرَاحِلَتُكَ حَلَالٌ، وَحَجُّكَ مَبْرُورٌ غَيْرُ مَأْزُورٍ، وَإِذَا خَرَجَ بِالنَّفَقَةِ الْخَبِيثَةِ، فَوَضَعَ رِجْلَهُ فِي الْغَرْزِ، فَنَادَى: لَبَّيْكَ، نَادَاهُ مُنَادٍ مِنَ السَّمَاءِ: لَا لَبَّيْكَ وَلَا سَعْدَيْكَ، زَادُكَ حَرَامٌ وَنَفَقَتُكَ حَرَامٌ، وَحَجُّكَ غَيْرُ مَبْرُورٍ)**[2]

ترجمه : د ابو هریرة ( رضی الله عنه ) څخه روایت دی چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي :کله چې یو سړی د پاک او حلال مال په وسیله د حج په نیت ووځي ، پښه د سورلۍ په رکاب کیږدي او تلبیه ( لبیک اللهم لبیک...) ویل پیل کړي د اسمان له لوري یو اواز کوونکی ور ته اواز کوي چې : خدمت او حاضري د قبوله ده ، ځکه چې توښه دی حلاله او سورلي دی حلاله او حج دی قبول دی.

او کله چې د ناپاک مال په لرلو سره ووځې او په سپرلۍ سپور شي تلبیه ویل پیل کړي ، د اسمان له لوري ورته یو اواز کوونکی اواز کوي چې خدمت او حاضري د قبول وړ ندی ځکه چې د سفر توښه دی حرامه ده او حج د هم د قبول وړ ندی.

همدارنګه د جهاد په باره کې فرمایې : (**مَوْلَى ابْنِ مُطِيعٍ، أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، يَقُولُ: افْتَتَحْنَا خَيْبَرَ، وَلَمْ نَغْنَمْ ذَهَبًا وَلاَ فِضَّةً، إِنَّمَا غَنِمْنَا البَقَرَ وَالإِبِلَ وَالمَتَاعَ وَالحَوَائِطَ، ثُمَّ انْصَرَفْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى وَادِي القُرَى، وَمَعَهُ عَبْدٌ لَهُ يُقَالُ لَهُ مِدْعَمٌ، أَهْدَاهُ لَهُ أَحَدُ بَنِي الضِّبَابِ، فَبَيْنَمَا هُوَ يَحُطُّ رَحْلَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ جَاءَهُ سَهْمٌ عَائِرٌ، حَتَّى أَصَابَ ذَلِكَ**

---

[1] - سنن ابن ماجه , ج1, ص 100, د حدیث نمبر ۲۷۳. الباني ورته صحیح ویلی . وګوره : صحیح و ضعیف ابن ماجه ، ج۱ ،ص ۳۴۶.

[2] - طبرانی ، سليمان بن أحمد بن مطير ، المعجم الأوسط ، تحقیق : طارق بن عوض الله ، چاپ ځای : دار الحرمين – القاهرة، دټوکونو شمیر ۱۰ ، د ټوک ګڼه ۵، د پاڼې ګڼه ۲۵۱، دحدیث نمبر ۵۲۲۸. الباني ورته ضعیف ویلی دی . وګوره : ضعیف ترغیب والترهیب ، ج۱ ، ص ۳۵۲، د حدیث نمبر ۷۰۹.

**العَبْدَ، فَقَالَ النَّاسُ: هَنِيئًا لَهُ الشَّهَادَةُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «بَلْ، وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، إِنَّ الشَّمْلَةَ الَّتِي أَصَابَهَا يَوْمَ خَيْبَرَ مِنَ المَغَانِمِ، لَمْ تُصِبْهَا المَقَاسِمُ، لَتَشْتَعِلُ عَلَيْهِ نَارًا)**[1].

ترجمه : ابو هريرة (رضی الله عنه ) فرمايي : خيبر مو فتح کړ ولې په غنيمت کې مو سره او سپين بلکه غواګانې ، اوښان ، سامانونه او باغونه تر لاسه کړل ، بيا د رسول الله ( صلی الله عليه وسلم ) ېّه ملتيا د قرى درى په لور راوخوځيدو ( په دی سفر کی ) د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د مدعم په نوم يو مريې چې د خباب له قبيلې څخه ورته چا ډالې کړی وو هم موجود وو هغه د رسول الله (صلی الله عليه وسلم ) سپرلې سمبالوله چې د کوم لورې ناڅاپه يو ړوند غشی راغې او نوموړی مريی وربانډې ولګيد ( ومړ) خلکو نارې کړې چې شهادت د ورته مبارک وې ، په دی وخت کې رسول الله ( صلی الله عليه وسلم) وفرمايل : نه په هغه ذات د زما قسم وي چې زما روح يې په واک کې دی ، هغه کمپله چې د خيبر په ورځ د غنيمت د ويشلو څخه مخکې ده تر لاسه کړی وه ( پټه کړی وه ) هغه وربانډې او ګرځيدلې ( او دی په کې سوزي) .

۴- حرام مال زړه فاسدوي الله تعالی په قران عظيم الشأن کې فرمايي (**الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الرَّسُولَ النَّبِيَّ الْأُمِّيَّ الَّذِي يَجِدُونَهُ مَكْتُوبًا عِنْدَهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنْجِيلِ يَأْمُرُهُمْ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَاهُمْ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبَاتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَائِثَ وَيَضَعُ عَنْهُمْ إِصْرَهُمْ وَالْأَغْلَالَ الَّتِي كَانَتْ عَلَيْهِمْ فَالَّذِينَ آمَنُوا بِهِ وَعَزَّرُوهُ وَنَصَرُوهُ وَاتَّبَعُوا النُّورَ الَّذِي أُنْزِلَ مَعَهُ أُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ**)[2].

ترجمه : ( دا متقيان مؤمنان چې مقرر دی دوی ته رحمت ) هغه کسان دي چې متابعت کوي دوی د ( دين د ) هغه رسول چې نبي امی دی هغه رسول چې مومې دوی ( نوم او صفت د ) ده ليکلې شوی په نزد د دوی په تورات او ( په ) انجيل کې ( هغه رسول چې حکم) امر کوی دوی ته په معروف ( نيکې ) سره او منع کوی دوی له منکر ( بدی ) څخه او حلالوی دوی ته ګرد ( ټول ) طيبات ( پاک شيونه چې حرام کړی شوې وو پر دوی باندې ) او حراموي پر دوی باندې خبيث ( پليت) شيان او لرې کوي له دوی څخه درانه بارونه د دوی او قيدونه د سختيو هغه چې وو پر دوی پس هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی په دغه ( محمد صلی الله عليه وسلم ) سره او عزت ( تعظيم رفاقت ) کوی د هغه نور ( رڼا) چې نازله کړی شوی ده سره له ( متابعته د ) دغه ( محمد صلی الله عليه وسلم ) نو دغه ( ستايلی شوی کسان ) هم دوی دي په مراد رسيدلي .

[1] - بخاري، ج۵، ص ۱۳۸.
[2] - الاعراف , ايت 157.

ابن کثیر ددې ایت په تفسیر کې فرمایي : هر هغه څه چې الله تعالی حلال کړي هغه پاک او بدن ته ګټه رسوي او هر هغه څه چې الله تعالی حرام کړې هغه مردار او بدن ته ضرر رسوي[1].

همدا وجه ده چې د زړه د پاکوالي او مردار والي تر منځ قوي رابطه موجوده ده چې د زړه پاکوالي او مردار والی د انسان په خوراک پوري تړلي دي نبي کریم ( صلی الله علیه وسلم ) فرمایي (**عن عامر قال سمعت النعمان بن بشير يقول سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول الحلال بين والحرام بين وبينهما مشبهات لا يعلمها كثير من الناس فمن اتقى المشبهات استبرأ لدينه وعرضه ومن وقع في الشبهات كراع يرعى حول الحمى يوشك أن يواقعه ألا وإن لكل ملك حمى ألا إن حمى الله في أرضه محارمه ألا وإن في الجسد مضغة إذا صلحت صلح الجسد كله وإذا فسدت فسد الجسد كله ألا وهي القلب**)[2].

ترجمه : نعمان بن بشیر ( رضی الله عنه وایي ) : ما د رسول الله (صلی الله علیه وسلم ) څخه واوریدل چې داسې يې فرمایل : حلال او حرام دواړه څرګند او ښکاره دي ، او ددې دواړو تر منځ مشتبهات موجود دي چې ډیری خلک یې نه پیژني ، نو چا چې د مشتبهاتو څخه ځان وساته هغه خپل دین او عزت خوندي کړ ، او څوک چې په مشتبهاتو کې اخته شو ددې مثال داسې دی یو شپون چې د خوندي او محفوظ ځای شا او خوا رمه څروي ، نږدې ده چې رمه یې هغه محفوظ ځای ته ورګډه شي خبر اوسې : چې هر پادشاه یو ځانګړی خوندې ځای لرې او د ځمکې په سر د الله تعالی محفوظ او خوندې ځایونه د هغه محارم دي ، خبر اوسئ: په بدن کې یوه ټوټه داسې ده چې کله روغه وي ټول بدن ورسره روغ وي ، او کله چې فاسده او خرابه شی ټول بدن ورسره خرابیږي ، خبر اوسئ: چې هغه زړه دی .

۵- غلا چې یو حرام عمل دی ، هر هغه څوک چې له دی لارې مال لاسته راوړي ، الله تعالی ورته دنیوې او اخروې جزا تعین کړې چې ددې عمل کوونکې د خپل عمل په سزا باندې رسیږې الله تعالی فرمایي (**وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوا أَيْدِيَهُمَا جَزَاءً بِمَا كَسَبَا نَكَالًا مِنَ اللَّهِ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ**)[3]

ترجمه : غل (نارینه) او غله( ښځه) نو پرې کړئ تاسې لاسونه د دوی ( دواړو ) لپاره د جزا د هغه عمل چې کړی دوی دواړو د تنبیه لپاره له جانبه د الله ، او الله ډیر قوي دی ( غالب په انفاذ د احکامو ) ښه حکمت ولا ( چې هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوي ).

تفسیر الخازن د (**وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا أَنْ يُقَتَّلُوا أَوْ يُصَلَّبُوا أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُمْ مِنْ خِلَافٍ أَوْ يُنْفَوْا مِنَ الْأَرْضِ**) په تفسیر کې لیکي : په ځمکه کې فساد عبارت ده له د سلاح په غاړه کې

---

